# اسلام پوهنه

(اسلام، ایمان، علم، شریعت، مذهب)

Ketabton.com

لیکوال:

**صوفی عبدالرحمن انقلابیون**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مومند خپرندویه ټولنه – جلال اباد، ننگرهار**

**مومند خپرندویه ټولنه، ننگرهار مارکېټ، پښتونستان واټ، جلال آباد – ننگرهار**

**Momand.books@gmail.com.com – fb.com/momand626161**

**۰۷۸۱٦۲٦۲٦۱٦۱ - ۰۷۰۰٦۲٦۱٦۱ – ۰۷۷۷٦۲٦۱٦۱**

# د کتاب ځانگړنې:

**د کتاب نوم:** اسلام پوهنه

**لیکوال:** صوفی عبدالرحمن انقلابیون

**کمپوز چارې:** پخپله لیکوال

**ډیزاین چارې:** ایملیار ساجد

**چاپ کال:** ۱۳۹۷ل – ۲۰۱۸م

**چاپ وار:** لومړی

**د چاپ شمېر:** زر ټوکه (۱۰۰۰)

**د چاپ حقوق له خپرندوی ټولنې سره خوندي دي.**

**کابل:** اصلاح افکار ، دارالسلام، مستقبل، پکتوس، اکسوس او سروش کتابپلورنځی.

**پکتیکا:** مجاهد او آریانا کتابپلورنځی.

**کندهار:** امیر کروړ، افغان او عرفان کتابپلورنځی.

**خوست:** غرغښت، رحیمي، سباوون، ژوندون، ابدالي، لېوال، غازي او شېخ زید کتابپلورنځی

**هلمند:** سید جمال الدین او تاج منور کتابپلورنځی .

**پکتیا:** علمي او روحاني بابا کتابپلورنځی.

**غزني:** قیومي کتابپلورنځی.

**لغمان:** یونس کتابپلورنځی.

**مزار شریف:** ثقافت کتابپلورنځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

مومند
خپرندویه ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**د اسلام د سپېڅلی لار، سپېڅلو لارویانو ته!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دارالافتاء والارشاد

مدرسه دارالقراء محمدیه جامع مسجد شیخ محمد حسین علینگار نیازی

## استفتاء

۱۳۹۷/۱/۲۱

- باسمه تعالی -

الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره ونصلی ونسلم علی رسوله الکریم. وبعد. ما د ګران ورور صوفي عبدالرحمن "انقلابیون" نومې اثر د اسلام د رڼا تر عنوان لاندې ځای په ځای وکاته. ماشاء الله، ښه اثر په زړه پورې بریښنې د اسلام او ایمان په اړه معلوماتي کتاب دی. لیکوال ډېر زحمت ګاللی. پروردګار دې ورته سعی او کوشش قبول کړي. او په دین مبین کې دې ورته ترقي نصیب کړي.

آمین

بنده عبدالرحمن حقاني

خادم دارالافتاء جامعه دارالقرآء محمدیه
جامع مسجد شیخ محمد حسین الینګار نیازي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ليکوال سريـزه

الحمدالله الـذی احيا قـلـوب العلماء و نحاهم من العمی، بلـلعـلوم التی بلغوا بها منازل الابرار والدرجات العلی، يذبون عن دينه بالسنة قاطعة و اقلام مانعة کالسيوف والـقـنا، والصلوة والسلام علی من بعث بالحنـيـفـيـة السمحاء و سنن الهدی من اتخذ هديه و کتابه اماما فلايضل ولايشقی، و علی اصحابه الذين لم يخافوا لومة ولاعدوا فی نشرالدين و ابلاغ الهدی.

په نړۍ کې هيڅ قوم له اعلی تعليم پرته پرمختګ نشي کولای، هر قوم ته د پرمختګ کولو لپاره د ماهرينو ضرورت دی، دا ماهرين د اعلی تعليم له حاصلولو وروسته ماهرين جوړ شوي، د قومونو په عروج او زوال کې د ماهرينو کردار بنيادي دی، له کوم قوم سره چې هر څومره ډېر ماهرين وي هغه قوم همره پرمختګ کولای شي.

د قومونو د پرمختګ د افرادو له پرمختګ سره دی، چې افراد پرمختګ کوي نو هيواد او قومونه هم پرمختګ کوي، البته حقيقت هم له چا څخه پټ ندی چې يواځې اعلی تعليم د برياليتوب ضمانت نشي کولای.

همدارنګه اسلام هم د اسلام پاللو، اسلام پوو، علماء، او اهل دين څخه غير پرمختګ نشي کولای. اسلام د پرمختګ لپاره وينا کوونکی او عمل کوونکو ته اړتيا لري، چې وينا کوونکی ( علماء) به د اسلام او د دين په اړه څيـړنې کوي او اسلام ته به په هره ټولنه پرمختګ ورکوي او عام خلک او ټولنوال به د وينا کوونکې په وينا عمل او عملي کوي يی به چې همدوې ته اهل دين ويل کيـږي.

اسلام پاک سپـيـڅـلې پوره د خير او ښيـګڼه دين ده.

ان الدين عندالله الاسلام

ژباړه: د الله تعالی په وړاندې دين همدا اسلام دی.

په بل ځای کې فرمايی. و من يبـتـغ غير الاسلام دينا فلـن يقـبل منه و هو فی الاخرة من الخاسرين

ژباړه: له اسلامه پرته چې هر څوک کوم بل دين طلب کړي هيـڅکله به د دوې څخه قبـول نشي او په اخرت کې به هغه ناکام او زيانمن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام داسې دین دی چې ثابت او ښکاره بنسټونه او قواعد لري باید په کامله او بشپړه توګه عملي شي. ټولې لارښونې او احکام یې ومنل شي په ټولنه کې طبیق شي مثبتې او ګټورې پایلې یې ښکاره شي.

هیڅ څوک حق نه لري چې له اسلام پرته بل دین ومنی. الله تعالی فرمایی. یا ایها الذین آمنوا ادخلوا فی السلم کافة

ژباړه: ای مومنانو تاسې په بشپړه توګه په اسلام کې داخل شي. او په بل ایت کې الله تعالی د هغو کسانو مذهب او بدي بیانوي څوک چې ځینی احکام مني او د ځینو له منلو څخه سرغړونه کوي داسې فرمایی. افتومنوا ببض الکتاب و تکفرون ببعض فما جزاءمن یفعل ذالک منکم الاخذی فی الحیاة دنیا و یوم القیامه یریدون اشدالعذاب.

ژباړه: ایا تاسې ځینی کتاب منی او له ځینو نورو څخه بیا انکار کوي نو د هغو خلکو جزا چې دا ډول کارونه کوي پرته له ده بل څه نه ده چې په دنیاوي ژوند کې به له رسوایی سره مخ وي او د قیامت په ورځ به خورا سخت عذاب په لور ور ویستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ

اسلام څه ته وايي؟ ........................................ ۱
د اسلام تعریف ........................................ ۱
د اسلام اجمالي پېژندنه........................................ ۲
اسلام یو بشپړ دین دی ........................................ ۳
اسلام بشپړ او هر اړخیز دین دی ........................................ ٤
اسلام د خواخوږۍ دین دی........................................ ٤
اسلام چې مونږ پرې ایمان لرو ........................................ ۷
د اسلام کړنې ........................................ ۹
د اسلام عمده ځانګړتیاوې ........................................ ۹
د اسلام موقف ........................................ ۱۲
د اسلام تربیوي او اجتماعي تګلاره ........................................ ۱۳
د اسلام اساسي تګلاره........................................ ۱۳
اسلام د ژوند مکمل نظام دی........................................ ۱٦
اسلام د ژوند د ټولو برخو یو شامل نظام دی........................................ ۱۷
د اسلام قضايي نظام ........................................ ۱۸
اسلام او حقوق........................................ ۱۹
اسلام او د عقل ازادي ........................................ ۲۰
اسلام عدالت دی........................................ ۲۱
اسلام تفاهم غواړي ........................................ ۲۲
اسلام بیلوالی نه مني........................................ ۲۵
اسلام عقیده او شریعت قانون دی........................................ ۲٦
هغه کارونه چې اسلام پرې ولاړ دی ........................................ ۲۷
اسلام په ظاهر او باطن کې بېلابېل منل........................................ ۲۸
د اسلام په وړاندې د دښمنانو ناسم او بې انصافه قضاوت........................................ ۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام دښمن څوک دی ........................ ۳۰
وايي اسلام له منځه يوسئ ........................ ۳۲
د جهاد پايله ........................ ۳۷
د ايمان تعريف........................ ۳۸
د ايمان اصلي تعريف ........................ ۳۹
د ايمان حقيقت........................ ۴۰
د ايمان بنسټ ........................ ۴۱
ايمان لويه درملنه ده........................ ۴۳
اسلام او ايمان........................ ۴۹
د اسلام او ايمان ترمنځ توپير ........................ ۵۰
علم، علم او ايمان ........................ ۵۱
د علم مفهوم........................ ۵۲
علم او عقيده ........................ ۵۴
قرانکريم او نور علوم........................ ۵۵
شريعت څه ته وايي؟........................ ۵۶
ښکلې شريعت ........................ ۵۷
اسانه شريعت........................ ۵۸
شريعت پر مصلحت بناء دی ........................ ۶۰
قرانکريم او شريعت........................ ۶۱
د شريعت ۵ پنځه موخې ........................ ۶۲
مذهب څه ته وايي؟........................ ۶۳
قرانکريم ........................ ۶۵
د قرانکريم تعريف ........................ ۶۶
قرانکريم او کاينات ........................ ۷۰
د الله تعالی د پېژندې وسايل ........................ ۷۴
څوک چې د الله تعالی څخه و ويريده هغه کامياب شوه ........................ ۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ملایکو پېژندنه ........................................ ۸۷
د ملایکې یو څو ډولونه........................................ ۸۹
د وحې راوړلو ملایکې ........................................ ۹۰
پیریان........................................ ۹٤
د ابلیس (شیطان) معنی........................................ ۹۵
د نفس پېژندنه ........................................ ۹۷
د پیغمبر پېژندنه ........................................ ۹۹
انبیا (ع) معصوم دی........................................ ۱۰۱
د الو العزمه پیغمبرانو شمیر ........................................ ۱۰۲
د مومن طبعیت........................................ ۱۰٤
د مومن مقام او مرتبه ........................................ ۱۰۵
مومن دروغجن کېدای نشي ........................................ ۱۰٦
د دوه مسلمانانو په منځ کې سوله ........................................ ۱۱۱
د کفر پېژندنه او د هغه اړوند احکام ........................................ ۱۱۷
کفر ........................................ ۱۱۸
په خبرو اترو کې کفري توري ........................................ ۱۲۱
د زندیق پېژندنه او د هغه اړوند احکام........................................ ۱۲۵
د شرک یو څو ډولونه ........................................ ۱۳۱
عام گناهونه ........................................ ۱۳٦
د گناهونو ناوړه پایلې ........................................ ۱۳۷
دین څه ته وایي ........................................ ۱٤۱
رښتنی دین........................................ ۱٤۲
عملي دین پریښودل ........................................ ۱٤٤
د کار ویش........................................ ۱٤٦
مسلمانان او کار کول ........................................ ۱٤۸
اخځلیکونه ........................................ ۱۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام څه ته وايي؟

زمونږ د عـقيدې مطابق اسلام دداسې کوم دين نوم نه دی چې دلومړي ځل لپاره حضرت محمد (ص) نړۍ ته وړاندې کړی وي چې له امله يې نومونږي ته ددغه دين بنسټګر وويل شي. ځکه قرانکريم داپه ډاګه کړې چې الله تعالی هروخت دانسانانو دلار ښوونې لپاره دژوند تيرولو يوه طريقه راليـږلې ده چې هغه اسلام دی.معنا يې دالله تعالی پر وړاندې خپل سر ښکـته کول اوهغه ته تسليمېدل دي. د نړۍ په هره برخه کې چې کوم پيغمبران دالله ( تعالی له خوا راليـږل شوي وو هغوی دخپلوجدا دينونو بنسټ ايښودونکي نه وه چې له امله يې دچا دين ته نوحيت دچا دين آبراهميت موسيت اومسيحت وويل شي بلکې هر راتلونکي پيغمبر هغه دين خپل ملت ته وړاندې کړی دی کوم دين چې مخکې راتلونکو پيغمبرانو خپلو ملتونو ته وړاندې کړی ؤ.

## داسلام تعريف

اسلام په لغـت کې غاړه ايښودلواوتسليميدلوته وايي.اوپه اصطلاح کې په ډيرو معنا ګانو سره راځي چې يوشميريې په لاندې ډول دي:

د جبرائيل(ع)په حد يث کې چې دې ته په احاد يثو کې ام السنة حديث وايي لکه څنګه چې سورت فاتحی ته ام الکتاب وايي نو په دی حديث کې جبرئيل(ع)ديو بانډچي په شکل کې راغی چې په حاضرمجلس کې هيچا هم نه پيـژنده او بيا ورسره څه پوښتنې وی لو مړی پوښتـنه يې د اسلام په اړه وکړه چې اسلام څه ته وايي؟ نو رسول الله (ص)ورته په ځواب کې وفرما يل( الاسلام ان تشهد ان لا اله الا الله وان محمدً رسول اللهِ وتُقيم الصلاةَ وتؤ تی الزکا ت وتصومَ رمضان وتحجُّ البيتِ ان استطعت اليه سبيلا )

ژباړه:اسلام دی ته وايی چې ته ګواهي ورکړې ددې خبرې چې نشته لايق دعبادت اومعبود برحق مګر يو الله تعالی دی او بيا ګواهي ورکول ددې خبرې چې محمد(ص)دالله رسول دی او بيا په عملي شکل باندې لمونځونه وکړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه زکات ورکړئ اودرمضان المبارک میاشتې روژې ونیسې او دلارې دتگ راتگ دتوان لرلو په صورت کې حج دبیت الله وکړې.

**۲تعریف:**اسلام عاجزۍ او تسلیمېدو او الله پاک ته په پوره معنا سره تسلیمیدل دي چې دغه تا بعداري د خپل اختیا ر پرته له کوم زور ځخه وي .

**۳تعریف:**اسلام دانسان دژوندانه لپاره یو بشپړ اوهر اړخیزنظام دی چې رسول الله(ص) دالله لخوا راوړی ده.

**۴تعریف:**اسلام دهغه نظام مجموعه ده چې الله تعالی په رسول الله (ص) نازل کړی وه چې هغه عبادات دی د شرعي احکاموځخه چې هغه عقاید عبادات معملات سیاست او همدارنگه قرانکریم کې دي او بیا د دې دعملي کولو امرالله تعالی کړی دی.

**۵تعریف:**اسلام دهغه نور او هدایت نوم دی چې الله تعالی یې دانسان په زړه کې ځای پرځای کوي او بیا دهغه به وجهه انسان پخپل ژوند کې په عملي شکل تغیر او بدلون راوړي او په اسلام باندې عمل کول دځان دنجات ذریعه او وسیله وگرځوئ.

## داسلام اجمالي پيژندنه

اسلام دالله تعالی وروستی غوره آسماني دین دی او قرانکریم یې کتاب او قانون دی چې د(۲۳)کالوپه اوږدو کې د حضرت جبرېل (ع) په واسطه دهغه په وروستی پیغمبرحضرت محمد (ص) باندې نازل شوی دی چې دځانگړو احکامو اصولو او قوانینو درلودونکې کتاب دی. له اسلام نه وروسته نړۍ ته نه کوم کتاب اونه کوم پیغمبر(ع) یا قوم راځي اسلام یو نړیوال دین دی. چې د کوم قلمرو سیاسي قومي یا نژادي پورې خاص نه دي اوراتلو سره یې دنړۍ ټول مورج مذهبونه باطل منسوخ اولغوه اعلان شول.داسلام دسپیڅلی دین په پیروي او اطاعت نه یوازې انسانان بلکې پیریان هم مکلف دي اسلام نه یوازې باطني عـقیده او دعبادت ځا نگړي مراسم دي لکه څرنگه چې داسلام دښمنان گومان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي بلکه اسلام د یو مکمل نظام نوم دی چې دژوندانه په ټولواړخونو یې احتواء کړی ده.

## اسلام یو بشپړ دین دی

که نن څوک عیسویت ومني او دعیسوي ټولنې غړی وګرځي په یهودي یا عیسوي هیواد کې استوګن شي نو په هغه کې به څه بد لون راشي؟

یو بدلون خو به پکې دا را شي چې هره یکشنبه به کلیسا ته ځي (عیسوي عبادت ځای ته ) ځي هلته عبادت کوي.

کوم نظام چې په سیاسي ډول خپلوي هغه خو انسانانو یاد غرب مفکرینو جوړ کړی دی ځکه چې دغه جمهوري نظام خو څه د عیسیَ (ع) نظام نه دی.

دهغوی اقتصاد چې پر سود ولاړ دی نه دعیسیَ (ع) دین دی اونه دالله تعالی نظام دی ځکه دا خو انسانانوجوړ کړی اوله عیسوي دین سره هیڅ اړیکه نه لري په ټولنیز ډول چې کوم ژوند خپلوي کوم دود دستور خپلوي نو هغه هم دعیسوي دین سره اړیکه نه لري د هغوی قوانین او رواجونه ټول دانسانانو له اړخونو جوړ شوي دي او که همداشان څوک دهندوانو دین خپلوي دهندوانو په بت خونو کې (بهجن) (دهندوانو مذهبي سرودونه)غږوي نو له هغې وروسته دهغوی ټولنیز ژوند اقتصادي عدالتي نظام قوانینو هم دهندوانو له دین سره یې هیڅ اړیکه نشته او دا هم دانسانانو لخوا جوړشوی نظام دی او همدا حال دنړی دټولو دینونودی چې له اسلام پرته بل هیڅ یو دین یا ټولنه بشپړ ټولنیز نظام نه لري چې دژوند ټول اړخونه پکې په بشپړه توګه رانغښتل شوي وي اوداسلام بلنه همداده که چیرې اسلام ومنې نو داسلام ټول نظام به منې لکه څرنګه چې الله تعالی په قرانکریم کې فرمایی (یایها الذین‌ءامنوا ادخلوفی السلم کاَ فّة ولا تتبعوا خطوات الشیطن انه لکم عدو مبین) :البقره سورت ایات ۲۰۸

ژباړه: ای ایمان لرونکو داخل شئ په اسلام کې ټول پوره او پیروي مه کوئ د قدمونو د شیطان بیشکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام بشپړ اوهراړخیزدین دی

قال الله تعالیٰ( الم تر الی الذین یزعمون انهم امنوا بما انزل الیک وما انزل من قبلک یریدون ان یتحاکموا الی الطاغوت وقد امروا ان یکفروا به ویرید الشیطان ان یضلهم ضلالًا بعدًا. واذاقیل لهم تعالوا الی ما أنزل الله والی الرسول رأیت المنافقین یصدون عنك صدودًا ) النساء ایت ٦٠-٦١

ژباړه:ایا تا هغو خلکوته نه دي کتلي چې گمان کوي چې مونږ ایمان راوړی دی په هغه کتاب چې په تا نازل شوی دی او په هغه کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي دي.هغوی غواړي چې خپلې چارې دفیصلې لپاره دطاغوت لوري ته یوسي.حال داچې هغو ته دطاغوت نه دمنکر یو حکم شوی وه.شیطان غواړي چې هغوی د سمې لارې نه ډیرلرې وباسي او کله چې هغوی ته وویل شي چې دالله تعالی نازل کلام او رسول ته راشي نو ته وینې چې منافقان له تا څخه مخ اړوي په مخ اړولو سره.

# اسلام دخواخوږۍ دین دې

عن شداد بن اوس(ض) قال: ثنتان حفظتهما عن رسول الله (ص) قال :(ان الله کتب الاحسان علی کل شیء فا ذا قتلتم فا حسنوا القتلة و اذا ذبحتم فاحسنو الذبح ولیحد احدکم ثغرته فلیرخ ذبیحته) رواه المسلم ص١٢٥ ج٢.

ژباړه:له حضرت شداد بن اوس(رض)څخه روایت دی. وایی ما له رسول الله (ص) څخه دوه شیان یاد کړی دی فرمایل:الله تعالی پرهرشي احسان کول فرض کړی دی نوکله چې تاسو یوڅوک وژنئ نو په ښه ډول یې ووژنئ او کله چې تاسو یو حیوان حلالوئ نو په ښه طریقې سره یې حلال کړئ !په تاسوکې دې یو تن خپله چاړه تېره کړي او خپل حیوان ته دې راحت ور کړي. له دې مبارك حدیث څخه چې داخبره په واضح توگه معلومیږي چې اسلام مبارك دین یو داسې خواخوږۍ اومهربان دین دی چې بیلگه یې په نړۍ کې نشته او دداسې ښایسته اخلاقو او نرمښت لارښوونه کوي چه نه یوازې دټول انسانیت لپاره فایده مند اوگټوردی بلکه له انسانانو پرته دحیواناتولپاره هم گټور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام داسې درحم او شفـقـت دين دی چې پر حيوان باندې هم احسان کول ضروري ګڼي. همدا راز که په چا يوداسې ستر جرم ثابت شوی وي چې له امله يې دمرګ مستحق ګرځېدلی وي بيا هم داسلام مبارك دين دهغه سره په وژل کيدو کې په احسان اوښه چلند ټينګارکوي يعنې په يو وار بايد ووژل شي په تکليف بايد ونه وژل شي.دې حديث ته او ددې په څېر نورو الهي او نبوي ارشاداتو ته په کتو سره داسلام په اړه د دښمنانو له لوری دهغوئ بنسټونو او له حقيقت نه لرى تبليغاتو نا سم تيا څرګنديږي چې داسلام او مسلمانانو خلاف په نړۍ کې شروع دی چې اسلام د دهشت ګرۍ او بې رحمې په تورونوسره تورنوي تر څو په داسې له حـقيـقـته لرې تبليغاتو سره خلک متـنفر کړي اوغير مسلم خلک اسلام ته له راتګ څخه منع کړي.

په دې مبارك حديث کې داسلام پيغمبر (ص) فرمايلې دي. چې هر شي سره نيکي الله تعالی لازمه کړې ده تردې چې د خپل دښمن اود داسې مجرم سره هم احسان اوښه کول ضروري دي چې هغه دوژلو مستحق ګرځېدلی وي دهغه سره به ظلم نه کيږي بلکې په اسانئ سره به وژل کيږي.

همدا راز دحيواناتو سره به دا نيکي کيږي چې اسانه طريقه دې اختيارکړل شي داسلام تر راتګ مخکې حيواناتو ته ډير تکـليـف ورکول کيده اواسلام دپاکو حيواناتو غـوښه حلاله کړه خود حلالولو لپاره يې داسې طريقه مقـرره کړې ده چې لږ ترلږه تکليف ورکونکی وي.دحيواناتو سره داحسان له جملې څخه داهم دي چې دحيوان دحلالولو په وخت کې بايد چاړه ښه تېره شي او حيوان به په اسانې سره حلالوی لکه څنګه چې ددې خبرې يادونه په ذکر شوي حديث کې هم شوې ده. همداراز داهم دی چې ترڅو يې ساه په بشپـړه توګه وتلې نه وي نو غوښه به ترې نه پرې کوئ.داهم مستحب ده چې يو حيوان به دبل حيوان مخې ته نه حلالوي(هنديه ص ۲۸۷ج۵)ځکه چې په دې سره داخطر دی چې په دې سره ژوندي ته تکليف وررسيـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحیوان مخې ته چاړه تېره کول مکروه دی(هندیه ص۲۸۷ج۵) داهم مکروه دی چې د حلالو ځای ته حیوان په کشولو سره یوړل شي (هندیه ص۲۸۷ج۵)تر ذبحې (حلالولو) مخکې به اوبه ورکوئ.

بل دا چې شیدو او اولاد لرونکې حیوان به تر څو چې اولاد یې دومره لوی شوی نه وي چې شیدو ته یې اړتیا ختمه شي.نو دومره یی مه لوشئ چې ټولې شیدی یې ختمې شي بلکې یو څه به پکې پریږدئ.همداراز حیوان لوشونکې به خپل نوکان لنډوي ترڅوحیوان ته دده داوږدو نوکانو له امله تکلـیف ونه رسیږي. په دې مبارک حدیث کې داحسان په کولوټینګار شوی دی او احسان په دوه ډوله دې. ۱ـ یو احسان دالله تعالی په عبادت کې دی.هغه داسې چې دالله تعالی عبادت په داسې توګه وکړل شي کله چې عبادت کونکي الله تعالی ویني،که دې یې نه ویني نو دا فکربه ورسره وي چې الله تعالی ما ویني ،زما عبادت ویني،چې زه یې په څه توګه ترسره کوم. ددې احسان مطلب دادی چې دالله تعالی حقوق په ښه او پوره توګه ادا شي.

۲ـ بل احسان دبندګانو په حقوقو کې دی.ددې احسان مطلب دادی چې دالله تعالی حقوقوپه ښه او پوره توګه ا دا شي لکه دمور،پلار سره ښه سلوک کول،دخپلوانو سره خپلوي ساتل،به ټولو معاملو کې په داسی طریقې سره انصاف کول چې څومره حق ور باندې واجب وي هغه په پوره توګه اداءکول.لکه څنګه چې ته خپل مال پوره له بل چا څخه اخلې.

په دې توګه به دنورو حـقـوق هم په پوره توګه ور ادا کوې. په دې احسان کې دټولو انسانانو او حیواناتوسره ښه سلوک کول داخل دي.

تردې چې په هغه حالت کې به هم ښه سلوک ورسره کوي په کوم وخت کې چی هغه انسان دمرګ مستحـق وي.دپام وړ خبره داده چې مسلمان په دې مکـلـف دی چې دهغه چا سره به هم ښه کوي چې دوژل کیدو مستحـق شوی وي او دهغه حیوان سره هم چې د حلالیدو اراده یې شوی وي. نودهغه چا سره خو خامخا ښه کول لازم دي چې مسلمان وي اودمرګ مستحق هم نه وي. پاتې دې نه وي چې احسان په دوه ډوله دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ واجب هغه احسان دی چې دچا پر انسان حق واجب وي دهغوئ حقوق پوره کول.

۲ـ مستحب هغه چې پرواجب ډېر وي .

له احسان اونيکې څخه مراد يوازې دلمانځه او روژې صحيح کول نه دي بلکې دژوندانه تګلاره او طريقه صحيح کول مراد دي چې هغه عبارت ده له معاملی او کاروبارو نه لمونځ دالله تعالی اطاعت او بندګي او دحقوقو سپارل خپلو خاوندانو ته او خلکو ته له تکليف رسولو نه ډډه کول اوپر ځای يې خير اوښېګڼې ورسره کول مطلب مو دادی چې داسلام مبارك دين يو داسې دين دی چې دهر چا سره نيکي او دښه سلوك کولو ټينګار کوي او داسې دلوړو اخلاقوتعليم ورکوي چې بيلګه يې له اسلام پرته په بل هيڅ کوم دين اوقانون کې نشته.

## اسلام چې مونږ پرې ايمان لرو

۱ـ اسلام په لومړي قدم کې پرايمان ولاړ دی چې دټولنې دکاميابۍ او د سعادت سبب ګرځي.

۲ـ اسلام پر انساني کرامت ولاړ دی هغه انسان چې الله تعالی په ښه بڼه پيداکړې کرامت يې ورکړی او په ځمکه کې خپل خليفه ګرځولې دی. ۳ـ اسلام عقل مخاطب ګرځوي او ددين اود دنيا په جوړولو کې په عقل اعتماد کوي او دتقوا لور ته يې رابولي.

۴ـ اسلام داجتماد او تجديد طرف ته دعوت د جمعود او تقليد سره مقابله کوي او دعلم د کاروان سره يوځای کيدل فرض ګڼي.

۵ـ په اومورو کې اعتدال داسلام يو ځانګړی صفت دی انسان بې له اسلامه تل دافراط او تفريط په حالت کې ژوند کوي.

٦ـ اسلام ريښتنې بڼه لري په مثالي فضا کې پروازونه کوي انسان کله حق ته رسيږي او کله نه رسيږي.

۷ـ اسلام ښځه دکرامت څښتنه بولي چې ديوه مکلف انسان په توګه مسوليتونه او حقوق لري په دنيا او اخرت کې د خپلو اعمالو ځواب وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸ـ اسلام کورنۍ دټولنې ساختماني اوتربيوي بنسټ بولي او خلک واده کولو ته تشويقوي او مادي تمدن بيا کورنۍ له مينځه وړل غواړي.

۹ـ اسلام تعليم اخلاقو تربيي قانون اوتشريح ته زياته توجه لري مادي تمدن انساني ثابت اخلاق په رسميت نه پيژني.

۱۰ـ اسلام ټولنه داخوت او انساني وحدت پربنياد جوړوي چې هيڅ ډول نژادي طبقاتي قومي او ديني کشمکش پکې نه وي.

۱۱ـ په اسلام کې کهانت اورجال د دين نشته چې دخلکو پر ضميرونو حکومت کوي او دالله تعالی سره دارتباط لاره يې په خپله قبضه کې نيولي وي. ۱۲ ـ اسلام تا کيد کوي چې دعدالت مساوات او شوریٰ پر بناء دحکومت انتخاب دخلکو حق دی.

۱۳ـ اسلام د خلکو ددين ځان عقل نسل مال همايت او عزت ساتنه اساسي ضرورت ګڼي.

۱۴ـ اسلام دټولنې ضعـيفـو اوبې وسو خلکو همايت ته جدي توجو کوي. ۱۵ـ اسلام دوطن او قوم سره مينه او وربانديې وياړ کول خوښ ګڼي خوچې ددينې ارزښتونو سره په تعارض کې نه وي.

۱٦ـ اسلام دفکر مقابله په فکرکوي اعتراض ته په دليل سره ځواب وايي خلک په نيکې موعظې سره دعوت کوي په اسلام کې جبر نشته.

۱۷ـ اسلام يوائې په خپل پخواني تمدن افتخار نه کوي بلکې دنوي تمدن دجوړولو لپاره هڅه کوي.

۱۸ـ اسلام يوازې دشرعي قانون ظاهر ته توجونه لري بلکې داسلامی حقيقي ژوند دجوړولو لپاره هڅې کوي.

۱۹ـ مسلمانان چې هرچيرې وي بايد متحد وي او يو سپيڅلې هدف لپاره کار وکړي او يو دبل غمخور واوسي.

۲۰ـ اسلام دانسانانو تر منځ فطري تفاوت په رسميت پيژني خو امتيازات چا ته نه ورکوي او دتاوان په زريعه دانصاف او عدالت لاره غوره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام کړنې

سلام له دوو شیانو څخه رغـیدلی دی.یو حقـوق الله یعنې دالله تعالی حقـوق اوبل حقـوق العباد: یعنې عـقیده عبادت نمانځنه په حقـوق الله کې راځي. اخلاق او کړنې دواړه په حقـوق العباد کې شامل دي. اخلاق دانسان ذهني روحاني او دزړه کیـفـیت جوړوي چې په څه ډول سره دبندګانو حقـوق اداء کیږي. دانسانانوخپل منځي چلند باید څنګه وي؟ او کړنه ددې چلندونو پایله وي. که عـقیده سمه نه وي نو پایله یې هم سمه نه وي که عـقیده سم وي عبادت هم سم وي نو داخلا قو روزنه خپله را پیـلیـږي. اخلاق زمونږ په ورځني ژوند کې ډیره اغـیـزه لري او همداشان داخلاقـو په سموالي سره زمونږ تجارت زراعـت وظیفې راکړه ورکړه او ټولې کړنې خپله سمیـږي اوهمدا ددین اصلي موخه ده.

## داسلام عمده ځانګړتیاوې

اسلام دنړۍ تر ټولو غـو ره دین دی او یو لـړ امتیازونه لري (ان الدین عندالله الاسلام) ال عمران ایت ۱۹

ژباړه: بې شکه چې د الله تعالی په نزد غـوره دین اسلام دی. داسلام طبیعت د نورو پخوانیو دینونوپه څیر نه دی دیو لړ ځانګړتیاؤ درلودونکې دی.چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

۱ـ اسلام نړیوال او بین المنللي دین دی. (وما أُرسلناك الا كافة اللناس بشيراً ونزيراً وتدبيراً ولكن اكثرالناس لا يعلمون ) سبا ايت ۲۸

ژباړه: او مونږ نه یې لیـږلی ته مګـر ټولو خلکـو زیرې ورکوونکی او ویرونکی لکـن اکـثره خلک نه پوهیـږي. دکـفارو نه لکـن زیاتره خلک دکـفارو ستا په اهـمیت نه پوهیږي.

له جابر بن عبدالله څخه روایت دی وایی چې رسول الله ((ص) ویلي دي چې زما څخه وړاندې هرنبي به یوازې خپل قـوم ته لیـږل کیده مګـر زه دټولې نړۍ خلکو ته راغـلې یم. داسلام نه وړاندې دینونو ځانګـړتیا نه درلودله هـر دین به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازې دخپل قـوم يا سيمې لپاره راتلو دمثال په توگه حضرت صالح (ع) دثمود قـوم لپاره حضرت هود (ع) د عاد قـوم لپاره حضرت عيسی (ع) دبني اسرايلو لپاره راغـلې وه اوحضرت يوسف (ع)د مصر دخلکو لپاره راغـلې وه.

که په يو سيمه کې به پيغمبر نه و نو دنژدې سيمې د پيغـمبرپه اطاعـت به خلک مکلـف وو چې ايمان راوړي.

خو اسلام دټولې نړۍ لپاره عالمي دين دی. اود ټولې نړۍ خلک يې دمنلو او ترڅنگ يې په پيروي کولو مکلف دي.او دکوم خاص قوم يا سيمې پورې تړل شوی نه دی اونه په جغرافياوي حدودو کې راحصاريـږي.

۲ـ اسلام وروستی اسماني دين دی.چې له دې وروسته دې خاورينې کرې ته بل کوم دين نه راځي او نه کوم پيغـمبر اوکتاب راځي. (ماکان محمد ابا احدمن رجالکم ولکن رسول الله وخاتم النبـيـين وکان الله بکل شی عليماً ) احزاب ايت ۴۰

ژباړه: نه دی محمد(ص)حقيـقي پلار دهـيڅ يو تن له سړيو ستاسې مگـر رسول دخدای (ج) دی او دټولو انبياوء وروستی دی او الله تعالی په هـر څيـز ښه عالم او خبردار دی.نوله همدې ځايه داسلام ستر پيغمبر حضرت محمد (ص) نړيوال پيغـمبر او دخلکو سترلارښود او رهبر دی.

۳ـ د اسلام دراتلو سره ټول پخواني دينونه منسوخ شول. جابر بن عبدالله (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) ويلي قـسم په هغه ذات چې زما نـفـس يې په لاس کې دی که نن حضرت موسی (ع) ژوندای وای نو هغه ته به بله هـيڅ لاره نه وه ورپاتې پرته له دې چې زما پـيـروي يې کړې وای. او هم دنړۍ مروج مذهـبونه لغوه او باطل اعلان شول مگر د دې وړاندې دينونو دا ځانگـړتيا نه درلوده يو د بل لپاره ناسم گرځيدو بلکې يود بل لپاره تکـميل کوونکي ؤ لکه دحضرت عيسی (ع) کتاب انجيل چې دحضرت موسی (ع)دکتاب تورات څخه تکـمله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ـ اسلام دوخت یوازینې غالب او دوخت پیاوړې دین او نظام دی.( هوالذی ارسل رسوله با لهدی ودیـن الحـق لیـظهـره علی الـدین کله ولو کره المشرکون) توبه ۳۳

ژباړه:الله هغه ذات دی چې لیـږلې یې دی رسول خپل محمد (ص) په هدایت سره چې قرانکریم دی او په حق دین سره چې اسلام دی ددې لپاره چې غالب کړي خپل دین په نورو دینونو باندې که څه هم داکار مشرکان بد ګڼي. داسلام په وړاندې هیڅ ځواک او قدرت نشي ټینګیـدلاې او هر با طل یې حتماً په وړاندې ماتې خوري لکه چې دوخت دقیصر او کسریٰ د استبداد واکمنې یې دنوم په اوریدوسره په لړزیدوشول او په وړاندې یې را نسکور شول. اونه داسلام د نظام سره هیڅ یو دبشر په لاس جوړ شوی تـش په نامه نظام په هـیڅ ډګرکې څه سیالي کولاې شي.

۵ـ د اسلام اساسی قانون (قرانکریم) د هـر راز له منځه تلو لاس وهنې تبدیل او تحریف څخه محفوظ دی( انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون) حجر ۹

ژباړه: بې شکه مونږ نازل کړی قران او مونږ دهغه ساتونکي یو. ددې وړاندې دحضرت داؤد (ع) زبور په ځمکه له سره وجود نه لري، اونه دحضرت موسی (ع) تورات، اودحضرت عیسی (ع) د کتاب اصل چاته معلوم دی؟ چې دظالمانو لخوا تحریف شوی دی. قرانکریم دمعجز کلام دی ځکه خو څوک دیو ایت په څېـر یې دفـصاحت او بلاغـت برابر او نه د ادب او ګرامر په لحاظ یو ایت جوړولای شي او نه پکې څوک تغیـر تبدیـل او لاس وهنې صلاحیت اوقـدرت لري او که کله چا په دې هکـله ناوړه هـڅه او اراده کړې ده هغه دتل لپاره دتاریخ په وړاندې ذلیل شرمیدلی او بدنام پاتې شوی دی لکه د مثال په توګه په دی نـژدې تیر شوي وخت کې د سلمان رشدي دشیطاني ایاتونو ټولګه دیادونې وړ ده.چې تر اوسه سلمان رشدي نه په ځمکه دقـرار ځای لري او نه ارام ورځې. چې په لندن کې خپله دانګریزانو لخوا کلا بند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داسلام موقـف

په ځمکه کې دعـدل قانون دالهي حکم سربيـره دعـقل او طبيعـت ضروري غـوښتـنه هم ده نو له هـمـدې ځايه د اسلام تر ټولو ستره موخه په ځمکه کې د (لااله الاالله) تر سيوري لاندې ديونظام او حکومت قا يمول دي پرته دنظام او حکومت دشريعـت داحکامو او داسلامي ارزښـتونو او او امهـو مقصدونو ساتـنه نـشي کيدلای.

داسلامي نظام او حکومت حاکم مطلق په حقـيـقـت کې پخپله د الله تعالی دی چې لومړی ددې نظام او حکومت مسـؤليت د الله تعالی د پيغمبرحضرت محمد(ص)سره وه او دهغه وروسته داسلامي حکومت ساتـنه د هغه د امت په غاړه ده او دمسلمانانو امير د الله تعالی د پيـغمـبر د نائب په توګه د هر چا پر وړاندې د چارو د ادره کولو او پرمخ بيولو دنده په غاړه لري او مسلمانان دهغه په اطاعـت او ورسره په مرسته کولو مکـلف دي.

ځکه که مسلمانان دهغه اطاعـت او ورسره مرسته ونه کړي نو پخپله دذلت او الخطاط سره مخ کيـږي او حاکميت يې په محکوميت بد ليـږي.

اسلام نه دډيموکراسې په څېر يواازې تـش دعوامو دهـيلو او غوښتـنو حکومت غـواړي او نه دملوکيت په څېر داستبداد واکمني غـواړي، داسې حکومت غـواړي چې دشريعـت په حکمونو بنأوې او په سر کې يې صالح مؤمن کسان ولاړ وي ترڅو ټولنه د اصلاح په لور رهبري کړي.

اسلامي حکومت په خپل منځ کې دهر راز سيمه يز، قـومي او نژادي توپيـرونو او تعصباتو سره مخالف دی، او دغير مسلمو سره په بين المللي سطحه د ښو اړيکـو او روابطو غوښتـونکی دی، تر څو ددې لارې اسلامي دعـوت ته لاره پرانستل شي او خلک د الله تعالی دين ته را دعـوت شي. (ادع الی سبيل ربک با لحکمه والموعظه الحسنة ) نحل ۱۲۵

ژباړه:ته راوبله ای محمده (ص) لارې درب ستا (اسلام ) ته په حکمت اونيکه وينا سره. دغـير مسلمودفـتـنـې او فساد دپيدا کيدو پر مهال اسلام له دوی سره دجهاد حکم کوي. (وقاتلو هم حتی لا تکون فـتـنة ويکون الـدين کله الله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:اوجنګ وکړی دهغو ( کفارو ) سره ترڅو فتـنه پاتې نشي او ټول عبادت د الله تعالی شي نو اسلام د دښمن سره دهر راز سازش او سودا کولو سخت مخالف دی.

## داسلام تربيوي او اجتماعي تګلاره !

الله تعالی دبني اسرائيل په سورت کې له ۲۳ څخه بيا تر ۳۹ اياتونو پورې داسلامي سياسي اجتماعي اوتربيـوي پاليسيـو عـمومي اصول په لاندې ډول بيان کړی دی.

۱ـ له الله تعالی پـرته دبل چا عـبادت بندګي اواطاعت مه کوئ الله تعالی مالک الملک او پاچا دی د پاچاهانو دهغه شريعـت او قانون بايد ومنل شي.

۲ـ له والـدينو سره مرسته مينه او مهرباني کوئ حتی دهغوئ زړونه د أف په کلمه هم مه خپه کوئ ځکه چې مور اوپلار له اولاد سره په کوچني والي کې زيات زحمتونه او تکليفـونه تير کړي.

۳ـ نن ورځ غـربي تهـذيب دوالدينو او د اولادونو ترمنځ د فطري اړيکې د قطعه کولو هڅه کوي. او غـواړي پدې کار سره د مسلمانانو د اولادنو او والدينو تر منځ د نفرتونو خونې جوړې کړي.

۴ـ سرمايه داري نظام کوښښ کوي چې انسانان په فارمونو کې وساتي واړه په وړکـتونو ځوانان په هوټـلونو او زاړه هم په خاصو فارمونو کې وساتي چې تر څو ومري.

۵ـ غـربي مادي تمدن دخپلې پوچې فلسفې له مخې ځکه انسان يو اجتماعي حيوان بللی تر څو له هغه څخه انساني احساس واخلي او ديوه حيوان په توګه ورڅخه استفاده وکړي هغوې صرف انسان دخوراک اود شهوت غريزې په رسميت پيژني.

## داسلام اساسي تګـلاره

اسلام يو ځانګـړې نظام دی، چې دفطري قوانـينو درلودونکی او د يوه مستـقـل تمدن په توګه د ديني او دنيوي اومورو په صلاح مشتمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يو لړ اساسي مقصدونو، كورنيو او بهرنيو تګلارو درلودونكى دې.
چې ځينې يې په لاندې ډول دی.
۱ـ كورنۍ تګلاره
۱ـ د الله تعالى يووالي او عبادت ته دخلكو هڅول اوټول هغه احكام، چې دهغه له خوا پيغمبر( ص) نړۍ ته راوړي دي عملي كول او د الله تعالى داحكامو دپريښودو په صورت كې پرېښودونكو يا منكيرينوته داسلامي شريعت سره برابر سزا وركول داسلام له اساسي تګلارو څخه دي.
۲ـ ددين داحكامو نافذول، د حدودو او قصاص جاري كول تر څو، په دې وسيله عدل قائم شي، او امن راوستل شي، دانسانانو حقوق، د دوئ ترمنځ مساوات، برابري وساتل شي او هم دانسانانو، نفس، عقل، دين، مال، ناموس او آبرو خوندي شي، دالهی احكامو دنافذولو او د حدودو او قصاص جاري كولو كار داسلامي دولت دقضائيه قوې له خوا ترسره كيږي.
۳ـ د قانون حراست او ساتنه،تر څو په ټولنه كې د قانون اهميت او ارزښت له منځه ولاړ نه شي، چې په دې لړ كې ټول خلك د امير څخه نيولې تر غريب پورې ټول د قانون پر وړاندې يو برابر دي او د جرم د ارتكاب په صورت كې به د قانون پر وړاندې برابر ودريږي.
او د وخت د تحولاتو او غوښتنو په اساس هغه څه چې په قرانكريم او نبوي سنتو كې صريح نص شتون ونه لري د اسلامي علماؤ او متخصصينو له خوا د قرانكريم او نبوي سنتو د اساساتو تر سيوري لاندې د فرعي قوانينو وضع كول، چې دا كار د اسلامي دولت د مقننه قوې له خوا تر سره كيږي.
۴ـ د ملكي او نظامي چارو او تشكيلاتو تنظيمول او د چارو ( منصبونو ) اهل كسانو ته سپارل چې په دې كار سره به له يوې خوا د دولت چارې په ښه او منظمه توګه مخ پر وړاندې ولاړې شي او له بلې خوا به د ولس ستونزو ته په ښه توګه لاس رسي وشي، چې دا كار د اسلامي دولت د اجرائيه قوې لخوا تر سره كيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ـ نظامي پیاوړتیا او د نظامي مهارتونو او تجهیزاتو برابرول، تر څو په دې وسیله د اسلامي دولت او ارزښتونو څخه دفاع وشي او د دښمن د یرغل او تیري مخه ونیول شي.

٦ـ د پوهې د سطحې لوړول او د اخلاقو ښوونه او روزنه او همداسې د کورني او ټولنیز ژوند سمول، تر څو ټولنه د جهل او بدبختیو څخه وژغـورل شي.

۷ـ صنعت او انکشاف ته وده او پراختیا ورکول، تر څو تمدن د پرمختګ په لور روان شي او انساني اړتیاوې پوره شي.

۸ـ د اقتصادي سیستم پیاوړي کول، د بیت المال او دولتي خزانې تنظیمول، تر څو د فقر، بې وزلۍ مخه ونیول شي او انسانان ورڅخه وژغـورل شي، چې په دې لړ کې نه یوازې د اسلامي دولت دننه بلکې د غیر مسلمو سره هم د انساني همدردۍ له مخې مرسته کولاط شي، لکه چې حضرت عمر (رض) یوه نېستمن یهودي ته، چې د ګڼ اولاد څښـتن ؤ د بیت المال څخه دائمي معاش مقرر کړی ؤ.

۹ـ د انسانانو د انساني کرامت او د هغوی د حریت او ازادۍ ساتل، چې په دې لړ کې هر انسان د فکر، وینا او عـقـیدې د ازادۍ حق لري او د دوی حریت او ازادي ساتل د اسلامي دولت ذمواري ده.

۲ـ بهرنۍ تګلاره

۱ـ بین المللي اړیکې او ارتباطات کلکـول، تر څو په دې وسیله نړیوالو ته د اسلام پیـغام ورسیـږي او دوی د اسلام په صحیح مفهوم او معنی پوه شي او د اسلام د حقیـقـت په پوهیـدو سره خلک اسلام ته راوبلل شي.

۲ـ د غـیر مسلمو د فساد او فـتـنې په صورت کې د هغوی سره جهاد کول، تر څو د هغوی د فـتـنو او فساد د لمنې د خوریدو مخه ونیول شي، خلک د ګمراهی او بې لارې کیدو څخه وژغـورل شي او ټولنه د ظلم او وحشت څخه په امن شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣ـ د انساني فاجعې او ناورين لکه قحط، لوږه او داسې نورو طبعي افاتو پر وخت د غیر مسلمو سره د اسلامي دولت د اسلام د عاطفې او انساني سلوک او همدردۍ له مخې مرسته کول د اسلامي دولت له بهرنۍ تګلارې څخه دی.

## اسلام دژوند مکمل نظام دی

١ـ داسلام شمولیت دژوند لپاره ددې دین یو مهم صفت دی چې دژوند پرټولو برخو تسلط لري ځکه چې د انسان دمادي معنوي فردي او اجتماعي ژوند دټولو برخو لپاره مکمل احکام لري ددې دین تصور غیر له دغه خصوصیت څخه نه شي کېدای دا دین عقیده عبادت اقتصاد او قضاء دی.

٢ـ همدغه دشامل والي خاصیت په هیڅ یو بل بشري دین فلسفی مکتب کې نشته هر قانون فلسفه دین او مکتب دانسان دژوند یو ویده خاص اړخ ته توجو کوي.

دانسان په ژوند کې یووالې تجزیه نه قبلوي همدارنګه داسلام دین هم دکامل وحدت په شکل نافذ شوی ده که دانسان ژوند یو خاص لړخ ته توجه کوي. که دانسان ژوند دیوې برخې رهبري اسلام وکړي او د نورو برخو یې نور قوانین او فلسفې داسې ژوند به دانسان لپاره د سختۍ او بد بختۍ ژوند وي.

١ـ الله تعالی امر کوي چې په اسلام کې په کامله توګه داخل شئ چې مکمل نظام لري. دمکمل اسلام قبلول دشهادت دکلمې اساسي غوښتنه ده، که په عمل کې دا کار ونه شي دا دمصادت دکلمی سره په عمل کې مخالف دی که یې دغفلت یعنې که یې دپوهې په سبب کوي فسق دی او که یې خوښ ګڼي کفر دی. ۴ـ داسلام سمه پوهه ډېره مهمه ده هم په اسلام کې دداخلیدو لپاره او هم دانحراف څخه دځان ساتنې په خاطر ددې دین اجزاء ده دوو اجزاوو مثال لري چې پوره والی دانسان دصحت لپاره ضروري دی. دعلم تربیت او دعوت هغه وسایل دي چې فرد او ټولنه اصلاح کوي.

٥ـ ځینی اسلام صرف ظاهري عبادت او مذهبي مراسم بولي او فکر کوي دا یوازې دبنده او الله تعالی تر منځ یوه اړیکه ده د ژوند دامورو سره ارتباط نه لري او اسلام یوازې تقوا او اخلاق بولي چې انسان باید له مادي ژوند څخه لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او يو شمير نور بيا اسلام يو ميراثی عقيده او تقليدي اعمال ګڼي چې دژوند د پرمختګ لپاره هيڅ کته نه لري.

ځينی بيا اسلام دځو جزائ احکامو په تطبيق کې دا خلاصه کوي خو په حقيقت کې اسلام دا احکام او ارشادات ده انسان دنيوي او اخروي دواړه په ډيره ښه توګه تنظيموي خو دژوند دپرمختګ لپاره نوي دستورونه او ګناهونه جوړوي دنيا او اخرت دژوند دوه مرحلې بولي چې يو دبل مکمل دی.

## اسلام د ژوند دټولو برخو يو شامل نظام دی

داچې اسلام دژوند دټولو برخو لپاره يو شامل نظام دی دا ددې ثبوت دی چې دا يو انساني نه بلکې الهي نظام دی انسانان نه دي توانيدلي چې دژوند لپاره داسې يو هراړخيز ثابت او دايمي نظام جوړ کړي کوم چې دانسان دمادي او معنوي ژوند ټولو برخو ته دې شامل وي او دژوند ټولې برخې دې ديوې معقولې عقيدې په ذريعه سره وتړي داسې نظام چې هر څه يې پراعتدال ولاړ وي او دزمانې تغيرات ورباندې اثر نه کوي اسلام موږ ته ثابت فطري اخلاق او دژوند اصول معرفي کوي کوم چې انسان دا کار نشي کولای.

۱ـ ځينی وايي دمعاصر يوه برخه هم ددين پراساساتو ولاړ نه ده او ټولو خلکو دا منلې چې اجتماعي ژوند بايد د ديني عقايدو څخه جلا وي داچې سيکولرزم دکليسا دتحريف شوي دين يو عکس العمل وو دهغوی دا ادعا صرف دهغوی دين په هکله صدق کوي که هغوی اسلام په دقت سره مطالعه کړي، بې طرفانه قضاوت وکړي بيا دا نه وايي ددې نظريې خلاف ډيرو غربی حقپاله علماءو دا منلې ده چې يوازې داسلام دين دانسان ژوند ته سم لوری ورکولای شي او بس سرمايه داري نړۍ خامخا دا خبره کوي ځکه چې اسلام اعتدال غواړي نه طبقاتي نظام.

۲ـ اسلام دعباداتو څخه زيات دينوي ژوند ته توجه کوي ديني او دينوي امور دواړه تنظيموي اسلام د هر عصر سره مخته ځي او دانسانانو ضرورتونه پوره کوي په اسلام کې نه بې پروايې شته او نه بې بندو باري نه فلسفی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیچلتیاوې او نه افراط او تفریط مؤمن پاك زړه او عملي تفکر باندې دکتاب او سنتو دمصادرو څخه احکام او قوانین په لاس راوړي.

۳ـ په اسلامي هیوادو کې که امامت له منځه تللی خو ددین روش ته تصور او اصول شته دانسانیت په دغه مشخص شوې ټولنه کې یوازې اسلامي عقیده ده چې دحقیقي انسان د حیوانیت د پنډ غالۍ څخه راباسي دانساني کرامت او دنړۍ دخالق دنیابت تاج یې په سره واردیږي همدارنګه چې د دنیا رهبري به په دین کوي او د دین اکمال به دنیا سره په مسجد به بازار رهبري کوي او بازار به په مسجد تقویه کوي .

۴ـ زموږ دعوت دعام اسلام لوري ته دی چې پر کایناتو ټولنه او افراد باید یو ډول حکومت ولري اسلامي عقیده قانون تر بیلې اداري لاندې ساتي دفرد او ټولنې دحقوقو او وجایبو تر منځ توحید راولي په مختلف ټولنو کې دانسانانو علمي تګلارې ته یووالی وربښي پر ظاهر اوباطن باندې حکومت کوي او دانسان ظاهر او باطن ته وحدت وربښي.

۵ـ د دعوت معنی دا نه ده چې یوه مفکوره مطرح او صرف له هغې څخه دفاع وشي بلکې دعوت دتنظیم جوړولو څخه عبارت دی چې افراد سره راجمع تنظیم دیني او سیاسي تعلیم او تر بیه ورکړای شي او کله چې یې زده کړې وکړې نو بیا هم دغه کار سخت بولي.

## داسلام قضایي نظام

مونږ دلته داسلام دقضایي نظام څخه بحث نه کوو یوازې دومره وایو چې داسلام قضایي نظام په ځمکه دا څرګنده کړې ده چې واقعاً عدل راوستلای شي او مجرمینو ته سزا ورکولای شي اودځمکې څخه جرمونه ورکولای شي.

چې مجرم ته سزا ورکول څه دي سخته خبره نه ده. په دې وجهه دامن انصاف اوعدل راوستلو له امله اسلامي قضاء دټولنې روح ګڼل کیږي.

په دې نړۍ هیڅ یو د بشر به لاس جوړ شوی قضایي نظام ورسره مقابله نشي کولای او نه ور سره پرتله کېدای شي.دنړۍ ټول قضایي وضعه نظامونه په تیره بیا دغرب قضایي نظام چې د اسلام دقضایي نظام نه تشکیل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضايي نظام چې د يو حکومت د درې گونو قواو د جوړښت مهم رکن دی او په عدل او انصاف کولو مکتلف دی.نو ښکاره خبره ده چې عدل او انصاف دځواک او قدرت لخوا پیاده کیږي.اسلام تر ټولو غوره قضايي نظام دی چې په ديني اصولو او حکمونو ولاړ دی.دا معنی چې اسلام يو ستر سياسي دين دی.

## اسلام او حقوق

اسلام په لوړه کچه دانسان دحقوقو ساتنه کړې ده ډېر حقوق يې پر انسان فرض او واجب گرځولي دي بلخصوص دضعيفانو حقوق يې د زور دخاوندانو دغريبانو حقوق يې دغنيانو او دښځو حقوق يې دنارينو په وړاندې ساتلي دي.

حتا دحيواناتو دحقوقو تلف کول يې هم گناه گڼلې ده.په اسلام کې انساني حقوق دنړۍ دټولو خلکو لپاره دي مسلمان دی او غير مسلمان دی په دولت کې دننه وي که دباندې ځکه په اسلام کې ښيگڼه نړيوال خصلت لري خاص تر مسلمانانو پورې تعلق نه لري دغه حقوق عبارت دي له ژوند کولو، خوراك، ازادي، عزت، ناموس، مال او نور حقوق.

په اسلام کې دبشر دحقوقو ساتنه دفرد ټولنې او دولت مساوي مسؤليت دی ولې چې امربالمعروف او نهی عن المنكر پر ټولو لازم دی چې په غير اسلامي ټولنو کې د يو خاص دفتر په غاړه کې ده چې هر ځای ته رسيدلی نشي کله چې حقوق پر الله تعالی او شريعت تکيه وکړي بيا حقوق دواجب مرتبه پیدا کوي فرد به داجتماع او اجتماع به دفرد دولت به دخلکو او خلک به د دولت په وړاندې د وجوب په شکل مسؤليت پیداکوي د هر چا دحق اداء کول به پر نورو واجب وي.

ځانځاني به له منځه ولاړه شي او حقوق به يوازې دولت پورې اړه لري لکه چې کوم حالت چې په غير اسلامي ټولنو کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام او دعـقـل ازادي

۱ـ اسلام عـقـل ته ازادي ورکوي او په کاينا تو کې يې دغـوره کولو لپاره تـشويـقـوي دعلم او علماؤ قـدر لوړوي بيا يې هر نفع رسونکي علم ته ښه راغلاست وايې حکمت دمؤمن پکې اعلانوي هر چيره يې چې پـيـدا کړي تر ټـولو يې مستحق بولي.

۲ـ د اسلام داساسي خصوصياتو څخه يو دا دی چې دا دين پر عـقـل ولاړ دی دعـقـل مـنـطـق ته احترام لري.توافـق د صريح عـقل له صحيح نـقـل (نص)سره يو څرگند حقيقت دی عقل په انسان کې دتميز وسيله او اساس د شرعي تکليف دی.

۳ـ دعـقـل ادراک او دشيانو فهم په زمان او مکان پورې محدود دی او غـيـبي امور دزمان او مکان څخه خارج دي.انسان داسې وسايل نه لري چې هغه درک او حکـم پرې وکړي نو ځکه عقل دغـيـبي شيانو د درک لپاره وحې ته ضرورت لري تر څو يو تعـداد داسې قضيـي چې په يوازې يې نشي موندلی د وحې په مرسته يې پـيـدا کړي که عـقـل يوازې عالم غـيـب ته متوجه شي نو دغـلـطـيـو او خرفاتو سره به مخامخ شي.

۴ـ په اسلام کې دالله او بند گانو ترمنځ داسې ژباړونکې وشتون لري چې حلال او حرام يې تعـيـن او مقصد يې د الله تعالی دين دکامل عـقـل په واسطه تکـمـيـلـيـږي او عـقـل دانسان ديني وسيله ده.

۵ـ اسلام دايمي فکر کول يو ډول عبادت بولي په قرانکريم کې ډېر ځايونه انسان تعـقـل او تفکـر ته را بلل شوی دی

٦ـ داسلام او اروپايي ديـن تر منځ ډيرتوپيـر شـته اروپايي ديـن عـقـل ته ازادي نه ورکوي دوحی دعـلـم او دانسان دعـلـم ترمنځ ډير توپيـر شته وحی انسان ته د خطرونو څخه محـفـوظه لار وربښي او کومه لاره چې انسان يې په خپل پوهه انتخابوي هغه دټکـرونو او تضادونو لاره ده. هـلـته به نظام طـبـقـاطي وي په يوه نه يوه شکـل به ځينې به خلک دارېابانو او دنورو غـلامانو حالت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ـ اسلام دمسلمانانو رابطه له علـم غیب سره په وضاحت محدوده او مشخص کوي او ددې علـم پر وړاندې د انسان موقـف روښانه کوي خو ماده پرستان د ګومان اوشک په سمندر کې غـرق وي. اسلام انسان دخرافاتو څخه ازادوي او دمشاهـدې لور ته يې مخ اړوي همدا سبب وه چې داسلام په روښانه کې اسلامي علماؤ په ډېر کم وخت کې دنويو علومو بسټونه کيښودل. مسلمانان دانحطاط په دور کې بيا دخرافا تو لورته مخه وکړه په محکماتو يې اکـتـفـاء ونه کړه دمشابه نصوصو په تحليل او تاء ويل يې شروع کړل.

۸ـ اسلام پر اسبابو او مسياتو تاکـيد کوي او مسلمانان تـشـويـقـوي چې اسباب برابر او پر خدای توکل وکړي. د عمل معاملاتو عـبادت او قـيادت لپاره په اسلام کې علم شرط دی. اسلام مونږ هغه علم ته رابولي چې پر استدلال تکيا لري تـقـلـيـد په اسلام کې عـلم نه بلل کيـږي. وحی انسان ته هغه علم وربښي چې انسان يې تـفکـر او فلسفي ويني په وخت کې يې په حيرانتيا کې اچولي دي هغه لکه:له کومه راغلی ولې راغلی چيرته ځي.

## اسلام عدالت دی

۱ـ ځينې وايي چې په اسلام کې عـدالت نشته دا خبره صحيح نه ده اسلام پخپله ټول اجـتـماعي عدالت دی. عـدل داسلام عـدالت دی داسلام مقصد دی او همدې لپاره راغلی دی چې عـدل قايم کړي. الحديد۲۵

۲ـ دعـدل دقايم لپاره ددې پرته بله لاره نـشـته چې اسلام نوم نشي کېدای. ۳ـ دانسان شخصيت دې ته اړتيا لري چې هغه ته دهغه دخوښې له مخې دشخـصيت دپوره کـيـدو فرصت ورکړل شي که دانسان ازادي، سياسي، عـقـيـدوي اواقـتصادي ازادي طلب کړل شي نو دهغه په دننه کې به انسانيت هسې فلج پاتې شي.

۴ـ انسان په اخرت کې دالله تعالیٰ په وړاندې ځواب ورکوونکی دی محصور او مجبور خلک ديو انسان په حيث خپل مسؤليتونه سرته نشي رسولای ددغه ډول خلکـو ډېر مسؤليت دهغه په غاړه وي چې ددغه ډول نظام دچلولو مسؤل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ـ څرګنـده ده چې په ټولنه کې یو مسؤل د الله تعالی څخه ویرودونکي مومن شخص په اخرت کې دالله تعالی په وړاندې ددومره ستر بار دپورته کولو تصور هم نشي کولای چې هغه دې دنورو انسانانو د ازادي طلب کړې وي تر څو دهغوی غـلط شخصیتونه اجتماعي نظام متضرر کړي.

## اسلام تفاهم غـواړي

۱ـ دوی وایي. که غـواړی چې اسلام په ننی زمانه کې وپایی باید د نـني انسانانو له نظر سره موافـقـت وکړئ، څومره چې و غـواړی پرهغوی اثر وکړئ باید له هغو سره تطابـق ولرئ.

او وایي، بـنـسټ پاله هڅه کوي چې له نورو (غـرب) سره د مقابلې په میتود مطالعه وکړی د مقابلې منطق یې د مسّلې بې طرفه څیـړولو ته نه پریـږدي. ایا مسلمانان کولای شي مسّایل داسې تغـیـر کړي چې د بل ګټه هم په کې وي؟

۲ـ موږ وایو. مسلمانان د مصلحتونو پرسر تـفاهم ته بلکـل تیار دي ځکه چې اسلام ټول مصلحت دی. دا غـرب دی چې تکبـر کوي د قـدرت له موضوع څخه له نورو امتیاز غـواړي استعماري او استـثماري حرص یې نه مـړیـږي دا ځکه چې په اخرت عـقیده نه لري د ژوند هدف یې مال قدرت او شهوت ګرځولی دی. په دې مسّایلو کې باید د ټول انسانیت ګټې په نظر کې ونیول شي نه ددغه یا د هغه ابر قـدرت.

۳ـ که معاصر تمدن د حـق پلوي کولای شي نو ابر قـدرتونه به یې د ویـټـو شرمونکی امتیاز نه ورکولای. موږ وایو. د اسلام دیـن د الله تعالی له کامل عـلـم څخه نشئت کړی دی که مسلمانان هر څومره ضعـیـفـه هم شي خو دا حق دین میدان د طاغـوت ته نه پریـږدي، تل د باطل پر وړاندې ګواښ وي.

۴ـ که موږ اسلامي او غیـر اسلامي مسّایل وڅیـړو او سره پرتله یې کړو دا به ثابته شي چې اسلام پر حـق دی د دې خبرې د ثبوت لپاره یو ښه مثال د احمد دیدات او ډاکټر ذاکر نایک مناظرې دي د غیـرمسلمو مخالـفـو علماوو سره په سراسر نړۍ کې هیڅ یو غـیـر مسلمان عالم او ددې جراءت نه شي کولای چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر اسلام نیوکه وکړي او یا د خپل د کفـري مسلک څخه دفاع وکړي. دوی بې دلیله اتهمات واردوي خو ثبوت یې نه شي کولای.

۵ـ غـرب د کـلـیسا سره ټکـر وکړ او د بې دینی لاره یې غـوره کړه موږ ورته وایو اسلام هغه تحریف شوی عیسویت نه دی راشی د اسلام سره تـفـاهم وکړی دا هم هغه اسلام دی چې اروپا یې د تاریکـو دورو څخه د دیموکراسی عـصر ته راویستل روغه او سازش د حـق سره په کار نه دی نه د ناحقی سره. موږ وایو.حـق حتماً له قـدرت سره نه بلکې حـق له منطـق او واقـیعـت سره وي. د ساینس او تکنالوژی پرمختګ یو شی دی انسانی ریـښـتـني ژوند بل شی دلته انساني اخلاق اجتماعي عـدالت اخلاص په انساني نړی کې وحدت مینه او ورورولي ډیر ارزښت لري. اسلام په هر ډول شرایطو کې دعـدالت تامین غواړي الله تعالی فرمایی:

ژباړه:دیتیم مال ته مه نږدې کیـږئ مګـر په ښه طریقې سره تر څو چې هغه خپل ځوانی ته ورسیـږي دوعـدې پابندي وکړئ بې له شکه چې دوعـدې په هکله به له تاسې څخه پوښتنې کیـږي.هـمدغه دپوښتـنې اصل دی چې دمسلمان لاره دغـیر مسلمان څخه جلا کوي.

۱ـ دا یوازې یو اخلاقي هدایت نه دی دیـتیمانو دحـقـوقـو دساتنې لپاره بلکې په اسلام کې انـتـظامي او قانوني تدبـیـرونه نیول شویدي.اسلام دژوند په هر ډول شرایطو کې دعدالت تامین غواړي.

۲ـ اسلامي حکومت او ټولنه دخپلو ټولو هغو خلکـو دحـقـوقـو ساتنه کوي څوک چې پخپله ساتنه نشي کولای پیغمبر(ص)فرمایي ( انا ولی من لاولی له )

ژباړه: زه دهغه سرپرست یم چې سرپرست نه لري.

۳ـ په وعـده وفا کول یوازې دانـفـرادي اخلاقـو حکم نه دی بلکې هغه وخت چې اسلامي حکومت قایم شي نو دا دټول ولس د کورني او بهرني سیاست بنسټ دی دنـنـی نړی دوه رنګه منافـقـانو سیاست چې تنها تر ګټو پورې ارتباط لري د اسلام له نظره مردار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلام کې عدالت صلح او امنیت د ټولو لپاره دی یو د هغو مسایلو څخه چې اسلام دهغه خیر او مصلحت لپاره را دعوت کوي اقامه عدالت ده د ټولو خلکو لپاره بې غیر له استثنا څخه درسولانو او کتابونو راتګ یو اساسي مقصد دا وه چې خلک به په ټولنه کې عدالت پلې کړي.

یو وخت څو نفرو مسلمانانو غلا کړې وه خو هغوی غوښتل چې یو یهودي متهم کړي حضرت محمد (ص) په دې فکر کې شو چې مسلمانان پر حق دي او غوښتل يې چې دمسلمانانو طرفداري وکړي دسورت النساء د۱۰۵ څه تر۱۰۷ پورې ایاتونه نازل شول الله تعالی پیغمبر (ص) ته وفرمایل.

ژباړه: ما قرانکریم پر تا د حق پر بنیاد نازل کړی دی تر څو دهغه مطابق دخلکو په منځ کې قضاوت وکړې دخاینینو څخه دفاع مه کوه دالله څخه عفوه وغواړه.

دعدالت پلی کول یوه فریضه ده ددوستی او دښمنی له روابطو څخه پورته چې په باره کې هیڅ ډول سستي باید ونشي داسلام په لومړی کې عدالت عملاً پلې شو.

۲ـ اسلام نړیواله صلح غواړي.دجهاد دفریضې دظلم فساد او بې امنی دلمنځه وړلو لپاره ده اسلام هیڅ چاسره جنګ کول نه غواړي کوم چې ظلم نه کوي فساد نه خپروي او انسانان په غلامی نه نیسي او دمسلمانانو سره جنګ کول نه غواړي.

دمصر د والي (عمروبن خطاب رض) زوی یو عیسوي په ناحقه په شلاقو وهلی وه هغه حضرت عمر(رض) ته عارض شوه خلیفه والي او د هغه زوی يې راوغوښتل ورته یې وویل ای عمرو له څه وخت نه تا دا خلک په غلامی نیولي دي حال دا چې هغوی دمور څخه ازاد پیدا شوي دي خلیفه دعیسوي زوی ته وویل چې همغومره والي ووهه ده ولې دخپل زوی په اړه عدالت نه پلې کاوه دعیسوي زوی وویل نه دا نه وهم زوی يې وهم همغه وه چې د والي زوی یې همغومره وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحضرت عمر(ض) دغه خبره په نني عصر کې ديوې مقدمې يا ګيلې په توګه دبشر دحقوقو په پيمانو او د پرمختللو هيوادو په قوانينو کې کارول کيږي.

## اسلام بيلوالې نه مني

اسلام د الله تعالی کامل اوپوره دين او دټولو اديانو بشپړونکی دی.الله تعالی داسلام دين دوروستي دين په توګه دشريعت لپاره غوره کړی دی.هر څوک چې داسلام پرته بل دين قبلوي هيڅکله به ونه منل شي. لکه څرنګه چې الله تعالی د قرانکريم په ال عمران سورت کې فرمايي (ان الدين عند الله الاسلام ) ال عمران ۱۹

ژباړه: د الله تعالی په وړاندې دين همدا اسلام دی. په بل ايت کې الله تعالی فرمايې ( ومن يتبغ غير الاسلام دينا فلن يقبل منه وهو فی الاخرة من الخاسرين ) ال عمران ۸۵

ژباړه: له اسلامه پرته چې هر څوک کوم بل دين طلب کړي هيڅکله به له دوی څخه قبول نه شي او په اخرت کې به هغه ناکام او زيانمن وي. اسلام داسې دين دی چې ثابت او ښکاره بنسټونه او قواعد لري بايد په کامله اوبشپړه توګه عملي شي ټولې لارښوونې او احکام يې ومنل شي په ټولنه کې تطبيق شي مثبتې اوګټورې پايلې يې ښکاره شي هيڅ څوک حق نه لري چې اسلام تجزيه کړي يا په بله وينا يو حکم يې ومني او بل يې پريږدي. الله تعالی فرمايي:(يا ايها الذين آمنوا ادخلوا فی السلم کافة) بقره ۲۰۸

ژباړه: ای مومناو تاسې په بشپړه توګه په اسلام کې داخل شي.اوپه بل ايت کې الله تعالی دهغو کسانو مزهت او بدي بيانوي څوک چې ځينې احکام قبلوي او دځينو نورو له منلې سر غړونه کوي او داسې فرمايي. ( افتؤمنون ببعض الکتاب وتکفرون ببعض فما جزاء من يفعل ذلك منکم الاخزی فی الحياة الدنيا ويوم القيمة يردون الی اشد العذاب) بقره ۵۸

ژباړه:آيا تاسې ځينې کتاب منی اوله ځينو نورو څخه بيا انکار کوی نو دهغوخلکو جزا چې همدارنګه کارونه کوي پرته له دې بل څه نه ده چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیاوي ژوند کې به له رسوایۍ سره مخ وي او د قیامت په ورځ به دخورا سخت عذاب په لور وروستل شي.

## اسلام عقیده او شریعت قانون دی

۱ـ دوی وایي. ټولنه په دې سیکولر کیږي چې د خلکو دنیوي وسوسې پر دیني وسوسو غلبه وکړي او مادیات د ژوند هدف وګرځي. اسلامي بنسټ پالي د خلکو دنیوي وسوسې راپاروي او خلک عملاً د سیکولریزم لور ته بیایي.

۲ـ موږ وایو. که حقیقت داسې وي بیا خو اسلامي بنسټ پالنه ستاسې د مقصد لپاره خدمت کوي نو تاسې ولې ورسره مخالفت کوي؟ اسلام هم عقیده ده او هم قانون دا ۲ برخې سره نه جلا کیدونکي دي. دنیا وسیله ده او اخرت هدف چې یو له بل سره یې جلا کول ممکن نه دي. کله چې اخرت هدف وګرځي بیا نو په انسان کې دنیوي وسوسې د اعتدال حالت ته راځي او د دې سبب نه ګرځي چې اخرت دې ورباندې خراب کړي.

۳ـ موږ څو ځلي دا ویلي دي چې په ځمکه کې د انسان حیثیت د الله تعالی د خلیفه په توګه دی هغه داچې ځمکه آبادوي الهی عدالت او قانون په کې پلې کوي ترڅو انسانان د الله تعالی د مادي او معنوي نعمتونو څخه په کامله توګه برخمن شي او ځمکه د شر او فساد څخه پاک شي.

۴ـ که دین یوازې یو څو عبادات وای په قرانکریم او احادیثو کې به د ژوند هر اړخ لپاره احکام او ارشادات نه وای. دا چې ځینې انسانان دا ټول احکام نفې کوي د ا دلجاجت او حماقت څخه بل څه نه دی. الله تعالی هیڅوک د خپل دین په منلو نه دي مجبور کړي د دین منل او نه منل د هر انسان تر اختیار پورې ارتباط لري. څوک چې د الهی دین یو حکم هم ونه مني هغه د دین له دایرې څخه خارج شو.

۵ـ دوی غواړي چې دین تجزیه کړي خو د دوی دا کار بې ګټه دی. دوی په دې خبرو د دین څخه نسبتاً با خبره خلک نه شي غولولای بلکې د دوی هدف او ټارګیټ هغه تعلیم یافته ځوانان دي چې له خپل دین څخه بلکل نا خبره وي. دوی غواړي زموږ ځوانانو ته اسلام د تحریف شوي عیسویت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



چشمې کې در وپیژنې الحمدالله زموږ تعلیم یافته ځوانان ورځ تر بلې د خپل دین په حقیقت باندې پوهیږي. موږ له خپلو تعلیم یافته ځوانانو څخه دا هیله لرو چې د ډیر لږ وخت دې د خپل دین مطالعې لپاره ورکړي د دین حقیقت دې د عصر د منل شویو علماوو په کتابونو کې زده کړي دا به ډیر لوی ظلم او ناپوهي وي چې د اسلام داسې ښکلې دین ددښمنانو په غولونکو خبرو باندې پریږدي.

## هغه کارونه چې اسلام پرې ولاړ دی

هغه کارونه چې اسلام پرې ولاړ دی اوداسلام ارکان پنځه دي موږ باید دا خپل اعمال په دغو پنځو تګلارو په درلودو سره کلک کړو.په دې زمانه کې چې ددیني احکامو په اړه د خلکو سستي څومره زیاته شوې ده هر چاته معلومیږي تر دې چې تر ایمان وروسته تر ټولو مهم عبادت لمونځ دی دقیامت په ورځ به هم تر ټولو وړاندې دلمانځه پوښتنه کیږي.

د دغه مهم عبادت په اړه همداراز داسلام دنورو ارکانو زکات حج او رمضان په هکله له ناغیړی او سستی څخه کار اخستل کیږي.په داسې حال کې چې پکار خو داده چې په دې اړه له هرډول سستۍ په کلکه ځانونه وژغورو.

په کومو پنځه شیانو چې اسلام ولاړ دی هغه دادي. ( وعن ابن عمر (ض) قال قال رسول الله (ص) بنی الاسلام علی خمس.شهادة ان لا اله الا الله وان محمدرسول الله واقام الصلاة وایتاء الزکات وحج البیت وصوم رمضان)متفق علیه

ژباړه:له عبدالله بن عمر(ض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) وفرمایل: اسلام پر پنځوو شیانو جوړ شوی دی

۱- ترټولو لومړي ددې خبرې شاهدي ورکول چې له الله تعالی پرته بل څوک دعبادت وړنشته او محمد (ص) د الله تعالی رسول دی

۲- دلمانځه قایمول

۳- ذکوة ورکول

۴- حج کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- او درمضان روژې نیول.(بخاري او مسلم) په دې حدیث شریف کې داسلام تګلارو او دهغو سترو شیانو یادونه شوې چې اسلام پرې ولاړ دی.له دې پرته نور دین ددې بناء او تعمیر مکملات دي او معلومه خبره ده چې په تعمیر کې ژوند هغه وخت یا استوګنه ښه خوند کوي همدا راز تعمیر ښایسته وي او انسان پکې ډیر خوشحاله وي ځکه چې پوره وي. همدا راز هم دې کله چې یې ځوک دغه پنځه ارکان او بناوې عملي کړي نو اسلام موجود شو.نو داسلام تعمیر به هغه وخت هغه چا بشپړ کړی وي کله چې یې په ټول اسلام عمل کړی وي.

رسول الله (ص) په دې مبارک حدیث کې داسلام تشبیه دیوې خیمې سره کړې ده چې په پنځو ستنو ولاړه دی دشهادت کلمه دخیمې منځني ستنې په شان ده له هغه پرته خیمه دریدلای نشي.څلور ارکان یې دخیمی دهغو څلورو ستنو په شان دي چې دخیمې په څلورو خواو کې ولاړ وي.که منځنۍ ستنه نه وي نو خیمه نشي دریدلای خو که دا شتون ولري او دڅلورو خواو له ستنو څخه کوم یو نه وي نو خیمه به غورزیدلې یا کږه وي.

له حدیث شریف څخه یو دا خبره ښکاري چې له ایمان پرته عبادت معتبر نه دی.بله دا خبره دا معلومیږي چې دلمانځه له اداء کولو دزکوة له ورکولو او دحج له اداء کول (ځوک چې یې وس ولري) او درمضان دروژې له نیولو پرته ځوک پوره مسلمان نشي جوړیدلای. ددې حدیث شریف څخه مطلب دا نه دی چې فرایض په دې پنځو کې حاضر دي له دې پرته نور بل نشته بلکې له دې پرته نور هم شته.نو په دې اړه باید له هر ډول سستي او نا غیرې څخه ځان وژغورل شي تر څو داسلام پنځه اساسي خبرې عملي شي.

## اسلام په ظاهر او باطن کې بیلابیل منل

او دا دعوه هم انسان دایمان له کړۍ څخه اوباسي چې قرانکریم او سنت دوه اړخونه لري چې یو یې ظاهر او بل یې باطن دی او یو دبل برعکس دي.الله تعالی فرمايي ( انا انزلنه قراناً عربیا لعلکم تعقلوان )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:مونږ قران په تحیق سره اسان کړیدی ایا څوک شته چې عبرت حاصل کړي.او په بل ځای کې فرمایي ( ولقد یسرنا القران للذکر فهل مذکر)
ژباړه:او مونږ دا قران دشریعت یو اسانه ذریعه وگرځوله نو ایا څوک شته نصیحت قبلوونکې. ( وهذا لسان عربی مبین)
ژباړه:او دا څرگنده او روښانه عربي ژبه ده.دعربي ژبې دا ځانگړنه ده چې دخپلو قواعدو او مفرداتو په اعتبار سره ډیره مشهوره ده او هر هغه څوک چې دقران کریم او حدیث شریف پوهه لاسته راوړي نو هغه به دعربي ژبې د همغو قواعدو په ذریعه لاسته راوړي او هغه څوک چې له دې پرته دقرانکریم سنت تشریح او توضیح کول غواړي نو هغه به له قرانکریم او سنت څخه پرته به بل څه ته متوجه کیږي او د قرانکریم او سنت له کړی څخه وځي.

## د اسلام په وړاندې د دښمنانو ناسم او بی انصافه قضاوت

د مسیحي نړی د ساینس او مذهب تر منځ د اوږدې جگړې او کشمکش د ترخو خاطرو څخه تجربه د اسلام دښمنانو د اسلام سپیڅلي دین هم د پاپانو په واکنی قیاس کړ. ولې د دوی دا قیاس سر تر پایه غلط او نا انډوله و.
ځکه یو خوا مسیحي دین منسوخ او بل خوا تحریف شوی و. چې د انجیل ټوټه ټوټه کیدل یې هم ښکاره ثبوت دی او مونږ ته یې تحریف په نقل سره ثابت دی ( افتطمعون ان یومنوا لکم و قد کان فریق منهم یسمعون کلام الله ثم یحرفونه من بعد ما عقلوه و هم یعلمون ) بقره ۷۵
ژباړه: ایا تاسو تمه کوی (ای مسلمانانو) چې دوی به ایمان راوړي ( ستاسو په وینا) بې شکه چې یو ډله ( پخوا د بني اسرایلو) چې اوریدو به یې د الله تعالی کلام او بیا به یې اړولو ( مخ ) وروسته د پوهیدو هغه کلام لره. سره د دې چې دوی ( د دې کار په ناروا ) ښه پوهیدلو.
او نه د پاپانو واکمني په کومه دیني بنه لرله او نه خو د مسیحیانو د تثلیث عقیده او هم دا چې (نعوذباالله) حضرت عسی (ع) د خدای زوی دی هیڅ عقل نه شي منلای. بل خوا په دې هکله خپله مسحیانو په ډاگیزه توگه اعتراف هم د یادولو وړ دی چې د برتانیې مشهور تاریخ لیکونکی ویلز وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپا هیڅکله د حضرت عسی (ع) دین و نه پیژندلو هغه چې د خدای (ج) لخوا نازل شوی دی.

ننی مسیحیت د پولس لخوا جوړ شوی دی او هغه دین نه دی کوم چې په حضرت عسی (ع) نازل شوی و.

د اسلام دښمنان په دې باور دي چې که چیرې په دې خاورینه کره کې د اسلام رښتینی نظام پیاده شي نو د دوی استبداد واکمني حتماً د پښو لویږي او بیا به یې حیثیت او اعتبار له منځه ولاړ شي او ګټې به یې د زوال د خطر سره مخ شي نو ځکه د دین او سیاست تر منځ د بیلوالي غږ د یوې وسیلې په توګه پورته کوي تر څو دوی مسلمانان کمزوري کړي او بیا اسلام عملاً د سیاست له ډګر څخه وباسي او له منځه یوسي. په دې هکله د کلاد ستون هغه تاریخي خبره هیڅکله د هیریدو وړ نه دی چې د انګلستان د پارلمان په وړاندې یې کوي.

نوموړي د پارلمان خلکو ته مخامخ کیږي په لاس کې یې قرانکریم و او ویې ویل تر څو د مسلمانانو په سیمو کې دا کتاب موجود وي نو زمونږ پښې به دلته هم ټینګې نه شي.

د دین او سیاست د یووالي په هکله حقیقت روښانه دی د اسلام دښمنان په دې ښه پوهیږي چې ټول اسماني دینونه د الله تعالی لخوا اصلاً د افرادو او ټولنو د اصلاح په خاطر راغلي دي او دین په خپله پراخه داېره کې د هرڅه لپاره ځانګړي مقررات او قوانین لري.

## داسلام دښمن څوک دی

لویدیځ تل له اسلامي نړۍ سره دوستي نارې وهي خوګورو چې په څرنګه دوستانه توګه پرې تیری کوي نسلونه وژني هیوادونه تر ښکیلاک لاندې راولي او پانګې لوټوي...... دا هغه پوره حقیقت دي چې دتاریخ په پاڼو دصلیبي جګړو اروپايي تیریو کمونستي ښکیلاک ..... او اوس دامریکایي استعمار په ښه ثبت کړی دی. هغه څه چې واضح دي دا چې زمونږ تاریخي دښمن یوه شیبه هم داسلام او مسلمانانو دلمنځه وړلو له فکر نه هم ندي بې پروا شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د اديانو، سياسي، مکاتبو، هيوادونو نژادونو......له بيلتون سره سره بيا هم ټول داسلام په وړاندې په ګډ مورچل کې ولاړ دي. په لاندې کرښو کې له اسلام سره دهغوی د دښمني لاملونه او لارې چارې دهغوی دمشرانو، سياسي تمدارانو او مفکرينو له خولې په لنډ ډول بيا نيږي.

لومړې ديني انګيزه جورج ډبليو بوش پرافغانستان دصليبي جګړو ادامه وبلله.

ايوجين اورستو دامريکا دبهرنيو چارو دوزير معاون وايي. زمونږ او دعربو ترمنځ کړکيچ د دو اسلامي او مسيحي تمدونونو جګړه ده او يوه نيمه پيړۍ کيږي چې اسلامي تمدن دمسيحت په وړاندې په ګونډو شوی.

جنرال غورو د دمشق له نيولو وروسته دصلاح الدين ايوبي قبر د خپلو ناپاکو پښو په لغتو وواهه او ويي ويل :ای صلاح الدينه مونږ بيرته راغلو.په ۱۹۷٦ز کال کې داسرايلو غاصبو پوځونو بيت المقدس ته دننوتلو پر مهال او دا اشعار يې زمزمه کولو نن دخيبر په غچ کې محمد مړ شو او تر شا يې انجونی پريښودې.

دويم:دلويديځ دغوښتلو په وړاندې فولادي ديوال:

هغوی خپلو موخو ته درسيدو په لار کې يواځينی خنډ اسلام بولي.لور حسن براون: د اروپايي ښکيلاک په وړاندې يواځينی ديوال اسلام دی. دانګلستان پخواني صدر اعظم ګلادستون وايي:تر هغه چې قران دمسلمانانو په لاس کې وي نو هيڅ کله به اروپا پرې بريالې نه شي.

په الجزاير کې فرانسوي قومندان ويلي وو تر هغه چې دا الجزايريان قران لولي او په عربي خبرې کوي نو مونږ هيڅ کله پرې نشو بريالي کيدای. ځکه نو اړينه ده چې قران يې له زړونو او عربي يې له ژبو څخه لری کړو.

دريم يواځينی دښمن: شنون الدويه مجله - لندن د۱۹۹۰کال جنوري.لو يديځ تل اسلام ته دخپل نوي دښمن په سترګه ګوري ځکه دا دين زمونږ دتکنالوژۍ دپرمختګ سره سره بيا هم د لوديځ په مقابل کې لکه سپر ولاړ دی.نن اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سل کاله وړاندې څخه ډېر پیاوړی دی او اسلامي تمدن دلویدیځ والو په وړاندی یوازینی گواښ دی.

فانسوي فوکو یاما په ۲۰۰۱ کې وویل زمونږ ستونزه یوازې له سیاسي اسلام او بنسټ پالو ډلو سره نه ده بلکې اصلي ستونزه داده چې په وروستیو کلونو کې اسلام د ډیموکراسۍ پر وړاندې په متعارض قوت اوښتی.

البرمشادور وایي څوک پوهیږي؟ کیدای شي مسلمانان ټوله نړی یو ځل بیا تر واک لاندې راولي. زه فالبین نه یم خو بې شمیره کرښې داښي چې دا کار شونی دی هغه مهال به بیا اتوم ... دهغوی مخه نشي نیولای.

اشعیا بومان وایي. لودیځ باید له اسلام څخه وویریږي .ځکه چې کومه ورځ دې دین له مکې څخه سر راپورته کړی تر اوسه یې لارویان کم شوي نه دي بلکې ورځ تر بلې په زیاتیدو دي.

او بله دا چې جهاد داسلام له ارکانو څخه دی. په ۱۹۵۲کال د فرانسې دبهرنیو چارو وزارت یو مقام وویل.هغه حقیقي گواښ چې مونږ ته متوجه دی اوپه سخته موتهدیو وي اسلام دی. له دې امله چې مسلمانان ځان ته له لویدیځ څخه نړۍ لري نو ځکه دوی خپل اصیل تمدن لري او که چیرې وسایل په لاس ورشي نو له خپل بډایه تمدن سره به پر نړۍ او دلویدیځوال تمدن نښې به لمنځه یوسي.

## وایي اسلام له منځه یوسئ

د پورتنیو دلایلو په رڼا کې لویدیځ له اسلام اود مسلمانانو لمنځه وړل دځان لپاره یوائینی غوره انتخاب گڼي.فرانسوي متشرق کیمون وایي. زه په دې باور یم چې باید دمسلمانانو پنځمه برخه له منځه یوسو اوپاتې نور یې په درنو کارونو وگومارو.همدارنگه کعبه او دمحمد قبر باید ړنگ شي او دمحمد جسد په موزیم کې گېښودل شي. دکفارو لخوا داسلام دلمنځه وړلو لارې چارې

۱ـ دمسلمانانو نسل وژنه تاریخ گواه دی چې لویدیځ تل په بیلابیلو څیرو لکه صلیبي لښکرې،کمونیزم،صهیونیزم، فرانسوي،ایټالیایي او بریتانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکیلاک..... او اوس امریکایي خونړي استعمار... په اسلامي هیوادونو کې په سترو نسل وژنو لاس پورې کړي او میلونه مسلمانان یې شهیدان کړل.

۲ـ داسلامي حکومت له منځه وړل داسلامي خلافت له سقوط او د ترکیې له اشغال وروسته بریتانیا ددغه هیواد دخپلواکۍ لپاره لاندې شرطونه کېښودل

۱ـ د اسلامي خلافت معافي اعلانول.

۲ـ د خلافت دبیا راژوندي کولو په موخه د ټولو موخو زینتونه له منځه وړل.

۳ـ له اسلام سره د ترکیې اړیکې شلول.

۴ـ داسلامي شریعت پر ځای دوضعي قانون نافذول . کله چې د انګلستان پارلمان خپل پوځونه له ترکیې نه په وتلو کې کړل نو دکورنیو چارو وزیر یې وویل مونږ ترکیه داسې لمنځه ویوړه چې هیڅ کله بیا په پښو نشي دریدلای ځکه مونږ دهغې قوت چې په دوو توکو اسلام او خلافت کې وو مونږ له منځه ویوړ همدا وه چې دپارلمان ټولو غړو یې لاسونه وپړکول.

۳ـ د قرانکریم له منځه وړل او داسلام سپکاوې دناکلي تبشیري وایي. مونږ باید قران چې داسلامستره وسله ده. بیرته داسلام پر ضد وکاروو تر څو وکولای شوپه پوره ډول دا دین لمنځه یوسو.

۴ـ د مسلمان اخلاق فاسدول. حموځیل زویمر دتشیري سازمانونو مشر خپل افرادو ته وایی. په اسلامي هیوادونو کې ستاسو دنده له اسلام څخه دمسلمانانو لرې کول دي تر څو داسې مخلوق ترې جوړ شي چې له الله او اخلاقو یې اړیکې شلیدلې وي.

۵ـ د ښوونې او روزنې نظام بې دینه کول. The muslim world مجله لیکي لویدیځ هڅه کوي چې داسلامي هیوادونودزدکړوموسسی

له کاره وغورځوي او داسلام او لویدیځ په نامه سازمان جوړکړي تر څو په مهارت سره داسلامي هیوادونو دزدکړو نصاب په ځانګړې توګه دتاریخ مضمون په څرګنده اویا ضمیني توګه داخلاقي اصولو په هکله څه حکم بیان کړی دوی غواړي جوماتونه تر خپلې ولکې لاندې راولي تر څوهلته داسې درځونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورنکړل شي چې له امریکا او لویدیځ سره دخلکو کینه راوپارول شي. تاکلي وايي. باید په اسلامي هـیوادونو کې لویدیځوال غـیـر دیني ښوونځي رواج کړي څکه په دې ښوونځیو کې له زده کړې وروسته د ډیرو مسلمانانو عـقـاید او الـتـزایم کمزوري شوي دي. زویمر وايي. که چـیـرې مسلمانان له عـیسوي ښوونځیو سره کرکه ولري نو لازمه ده چې غـیـر دیني ښوونځي ورته جوړشي څکه د همدې ښوونځیو په مرسته مونږ په زده کونکو کې اسلامي روحیه کمزوری کولای شو. ٦ـ د مسلمانانو یووالی له منځه وړل. ددې موخې لپاره نـشـنـلـیـزم د اسلامي هـیوادونو ویش اود ژبې، قوم، نژاد او سمت ....په نامه دمسلمانانو له خپل منځي جګـړو څخه کار اخلي.

سیمـون وايي. اسلامي یووالی دټـولو مسلمانانو هـیلې سره یو ځای کوي او هـغـوی داروپایي ښکیلاک له منګـولو ژغـوري نو څکه باید دهـغـوی له یووالي څخه په کـلکه مخنیوی وشي.

لورانس براون وايي. باید مسلمانان او عـرب په اخـتـلاف کې وساتل شي تر څو قـوت لاسته رانه وړي په ۱۹۰۷ کال کې اروپا په یو میاشـتـني کـنـفـرانـس کې له ډیرو بحثونو او منـاقـشې وروسته مسلمانان دځان لپاره تر ټـولو ستر ګواښ وباله او هـوډ یې وکړ چې دمنځني ختیځ دهـیوادونو له یو کیدو څخه به په کـلکه مخنیوی کوي. بلاخره یې پریکـړه وکړه چې دسویز کانال ختیځ ته یو پردی او دمسلمانانو دښمن قـوم راولي تر څو عـرب د تل لپار تیت پاتې شي هـماغه وو چې دعـربو په زړه کې یې صهـیـونستي هـیواد ډبـره کیښوده.

۷ـ اسلام ناوړه څیره معـرفي کول. درسنیو،کتابونو،کنـفـرانسونو او نورو وسایلو له لاری هـڅه کوي چې اسلام ناسم انځور وړاندې کړي ترڅـو له یوې خوا مسلمانان دخپل دیـن په هکـله په شک کې واچوي او له بل لوري دنورو دمسلمانـیـدو مخه ونیسي.

۸ـ په اسلامي نړۍ کې دسیاسي دکـتاریو را منځـته کول. امریکایي متـشرق سمت وايي. که چیـرې مسلمانانو ته په خـپلـو هـیوادونو کې ازادي ورکړل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو يـقـيناً چې هـلته اسلام بريالې کيـږي. ځکه نو يوازې د دکـتاريو له لارې کولای شو مسلمان مـلتـونه له خپل ديـن څخه لرې وساتو.

۹ـ مسلمانان له صنعـتي قوت څخه لرې ساتـل. دفـرانسې د بهرنيو چارو وزارت لوړ پوړي چارواکي وايي. مونږ بايد مسلمانانو ته ټول هغه شيان ورکړو چې غـواړي يې. ترڅو يې له زړونو څخه دتوليد هـيله لرې کړو که چيرې دوی له فـني او صنعـتي کمـزوريو له پنجو څخه خلاص شو نو بې له شکه به له لويديځ څخه دباداری تاج واخلي.

۱۰ـ د مسلمانانو دريـښـتيـنـو مشرانـو د واک ته رسيدو څخه مخـنـيـوی. مسـتـشرق مونـتگـوري وات وايي. که چيرې مسلمانان ور لارښود بيا ومومي نو کيدای شي يو ځل بيا نړی ته دستر سياسي ځواک په توگه وځـليـږي. حب وايي.اسلامي خوځـښـتـونه په ويرونکې چـټـکـتـيـا رشد کوي دوی يوازې دقـيادت کمښت لري. هـمدومره کمه ده چې يوبل صلاح الـدين ايوبي را پـيـدا شي.

داسرايـلـو پخوانی صدراعظم بن گورن وايي. هغه څه چې زه ترينه ډېر ويـريـږم دا چې په عـربي نړی کې کوم بل پـيغمبر راپـيـدا نـشي.

۱۱ـ دښځو بې لارې کول دجنسي انحرافـاتو خپـرول. يوفـرماسوني وايي. مونږ بايد ښځې په منگـولو کې راولـو کله چې ښځه زنا ته چـمـتـو شي نو د دين پـيـاوړې لښکـر له منځه وړي د شرابو پـيـاله او ښکـلې نجلې دمسلمانانو دماتولو لپاره له زرگـونو توپخانو ډيـر اغـيـزمن دي. ۱۲ـ دمسيحت خپرول. دې موخې ته د رسيدو لپاره ۱۲۰۸۸ مسلکي مؤسيسې د نيـشـيـريانو د روزنې ۹۹۲۰۰ پوهنځي ۴۲۰۸۵۰ مبشريـن، ۴۴۰۰۰مجلې، ۲۲۴۰تلـويزوني چينلونه، ۱۰٦۷۳مکتبونه، ٦۸۰ دارالـيـتامونه او ۱۰۰۵۰روغـتونونه په اسلامي هـيوادونو کې فعـاليت کوي هـمداراز په ۱۹۹۱کال پورې ۵۳ مـيلونه نسخې او انجيلونه په اسلامي نړی کې ويشل شوي دي.

۱۳ـ دنوي اسلام رامنځته کول (منځ لارې اسلام) منځلارې يا سازشکار اسلام. هغه اسلام دی چې دغـرب او امريکا له ارزښـتـونو او اصولو سره اړخ ولگـوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی له واکمنی سره جوړ جاړې وکړي دوی دا ډول اسلام دمعیار په توګه منلی اوهڅه کوي چې په ټولو اسلامي هیوادونو کې يې پلې کړي. دانګلستان لومړي وزیرپه ۲۰۰۱ کال دستمبر په میاشت کې داسلامي هیوادنو له واکمنانو وغوښتل چې دمنځلاري اسلام په پلې کولو کې پوره هڅه وکړي.

همداراز دامریکا دبهرنیو چارو پخواني وزیر کولن پاول دکنستا ایالت په لوفسیل پوهنتون کې دیوی وینا په ترڅ کې وویل مونږ غواړو د اسلامي نړۍ کلتوري سیاسي او عقیدوي ماهیت دخپل فکر او عقیدی په بنسټ واړوو. دلویدیځ له خوا په اسلامي ټولنو کې جګړه. په اسلامي ټولنو کی په مختلفو نومونو او دمختلفو اړخونو په وړاندې جګړه پیل شوی ده. دبیلګې په توګه.

۱ داسلامي شریعت په وړاندې ............... سیکولرزم

۲ داسلامي نظام په وړاندې .................. ډیموکراسي

۳ داسلامي اخلاقو په وړاندې ................ لیسرالیزم

۴ داسلامي اخوت په وړاندې ................ نشنلیزم

۵ داسلامي اقتصاد په وړاندې ............... ازاد بازار

٦ دحساس ختیځ په وړاندې ................ ویسټرنایزیشن

## دظلم دمخنیوي لپاره دجهاد اجازه

قال للهُ تعالی (اذن للذین یقاتلون بانهم ظلموا وان الله علی نصرهم لقدیرٌ الذین اخرجوا من دیارهم بغیر حق الا ان یقولوا ربنا الله ولولا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع و بیع و صلوات و مساجد یذکر فیها اسم الله کثیرا ولینصرن الله من ینصره ان الله لقوي عزیزٌ الذین ان مکنهم في الارض اقاموا الصلاة و اتوا الزکاة و امروا بالمعروف و نهوا عن المنکر والله عاقبة الامور ) الحج:۳۹ ۴۱

ژباړه: هغو کسانو ته دجهاد اجازه ورکړل شوه (چې دهغوی پر خلاف په تیري او جګړه لاس پورې کیږي) ځکه هغوی مظلومان دي او الله(ج)په یقیني ډول دهغو دملاتړ وس او توان لري. داهغه کسان دي چې له خپلو کورونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ناحقه وایستل شول، یوازې په دې جرم، چې هغوی وایي زمونږ رب الله تعالی دی. که الله تعالی خلک یو د بل په واسطه دفعه نه کړي او مخه یې ونه نیسي، نو دراهبانو، خانقاوې، دعیسویانو کلیساګانې، او یهودیانو دعبادت ځایونه او چې په هغو کې دالله تعالی نوم ډیر زیات اخستل کیږي، دا ټول به نړول شوي وای. الله تعالی به هرومرو دهغو کسانو ملاتړ وي څوک چې دهغه د دین ملاتړ وي، الله تعالی ډیر زورور او برلاسې دی.

په اسلام کې دجهاد مشروعیت مفسیرینو ذکر شوي ایاتونه هغه لومړني ایاتونه دي چې دجهاد دمشروعیت او روا والي په اړه نازل شوي دي. کله چې داسلام پیغمبر په مکه کې وه، مشرکانو دمسلمانانو کوچنی ډله ډیره ځوروله، د رسول الله (ص) یاران او ملګري به وهل شوي او ټپي شوي د ده حضور ته راتلل او خپل مظلومیت به یې د الله رسول ته وړاندې کاوه، خو رسول الله (ص) به دوی ته ویل:دصبراو زغم نه کار واخلی ځکه چې زه په جنګ نه یم مامور شوی، تر دې چې رسول الله (ص) هجرت وکړ او دغه ایات نازل شو.

## د جهاد پایله

عبادة بن الصامت (رض) وایي. چې د اسلام ستر پیغمبر رسول الله (ص) وویل. د الله په لاره کې جهاد وکړئ ځکه دا دجنت د دروازو څخه یوه داسې دروازه ده چې غمونه او اندیښنې پرې له منځه وړل کیږي.

د جهاد اغیز د غمونو او اندیښنو په لمنځه وړلو کې په وجدان سره معلومیدلای شي ځکه کله چې باطل پر نفس یرغل وکړي نو په رنځونو او غمونو اخته له ویرې او ترخې سره لاس او ګریوان شي او کله چې جهاد ته ملا وتړي نو په هغه کې خوشحالي او ځواکمني راپیدا شي اندیښنې او غمونه یې له منځه ولاړ شي.

الله تعالی وایي .( قاتلوهم یعذبهم الله بایدیکم و یخزهم و ینصرکم علیهم ویشف صدور قوم مومنینَ‌ٓ و یذهب غیظ قلوبهم ویتوب الله علی من یشاء والله علیم حکیم )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له هغوی سره و جنګیږئ، الله تعالی به ستاسې په لاسونو هغوی ته سزا ورکړي او هغوی به ذلیل او خوار کړي او د هغوی په مقابل کې به ستاسې مرسته وکړي او د ډېرو مومنانو زړونه به یخ کړي. او د هغوې د زړونو تاو به ایسته کړي او چاته یې چې خوښه شي د توبې توفیق به هم ورکړي. الله تعالی پر هر څه پوهیدونکی حکمت ولا دی.

د جهاد رول د غمونو او اندېښنو په لمنځه وړلو کې بیخي پیاوړي دی.

ایمان څه شی دی حضرت ابو امامه فرمایی. چې یو کس له رسول الله (ص) څخه پوښتنه وکړه چې ایمان څه شی دی نښه یې څه ده؟ نو رسول الله(ص)ورته وفرمایل ( اذ اسرتک حسنتک وساءتک فایئت مؤمن) رواه احمد ژباړه: کله چی ستا نیکي تا خوشحاله کړي او ستا بدي (ګناه) تاته بد ښکاره شي پرې غمجن شوې نو ته مؤمن یې.

## د ایمان تعـریف

الف: ایمان په لغت کې یقین باور تصدیق آمن ډاډ اطمنان او اعتماد ته ویل کیږي.

ب: د ایمان اصطلاحي او شرعي تعریف ( الایمان هو اقراربالسان وتصدیق بالقلب وعمل بالارکان)

ژباړه: ایمان په ژبه اقرارکول ( د کلیمي طیبې) او په زړه کې د الله تعالی په یووالي یقین لرل او په غړو او اندامونو باندې عمل کولو ته ویل کیږي.

ایمان په ژبه پورې هم اړه لري. لکه د قرانکریم تلاوت اذکار استغفار دعا غوښتل امربالمعروف او نهی عن المنکر کول.

دوهم تعریف: ( الایمان عبارة عن جمیع الطاعت الظاهرة ولباطنة ) ژباړه: ایمان د ټولو ښکاره او پټو اطاعتونو څخه عبارت دی ( ښکاره اعمال لکه لمونځ او عام عبادات او باطني اعمال لکه د الله تعالی سره مینه او د هغه څخه ویره کول.)

دریم تعریف: امام احمد بن حنبل (رح) کړی دی فرمایي ( الایمان هو عقدالقلب والتزام طاعة )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ایمان د زړه تړاو او په هر حال کې د الله تعالی پیروي او اطاعت پرځان لازمول دي.

ایمان په زړه پورې هم اړه لري دالله تعالی په یووالي پوره باورلرل چې په ربوبیت او الوهیت او په نومونو او صفاتو کې د الله تعالی سره شریک نه ګرځول.

څلورم تعریف: د امام حسن بصیري (رح) تعریف دی ( لیس الایمان بالتحلي ولا بالتمني ولکن ما و قر فی القلب وصدقة العمل )

ژباړه: ایمان ظاهري ښکلا او تشې ارزوګانې نه دي بلکې ایمان هغه دی چې په زړه کې ځای و نیسي او عمل یې تصدیق وکړي.

## د ایمان اصلي تعریف

موږ یوازې د ایمان همدومره تعریف پیژنو چې ( امنت با الله و ملئکته و کتبه و رسله والیوم الاخر والقدر خیره و شره من الله تعالی والبعث بعدالموت )

یعنې ایمان په مړینه بشپړ شو ځکه دلته د مرګ کلمه راغله او هلته د ایمان بشپړاوی و شو ایمان مو یوازې تر دې بریده یاد کړی دی او تاسې ګورئ چې پیغمبر (ص) د ایمان تعریف په څه ډول سره کوي او کوم معیار ورته ټاکي چې ایمان په اصل کې څه شی دی د رسول الله (ص) مبارکه وینا چې تقریباً د هرې جمعې په حطبه به یې اوروله او موږ به هم وار په وار اوریدلي وي. خو زموږ بد مرغي داده چې موږ ورته پاملرنه نه کوو او هغه داده ( لاایمان لمن لاامانت له ولادین لمن لاعهدله )

ژباړه: د هغه چا لپاره ایمان نشته چې امانتداري پکې نه وي او د هغه چا لپاره دین نشته چې ژمنه نه تر سره کوي. یعنې هغه څوک چې ژمنه نه تر سره کوي رښتوني نه وي. امانت دار نه وي نو د ده هیڅ دین نشته او د اسلام سره هیڅ اړیکه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ایمان حقیقت

۱ـ د مومن زړه سالم او روغ زړه وي د الله تعالی لور ته مخ اړوي چې پایله یې د حق پیژندنه او د هغه څخه پیروي ده سالم زړه تل د اسلامي تعلیم لپاره خلاص وي او د ایمان دعوت قبلوي.

۲ـ دانسان زړه طبعتا غافل کیږي او هیره لري لیکن د الله تعالی د یاد په خاطر د مستقیمي لارې څخه نه خارجیږي. سالم زړه په فکر کولو تعلیم او د الله تعالی په یاد سره د خپل هدف ته رسیږي.

۳ـ ترڅو چې موږ خپله د خپلو زړونو په اصلاح کې کوښښ و نکړو هیڅکله به زموږ وضع له دې څخه ښه نه شي. زړونه نه اصلاح کیږي تر څو د ایمان ونه پکې خپلې ریښې کلکې نه کړي.

۴ـ موږ ته الله تعالی داسې وسایل راکړي دي چې د هغو په ذریعه علم حاصلولای شو ددې وسایلو د شکر ادا کولو لپاره لومړی شرط د الله تعالی ذات پیژندل دي. کله چې انسان الله تعالی ونه پیژنی نه شي کولای د هغه لارښونې چې د دنیا او اخرت نیکمرغۍ ورپورې تړلي دي ترلاسه کړي د صحیح ایمان حاصلولو لاره علم دی د تقلید له مخې ایمان په لومړنۍ شیبه کې متزلزل کیږي.

۵ـ هر هغه اجتماعي وضع چې د ټولنې اقتصادي پرمختګ ګډوډوي او د اقتصاد او فکر رشد مخه نیسي داسې وضع د بقا وړتیا نه لري ځکه چې د انسان فطرت پرمختګ غواړي.

٦ـ او کله چې د اقتصادي وروسته پاتې والي سره انساني شرافت او ارزښتونه هم برباد وي اخلاق هم فاسد وي. هغه ایماني روح چې د ټولنې او حکومت د بقا لپاره لازم وي له منځه ځي په ټولنه کې بې اعتمادي بد بیني او اضطراب منځ ته راځي داسې وضع بقا نه پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ایمان بنسټ

د ایمان په بـنـسټـونو کې ترټـولو ستر بنسټ توحید دی. د توحید په اړه په قـرانکریم کې ډیـر ایتونه شته خو موږ ته چې تر ټولو بنسټـیـز ایت ښکاري هغه د سورت فاتحې ایت دي چې موږ د لمونځ په هـر رکات کې لولو ( ایاک نعـبد و ایاک نـستعـیـن )

ژباړه : ای الله تعالی موږ ستا عبادت کوو او یوازې له تا څخه مرسته غـواړو. یوازې ستا پر وړاندې د خپلې غـوښـتـنې لپاره لاسونه پرانیـزو. د ایمان دوه بنسټونه دا دي

۱ـ عبادت یوازې د الله تعالی

۲ــ د استعانـت د مرستې غـوښـتـل یوازې له الله تعالی څخه د استعانت معنی دا ده چې له یو ځای څخه په دې یـقـیـن سره د مرستې غـوښـتـنه چې دا زما د ټولو کارونوکوونکی او سموونکی دی او زما وران کار جوړوي نو ددې ته استعانـت وایي.

او که زه چاته ووایم چې ماته یو ګیلاس اوبه راوړه نو دا استعانت نه دی او همداشان که له الله تعالی څخه و غـواړي چې ای الله تعالی زه وږی یم ماته خوراک راکړه دا استعانـت شوه او که ډاکټر ته د درملنی لپاره لاړ شي نو دا استعانت نه دی او که د شفاء لپاره لاس اوچـتـوي دا استعانـت شو په نړۍ د هـر څه د لیدو سره د اصل سبب فعال حـقـیـقـي یعنې ریـښـتـونې کوونکې د قادر مطـلق الله تعالی پـیـژندل له هغه څخه غـوښـتـنـه دا استعانت دی یعـنې بنده ګی یوازې د الله تعالی او دداسې مرسته غـوښـتـنـه یوازې له الله تعالی څخه نو دا دوه شیان ایمان بنسـټـونه دي او شرک هـم دا دوه بـنـسـټـونه لري یعنې د الله تعالی سره په عبادت کې بل څوک شریکـول.

## دایمان ارزښت

الله تعالی فـرمایي ( بل الله یمن عـلیکم ان هـدا کم للایمان )

ژباړه: بلکې الله تعالی پرتاسې احسان باروي چې هغه تاسې ته د ایمان لارښوونه وکړه همغه ستر نعـمـت او لوریــیـنه چې یوازې هوښیارانو ته جوته ده. دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې کله یو مومن کافر ته وګوري او همدغه وخت د الله تعالی ستر نعمت ( د اسلام دین ) را په زړه کړي چې دې په خپل رب نه کافر او منکر نه دی او د هغه د قدرت نومونه او صفتونو په وړاندې مبارزې ته نه دی را پورته شوی.
الله تعالی وایي ( افمن کان مومنا کمن کان فاسقاً لایستوون ]
ژباړه: ایا هماغه څوک چې مومن دی له فاسق سره مساوي دی ؟

## د ایمان غوښتنې

ایمان تشه فلسفه نه ده چې له عملي ژوند سره یې اړیکه نه وي ایمان ځینې غوښتنې لري چې موږ ورته په لاندې توګه اشاره کوو.
په الهی نظام ټینګ باور الله تعالی او رسول الله (ص) ته تسلیمي د فرایضو سرته رسول د واجباتو سرته رسول او له نارواو څخه ځان ساتل توبه او استغفار په نیکیو امر او له بدو چارو څخه منعه او د الله تعالی دین ته بلنه او جهاد د مومنانو سره ملګرتیا او دکافرانو څخه بیزارتیا د ایمان غوښتنې دي.

## دایمان څانګې

ایمان څه د پاسه ۷۰ اویا څانګې لري او دلیل ورباندې دا حدیث دی چې ( قال رسول الله (ص) الایمان بضع و سبعون شعبة اعلاها قول لااله الاالله وارناها اماطة الاذی عن الطریق ولحیا شعبة من الایمان )
ژباړه: رسول الله (ص) فرمایې. چې ایمان څه د پاسه ۷۰ اویا څانګې لري. چې د ټولونه پکې لوړ او د جګې مرتبې او درجې ( لااله الاالله) ویل دي او د ټیټې مرتبې والا څانګه هغه د لارې څخه د ضرري شیانو لرې کول دي او همدارنګه حیاء د ایمان یوه برخه ده.

## ایمان او ثبات

عن سفیان بن عبدالله (رض) قال قلت: یارسول الله ! قل لي في الاسلام قولا لا اسال عنه احدا غیرک قال « قل امنت باالله ثم استقتم » رواه مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له حضرت سفیان بن عبدالله څخه روایت دی چې پیغمبر (ص) ته مې عرض وکړ. ای دالله پیغمبره! د اسلام په اړه راته یو داسې خبره وکړه چې په دې اړه له تا څخه وروسته له بل چا څخه د پوښتنې ضرورت پاتې نشي. نو یې و فرمایل : ووایه په الله تعالی ایمان لرم او بیا پرې ټینګ اوسه.

مومن دایمان له برکته هیڅکله نه پریشانه کیږي، ځکه چې دې پر هغه پروردګار ایمان او عقیده لري چې د ټولو کایناتو مالک او متصرف دی هر څه د هغه په لاس کې دي او مومن په دې هم پوهیږي چې یوازې مادیات د انسان ټول ستونزې نشي حل کولای او د ده اړتیاوې نه پوره کوي په همدې بناء د خپل پروردګار په بنده ګی او اطاعت کلک ولاړ وي.

## د محدیثنو کرامو په اند ایمان درې برخې دی

۱ـ تصدیق بالقلب: یعنې د الله تعالی په وحدانیت (یووالي ) او د هغه د رسول (ص) په رسالت او د اسلام په حقانیت د زړه له تل نه باور لرل او په دې باور او اعتماد د زړه او دماغ مطمئن کیدل.

۲ـ اقرار باللسان: یعنې د زړه دا یقین او عقیده په ژبه اقرار او څرګندونه.

۳ـ اعمال بالجوارح: یعنې په جسماني بڼه د دیني احکامو او لارښونو په عملي کولو سره د زړه یقین او اعتماد څرګندونه.

## ایمان لویه درملنه ده

دنفسي ناروغیو متخصص دوکتور کارل جانګ د خپل کتاب نوی انسان د روح په لټه کې په (۲٦۳) مخ کې وایي.

د تیرو دیرشو کلونو په اوږدو کې له نړۍ څخه یو شمیر اشخاص د مشورې په خاطر ماته راغلل. ما سلګونو خلکو درملنه کړې، چې زیاتره خلک پکې هماغه کسان و چې منځ مهاله عمرونه یې درلودل، په دې معنی چې له ۳۵ پنځه دیرشو کلونو څخه د زیات عمر خاوندان وو، په دوی کې د هر چا ستونزه همدا وه چې د یوې دیني پناه ګاه په لټه کې و، تر هغې له دغې لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح ژوند وکړي ! زه دا ویلای شم چې هـر یو یې ناروغ و، ځکه چې هغوی هماغه څه له لاسه ورکړي و، چې دین یې مسلمانانو ته ورکوي او انسان تر څو حـقیـقي ایمان ترلاسه نکړي، رغیـدای نشي.

## ایمان ژوند دی

حـقیـقي بد مرغه خلک هغه دي، چې د ایمان له نور او د یقیـن له شـتـمنۍ څخه بې برخې وي، هغـوی تـل نا امیده ذلـیـله او سپک ژوند کوي ( و من اعـرض عـن ذکـری فان له معـیـشـة ضنکا )

ژباړه: او څوک چې زما له ذکـر (دنصیحت له درس) نه مخ واړوي د هغه لپاره به په دنیا کې تـنـګ ژوند وي.

د نیکمرغۍ یوازینۍ لاره پر رب الـعـلـمیـن ذات ایمان راړول دي، ایمان د انسان نـفـس پاکوي، خپګان او نا هیلي یې له منځه وړي او خوښي وربښي.

اصلاً له ایمان پرته ژوند هـیڅ خوند او معـنـی نه لري، هغه ملحـدین چې د ایمان له نعـمت نه بې برخې دي، باید ځان وژنه وکړي، ځکه په دې ډول به د دنـیـوي ژوند له ستونزو او اندېښنو څخه به خلاصون ومومي.

له ایمان پرته ژوند ستره بدمرغي ده او چا چې له دغې لارې څخه سرغـړونه کړې، د تلپاتې لعنت طوق یې تر غاړه شوی.

( ونـقـلـب افـئدتهـم وابصارهـم کما لم یومنوا به اول مرة ونذرهـم فی طغـیانهـم یعـمهون )

ژباړه: موږ په هماغه شان د دوی زړونه او نظرونه اړوو، لکه څنګه چې دوی لومړی ځل ایمان پرې نه و راوړی. موږ دوی د دوی په هـمدې سرکشۍ کې لا لهـانده پریـږدو.

د تیرو پـیـړیو له تجربو څخه عـقـل دا لاسته راوړنه کړې چې بتان،خرافات، کـفـر، لعـنـت او الحاد، دروغ دي او رسولان (ع) رښـتـیني دي، عـزت او پادشاهي د الله تعالی په لاس کې ده او هغه پر ټولو شیانو واکمن دی.

وخت رارسیدلی، چې نړۍ تر اوږدې تجربې وروسته پر دې قانع شي چې له یو الله تعالی پرته بل هیڅوک د عبادت وړ نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر انسان نیکمرغي او هوسا ژوند د هغه د ایمان په قـوت او ضعـف پورې اړه لري، څومره چې د چا ایمان قـوي وي، هـومره به نیکمرغـه او د آرامۍ ژوند تیـروي.

( من عمل صالحا من ذکـر او انـثی وهو مومن فلـنحـیـینه حیاة طـیـبـة ولنجزینهـم اجرهـم باحسن ما کانوا یعملون)

ژباړه: څوک چې ښه عمل وکړي، هغه که نارینه وي او که ښځه، په دې شرط چې مومن وي، پر هغه به موږ په دنیا کې سپـیـڅلی ژوند تیـر کړو او ( اخرت کې به) دغـسې خلکـو ته د هغو اجر له ډیرو ښو عـملونو سره سم ورکړو.

مومنې ښځې او سړي د الله تعالی د خوښۍ لپاره خپل ژوند سپـیـڅلی تـیـروي.

## د ایمان د کمزورتیا توکي

د ایمان د کمزورتیا عـوامل په لاندې ډول ذکر کیـږي.

۱ـ د ایمانی قضاء څخه لیرې وال.

۲ـ له صالح مرجې څخه بې برخې کیدل.

۳ـ د دیني او شر عي علومو د زده کړې څخه مخ اړول.

۴ـ د گناهـونو څخه ډک چاپـیریال کې استوگنه.

۵ـ دنیوي شیانو سره د زړه تړل او اوږدې هـیلې درلودل.

## د ایمان د قـوت توکي

دهـر یو شي لپاره الله تعالی توکې پـیـدا کړي دي د ایمان د پیـاوړتیا او قـوت لپاره هـم توکې او وسایل شـته چې موږ ورته په لاندې توگه اشاره کوو.

۱ـ علم: په عـلم کې زیاتوالي د الله تعالی د نومونو پـیـژندنه او په معنا یې پوهه تر لاسه کول او د رسول الله (ص) سیرت او صورت پـیـژندل د نبوي احادیثو زده کړه ایمان ته پـیـاوړتیا بخښي.

۲ـ نیک عمل: نیک عمل او طاعـت هم د انسان ایمان کـلکوي دا ځکه چې عـمل د ایمان عملي طـبـیـق دی د الله تعالی په بنده گۍ کې زیار او له مخلوق سره ښیگـڼه دعـوت الی الله له کفـر او شرک څخه ډډه د فرایضو او نوافـلـو پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول الله تعالی سره مناجات د قرانکریم تلاوت او په ګوښه ځای کې الله تعالی ته زاري او د الله تعالی دین ته بلنه ټول پکې شامل دي.

۳ـ ذکر: دالله تعالی ذکر او د قرانکریم تلاوت د الله په مخلوقاتو کې غور او فکر د الله تعالی په عظمت قدرت او لوړو صفاتو پوهه حاصلول ستر ذکر ګڼل کیږي.

۴ـ د نیکانو ملګرتیا: له نیکانو سره د ملګرتیا په نتیجه کې دانس او جن شیطانانو اغیز کمیږي مګر ددې پر خلاف له ماده پالو او بد بین خلکو سره په نږدې اړیکو سره ایمان کمزورې کیږي.

## د ایمان ځواکمن تیا او کمزورتیا

د قرانکریم ایتونه او نبوي مبارک احادیث په دې دلیل دي چې ایمان قوت او ضعف مني د ایمان اساسات د ټولو خلکو مشترک دي کموالی په کې نشي رامنځ ته کیدای البته د ایمان په عیب کې کموالی او زیاتوالی راځي.

د مثال په توګه ټول خلک عقل لري مګر نو عیب یې توپیر لري ځینې کم عقل او ځینې نور بیا د ستر عقل څښتنان وي ایمان مضبوط کیږی په طاعت سره او کمزورې کیږی په معصیت سره همدارنګه دعالم او جاهل ایمان یو شی نه ده.

## د کمزورې ایمان نښې او نښانې

په دې باور یو چې د فتنو په نني زمانه کې په لاندې نښو څخه ځینې په موږ او تاسو کې وي. دا بدیانې له ځان سره یاداښت کړئ او په قراره قراره له یو یو څخه پرهیز وکړئ او الله تعالی ته توبه وباسې .

۱ـ خپل ورځني کارونه او مهال ویش د لمانځه پر وختونو برابرول نو ځکه مو زیات وخت لمونځ قضاء یا بې جماعته وي.

۲ـ ورځې او شپې پرمونږ تیریږي خو موږ د قرانکریم تلاوت نه کوو ځکه چې موږ مصروف یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ـ نیک او ښه عـملونو پریـږدو ځه دا کار به سبا وکړم بله ورځ به وکړم اخیـر به پاتې شي.

۴ـ موږ دالله تعالی څخه د جنت غـوښـتـنه دومره نه کوو څومره چې د دنیا کوو.

۵ـ که په کوم حرام یا مکـروه عمل اخـته یو لکه د ږیـرې خریل د حجاب نه پالـل که د چا لخوا د هغه د پریـښـودلو راته وویل شي موږ ورسره جنجال کوو یا په اسلام هغه ناروا عمل ته لاره پـیـدا کوو.

٦ـ موږ تل ژر ژر لمونځ ددې لپاره پای ته رسو ترڅو په خپلو دنیـوي کارونو کې اخته شو.

۷ـ د خپل ظاهـري جـوړښت او ښکاره خیال ساتو خو باطن مو شیطان اوسي .

۸ـ ښه وینو چې نورو ته ,مرګ راځي خو موږ يې په اړه هیڅ فکـر نه کوو.

۹ـ موږ د غـرب او کفـري هـیوادونو د لیدلو او هلته د اوسیدلو لپاره هـیله په زړه کې لرو.

۱۰ـ د دنـیـوي شیانو لپاره یو د بل سره سیالي کوو.

۱۱ـ د طاقـت قـدرت واک او درناوي درلودلو تـنـده مو هیڅکله نه ماتیـږي.

۱۲ـ سخت خواشینی کیـږو کله چې هغه څه له لاسه ورکوو چې موږ يې غـوښـتـنه کوو.

۱۳ـ د صغـیـره (کوچني) ګناهـونو کول هـیڅ ګناه موږ ته نه ښکاري.

۱۴ـ د حرام کار په نه کولو توانایي نه لرو که بیا هم پرې وتوانیـږو توبه ځنډوو.

۱۵ـ د الله تعالی په خوشحالولو کې نور ځوک نشو خپه کولای.

۱٦ـ لیرې لیرې راتلـونکو لپاره پلانونه جـوړو خو دا مو هـیر کړي دي چې همداوس مرګ راته ولاړ ده.

۱۷ـ اسلامي زده کړې مو تر کاروبار او دنیـوي کارونو وروسته په پام کې وي ځینې بیخي ورڅخه لیرې وي.

۱۸ـ داسې ملګـری مو نه دی انتحاب کړې چې هغـوی موږ ته الله تعالی را په یاد کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹ـ موږ د کلتور او عنعناتو خیال ساتو که څه هم د اسلام سره په ټکر کې وي.

۲۰ـ هغه خلک موږ ته بريالي ښکاري کوم چې په دنيا کې بريالي وي نه هغه چې د اخرت په لټه کې وي.

۲۱ـ ورځ ټول پرته د مرک يادولو پر موږ تير شي.

۲۲ـ وخت پر هغه کارونو تیروو چې د اخرت لپاره هيڅ ګټه نه لري.

۲۳ـ د عبادت کارونه موږ ته سخت ښکاري.

۲۴ـ سربيره پر دې چې موږ ښه پوهيږو الله تعالی اصراف او بيځايه لګښت نه خوښوي خو بيا هم خپل ورځني لګښت ته بدلون نشو ورکولای.

۲۵ـ د شتمنو ژوند پر موږ اغيزه کوي او ځان ته مو ورکشوي خو د علماو څخه موږ خپله ليري ځو.

۲۶ـ د سود او رشوت زيانونه او د هغه څخه منع موږ ته بيان شوې خو بياهم سود او رشوت د ژوندي پاتې کيدو په بهانه خورو.

۲۷ـ هغه څه چې موږ يې تر ټولو ډير په اړه فکر کوو يا يې راغواړو هغه پيسې دي.

۲۸ـ هيڅکله دا فکر نه کوو چې نن مو اخري ورځ ده........

## د ايمان ماتونکي خيزونه

د ايمان دغه بيان شوي ارکان په هر بنده باندې فرض دي په داسې ډول چې که يو هم پکې کم وي ايمان يې نه صحيح کيږي او ايمان چې نه وي الله تعالی د بنده هيڅ نيک عمل نه قبلوي همداراز هر مومن بنده نارينه وي او که ښځينه دا لازم دي پرې چې داسې افعالو اقوالو او عقيدې څخه ځان وژغوري چې د ايمان د ماتيدو باعث ګرځيږي چې د نمونې په توګه څو د ايمان ماتونکي دا دي.

۱ـ الله تعالی سره شريک نيول په توحيد ربوبيت کې وي او که په توحيد الوهت کې وي او که په اسماو صفاتو کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ د الله تعالی د ملایکو له وجود انکار کول او یا پرښتې د الله تعالی لوڼې ګڼل او د هغه د ملایکو عبادت کول او یا ورسره کینه او بغض کول.
۳ـ د الله تعالی نازل کړي کتابونو له ټولو یا له یو څخه انکار کول او یا تحریف پکې کول او په خاص ډول د قرانکریم د حیثیت څخه انکار کول.
۴ـ دالله تعالی او رسولانو د ټولو یا د کوم یو له رسالت څخه انکار کول او رسول الله (ص) خادم النبیین نه منل او د هغه له بشریت څخه انکار کول او یا د هغه د راوړي شریعت څخه انکار کول او یا هغه ته علم الغیب تاینول او دهغه د صحابو کرامو توهین کول او همدارنګه د ازواج او مطهراتو سپکاوی او توهین کول.
۵ـ سحر کوډې او جادو کول او د هغې تعلیم زده کول کایناتو ته ورتلل او او هغه حق ګڼل.
٦ـ له بعث بعدالموت قیامت د قبر له عذاب حساب میزان شفاعت جنت او دوزخ د الله تعالی له دیدار څخه انکار کول.
۷ـ له تقدیر یعنې قضاء او قدر څخه انکار کول.

## اسلام او ایمان

د اسلام او ایمان او د داسې نورو په اړوند په حدیث جبرایل کې حضرت محمد (ص) څخه چې جبرایل (ع) کومې پوښتنې کړې وې چې مقصد یې امت ته ښودنه وه چې په هغه کې لومړی پوښتنه دا وه چې اسلام څه ته وایې؟
ددې یوښتنې په ځواب کې رسول الله (ص) و فرمایل: اسلام دا ده چې ته په دې حقیقت اعتراف وکړې او ګواهي ورکړې چې غیر له الله تعالی څخه بل معبود نشته او محمد (ص) د الله تعال رسول او بیا ته په پا بندی سره لمونځ وکړې او که د نصاب په اندازه شتمن وې نو زکات ورکړه د رمضان د میاشتې روژې وساتې او که د لارې توښه د حج اداد کولو او وسه دې برابر وي حج د بیت الله وکړه.
دوهم پوښتنه دا وه چې ایمان څه شی دی؟ رسول الله (ص) وفرمایل. چې ایمان دا دی چې ته ایمان راوړئ په الله تعالی او د هغه په ملایکو د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابـونو د هغه په پـيغـمبرانو د قيامت په ورځ او په دې خبره چې د خير او شر کومې پيښې رامنځ ته کيـږي د تـقـديـر د ليک سره سمې دي.

او دريمه پوښـتـنه دا وه چې احسان د عبادت د اخلاص جوهـر څه دی؟ رسول الله (ص) و فرمايل چې ته د الله تعالی عبادت په داسې طريـقه وکړې لکه چې هغه وينې او که داسې شونې نه وي په دومره کچه د زړه حضور برار نه شي نو بيا دا په ذهـن کې وساته چې هغه تاويني. بخاری و مسلم

ايمان يو نور دی. چې د رسول الله (ص) په تصديـق سره زړه ته راځي او کله چې دا نور زړه ته راشي نو د کفـر کينې د جاهـلـيـت د رسمونو تيارې خيرې شي او انسان ټول هغه څـيـزونه د کومو چې رسول الله (ص) خبر ورکړی دی د بصيـرت په نور بلکـل رښـتـوني ګڼي. د رسول الله (ص) مبارک ارشاد دی. چې له تاسو نه هـيڅ يومومن نه شي کيدای ترڅو چې د هغه هـر غـوښـتـنه د هغه ديـن تابع نه شي چې ما له ځان سره راوړی دی.

## د اسلام او ايمان ترمنځ توپير

د ايمان او اسلام ترمنځ په تړاو کې درې قوله دي.

۱ـ ايمان د زړه عـمل ته وايي چې عـبارت دی له عـقـايدو څخه. او اسلام ظاهـري عمل ته وايي لکه لمونځ روژه زکات او داسې نور....

۲ـ ايمان خاص دی. او اسلام عام دی. يعنې د ايمان ځای زړه دی او د اسلام چاپـيـريال لويه ده چې هغه عـملي ژوند ته وايي.

۳ـ اهل السنـته والجماعـت وايي ايمان د اسلام څخه بيلوالي نه لري او ايمان د اسلام څخه بيلوالي نه لري. بلکې لازم او ملزوم دي. لکه څنګه چې خـيـټه او شاه دانسان سره لازم او ملزوم دي نو دا په حـقـيـقـت کې يو شی دی.

## اسلام او ايمان يو د بل لپاره لازم او ملزوم دي

اسلام او ايمان د ظاهـري مفهوم او مصداق له مخې خو دواړه توري د يو ډول مفهوم لپاره کارول کيـږي. خوددې دواړو تر منځ ځکه توپـيـر شتون لري چې له ايمان څخه په عام ډول د زړه تصديـق او باطني احوال مراد دی. په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال کې چې له اسلام څخه مراد. د ظاهري اطاعت او غاړه ایښودل اخیستل کیږي. د یوه علامه محقق وینا ده چې.

د زړه تصدیق کله په جوارحو کې د بدن د غړو په عملاً ښودلو سره څرگند شي نو دې ته وايي اسلام او اسلام چې کله زړه ته ښکته شي نو دا دایمان په نوم یادول کیږي. حاصل داشو چې حقیقت یو دی، چې اسلام او ایمان یو د بل لپاره لازم او ملزوم دي. د ایمان نه پرته نه اسلام اعتبار لري او نه د اسلام نه پرته ایمان بشپړیږي. د اسلام او ایمان مجموعې ته دین وايي.

## علم

***د علم لغوي تعریف:***

علم یو عربي کلمه ده چې د پوهیدلو او زده کولو درکولو او خبریدلو ته وايي.

***د علم اصطلاحي تعریف:***

علم په اصطلاحی توگه ډیر تعریفونه لري خو تر ټولو مهم تعریف یې دا دی، د بهرني واقعتونو زده کړې او پوهې ته علم وايي

***د علم بل تعریف:***

د یوه شي انځور په ذهن کې راتلو ته علم ویل کیږي.

## علم او ایمان

۱ـ علم ټول وسایل د انسان په اختیار کې ورکړل خو د ژوند اهداف یې ورته ښودل دروح آرامی یې ور ونه بخښل او ایمان د عالمانو او علم د مومنانو دواړوته ددې احتیاج د. چې په ذریعه یې اسلامي متکامل تمدن منځ ته راشي.

۲ـ له هغه ځایه څخه چې د اسلام کیلي عقل او علم دی توحید حقیقت او جوهر د ټولو آسماني ادیانو.

۳ـ ایمان انسان د خپل خالق سره نښلوي او د هغه په زړه کې محبت اطمنان او آرامي را پیدا کوي په هغه ټولو کتابونو چې د الله تعالی له طرفه راغلي دي یقین حاصلول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ـ ایمان دانسان موقـف د یوه مجرد متحول حیوان له حالـته پورته بیايي له هغه څخه یوه مکرم او مسّول مخلوق جوړوي چې پر ځمکه باندې د خالق ځای ناست واؤسي کوم چې ملایکه ورباندې شک کوي.

۵ـ ایمان انسان ته ددې پراخې هـستۍ سره ارتباط ورکوي چې هم ده دې د شتـون په گردش کې بنسـتـیـز رول لري. هغه د هـستې یوه بې محـتـوی او بې خاصته موجود نه ګڼي چې لیرې یې و غـورځوي بلکې هستـې د ده د خیر او متصعـت لپاره خلـق شوې ده.

٦ـ ایمان د انسان عـمر ته پراختیا ورکوي له دې محـدود ژوند څخه وروسته بیا تر هغه تـل پاتې ژوند کوي قـصه د انسان یوازې په مرگ باندې نه ختمیـږي لکه منکران د دین چې تصور کوي.

## د عـلم مـفـهـوم

هـر کله چې انسان د حسي غـړو په وسیله د خارجي نړۍ سره اړیکه ټـینګه کړې ده ته یو حالت په برخه کیـږي چې مخکې یې نه درلود د مثال په توکه موږ یو شخص وینو او مخکې مو لیدلی نه وُ داسې احساس کوو چې په موږ کې یو نوی شی رامنځـته شوی چې مخکې مو نه درلود همدې ته عـلم ویل کیـږي. د قرانکریم په رڼا کې علم ٦ شپـږ سرچینې لري حس او تجربه، عـقـل تاریخ، او تاریخي اثار فـطـرت او پـټ شعـور مکـاشـفه او شهـود اسماني وحې.

## په اسلام کې د عـلم ارزښت

اسلام د رحمت دین دی چې د ټول انسانـیـت د دیني او دنـیوي نیکمـرغـۍ او کامیابي ضامن دی. اسلام د ژوندانه په هـره برخه کې ځانګـړې لارښوونې لري او د انساني ژوندانه لپاره یې بـشـپـړ او هـر اړخیز قانون نړۍ ته وړاندې کړی دی. خو له دې څخه د ګټې د اخیستلو لپاره عـلم ته اړتیا ده عـلم هغه کـیلي ده چې په ذریـعه یې د اسلام هـر اړخیزې لارښوونې یو چاته ښکاري.د عـلم زده کول پر چا فرض دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حدیث شریف کې راغـلي دي. ( عـن انس بن مالک قال، قال رسول الله (ص) طلـب العـلم فریضة علی کل مسلم ) رواه ابن ماجه ص ۲۰۱
ژباړه: له حضرت انس (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي. (ددین) د عـلم طلب پر هر مسلمان باندې فرض دی. له دې حدیث څخه ښکاري چې پر هر مسلمان که نارینه وي او که ښځینه غـریب وي او که شتمن کلیوال وي او که ښاري پر ټولو د دین د عـلم طلب فرض دی.
د عـلم دا مطلب نه دی چې خامخا به عـربي لولي بلکې د دې مطلب دادی چې د دین خبرې زده کړي که د عـربي کـتابونو په لوسـتلو سره وي که د اردو یا پـښـتو او یا نورې ژبې د کتابونو په لوستلو سره وي که له مـعـتبـرو عالمانو څخه په ژبه په پوښـتـنې سره وي که له معـتبر واعـظانو څخه د واعـظ په اوریدو سره وي هغه ښځې چې خپله کتاب نه شي لوستلای او نه له یو عالم څخه پوښـتـنه کولای شي د خپلو سړو په ذریعه دې د دین خبرې له عالمانو و پوښـتي.
په دې توګه هم ځان له شرعي حکم څخه خبروي عـلم دی او د عـلم په اړه د راغـلو ثوابونو د ترلاسه کولو لامل دی. په دې حدیث کې د علم طلب فـرض ګـڼل شوی.
پوښـتـنه دا ده چې کوم عـلم فرض دی؟ ددې پوښـتـنې ځواب دا دی چې شرعي عـلم په دوو برخو ویشل شوی.
۱ـ عـلم الاصول: یا د عـقـایدو علم. له د الله تعالی پـیـژندل په یووالي اوصـفـاتو سره د پیغـمبرانو تصدیـق او داسې نور... دا عـلم پر هر چا لازم او ضروري دی هر څوک باید ځان په دغـو خبرو پوه کړي او پرې باور ولري.
۲ـ عـلم الفـروع: یا د فـقهي علم. او د دین پر احکامو او مسّایلو ځان ځان خبروي دا عـلم په ۲ دوه برخو ویشل کیـږي.
۱ـ فـرض عـین. لکه د اوداسه لمانځه روژې او هر هغه عبادت چې پر هر چا لازم وي نو پر هغه د هغه شي عـلم هم ضروري دی. لکه د زکات علم پر هغه چا لازم دی چې مال ولري همداراز د حج عـلم پر هغه چا لازم دی چې پرې حج فـرض

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي.یعنې کوم کار چې په انسان لازم وي د هغه زده کړه او معلومات هم لازم وي.

۲ـ فرض کفايي: هغه علم دی چې په هغه سره څوک د اجتهاد درجې ته رسيږي يا د فتوا ورکولو استعداد پکې پيدا کيږي.

که د یوې سیمې خلک ټول له دغې اندازې علم څخه ځان غا فل کړي. ټول گناهگار وي. خو که په دوی کې يو تن دا اندازه علم وکړي د نورو هم غاړې خلاصې دي نو خلک به ددغه عالم خبره مني او د اړتيا په وخت کې به ترې د شرعي حکم پوښتنې کوي.

## د علم له زده کړې څخه مخکې اسلامي اخلاق ضروري دي

د الله تعالی حقوق، د ځان حقوق، مور او پلار حقوق، خویندو او وروڼو حقوق، خپلوانو حقوق، گاونډي حقوق، استاد حقوق، او د ټولنې او داسې نور حقوق باید و پيژنی.

ډيری کسان زمونږ په ټولنه کې د ماسټرۍ او ډکتورا په کچه اسنادونه يې تر لاسه کړي وي ولې بيا هم د اخلاقو له نظره صفر وي؟ دا ځکه چې له کوچنيوالي نه يې تربيه خرابه شوې وي. اول تربيه ده بيا تعليم خو زمونږ په هيواد کې لومړی تعليم کوي نو بيا يې د تربيې وخت او عمر تير شوې وي.

## علم او عقيده

گورو چې د ابو يو ځاځکی د اکسيجن او هايدروجن څخه جوړ شوی دی چې په ټاکلي تناسب سره يې ترکيب کړی دی که دا تناسب له منځه ولاړه شي بيا به اوبه نه وي. يا د تصادف نظريه د دغه ثابت ترکيب تل پاتې والی څرنگه تفسيروي فرانسّن بيکن وايي.

لږ فلسفي خبرتيا د انسان عقل د الحاد طرف ته بيايي ژور فکرونه د ايمان لاره ور ښيي گورو چې د بې شميره علتونو د زنځير کړی څرنگه په خپل منځ کې سره نښلي هغه کسان چې د علم په ژوروکې غوټې وهي په الله تعالی باندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمان لپاره شواهـد او نمونه پـیـدا کوي شک او الحاد د هغه چا کار چې عـلم یې کم او نا چـیـزه فـلسفه یې لوستلې وي.

ایمان په الله تعالی یوازې یو طبیعي غـریضه نه ده بلکې یوه عـقـلي ضرورت هم دی لکه قرانکریم چې پوښـتـنه کوي ایا دا مخلوقـات له نیستۍ څخه منځ ته راغـلي ایا دوی د خپل ځانونو پـیـدا کونکي دي یا دا چې ځمکې او آسمانونه دوی پـیـدا کړي دي؟

ماده پالونکي د عـزتمن او د ټـولو موجوداتو څخه ممتاز انسان د حیوانـیـت پنډ غالي ته ورکوزوي او په مطـلـق ډول سره یې نیستی کوي بیا نو هغه څوک چې ډیرې ښیګـڼې یې کړي وي له هغه چا سره چې ډیرې بدیې کړي وي سر په سر شو دا د ماده پرستۍ نامعـقول استـبدلال دی. خو مومن پوهـیـږي چې دې دنیا نه بلکې دنیا د ده لپاره پـیـدا شوې دی. له دې دنیا څخه به صرف د خپل اړتیا وړ توښه اخلي او د دایمي کور په دروازه به تیـریـږي.

## قرانکریم او نور علوم

د طبي عـلومو په واسطه د قـرانکریم د علمي اعجاز ثبوت ممانعـت نه لري خو دایت په تـفـسیر کې باید د تکـلیف څخه کار وانه خیستل شي. بل دا چې دا ثبوتونه باید عـلمي حـقـیـقـت ولري. مجرد نظریات او فرضیي باید نه وي. د قرانکریم له نظره انسان باید خپل عـقـل او فکـر د هغو شیاونو په فـهـم کې مصروف کړي. چې پوهـیـدل یې ورته ممکن وي نه په هـغـو کارو چې پوهـیـدلای نه شي لکه د الله تعالی وجود اخیرت متـشـبه ایتونه قـبل التاریخ واقعات د غـیـبو واقـعـات باید د غـیـبو له منبع یعنی رسالت څخه تر لاسه شي.

د اسلامي امت بهـترین د امتو دی چې د نورو رهـبري لپاره مبعـوث شوي دي. داسې امت تر هـر څه زیات عـلم ته اړتیا لري د ژوند په هر برخه کې هغه هم د تخصص په درجه کې نه وي نو د رهـبري وظـیفه سرته نشي رسولای.

سواد د عـلم د زده کولو یوه وسیله ده حتاء نن ورځ یو بیسواده عـسکـر اسلحه هم نشي استعمالولای نن د ژوند ټول کارونه تر سواد او عـلم پورې تړلي دي.

پیغـمبر د خدای په هغه تورو مراحلو کې د بیـسوادۍ سره مبارزه شروع کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو ددين او دنيا د علم په زده کولو کې توپير نه کوي ځکه زموږ دين علم او علم مو دين دی.
هغه وخت په غرب د دين او علم تر منځ جګړه روانه وه د علم څراغ د مسلمانانو په لاس کې وه.
د اسلام د ځلانده تمدن په وخت کې پر قرانکريم د خلکو اړيکې ټينګې وې کله چې موږ د قرانکريم څخه فاصله ونيوله شاتګ پيل شو غرب له موږ څخه رڼا واخيستله او پرې روان شو خو زموږ امت د اصحاب کهف په خوب ويده شو او په پايله کې يې دا شوه چې مسلمانان محکوم مظلوم او محروم پاتې.

## شريعت څه ته وايي؟

علامه ابن قيم د اسلام اساس انساني فلاح او ښيګڼه بللې ده. او مصالح عبادي چې د اسلامي نهايي او اخريني مقصد ګرځولی دی فرمايي:
ژباړه : د شريعت اساسي، دوامدار په حکمتونو او د دين دنيا پر مصلحتونو استوار دی يعنې اسلام ټول عدل حکمت او مصلحت دی .
هر هغه مصلحت چې له عدل څخه ظلم ته، د رحمت څخه زحمت ته، له مصلحت څخه فساد ته او له حکمت څخه عبث او لغوي ته خروج کوي هغه د شريعت مسله او دين برخه نه ده، که څه هم د تاويل له لارې هغه مسئلې څوک په شريعت کې وشميري له دې وضاحت څخه په ډير اسانه سره مونږ د شريعت له نګاه څخه د جايز او ناجايز په اړه يو ميزان او تله قايمولی شو.
په بل ځای کې وايي شريعت غذا محمدي نه د الله تعالی مقصد د خلکو تر منځ د عدل او انصاف قيام دی په کومه طريقه چې دا مقصد تر لاسه کيدلی شي هغه دين دی، خو هغه د دين نه بيل نه شميرل کيږي .
د دين د حکمت او مصلحو په اړه امام ابوزهره فرمايي: د اسلامي قانون او فقهې اساس په ټولو احکامو او مندرجاتو کې د امت او ملت پر مصلحتونو باندې دي .
په هر هغه عمل او اقدام کې، چې د امت مصلحتونه نغښتې وي شريعي دلايل د هغه د شتون په کلکه غوښتنه کوي او هغه څه چې امت او ملت په حق کې مضر وي هغه د شريعت په دلايلو کې په کلکه غندل کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام موصوف وايي :چې هیڅ یو شریعت داسې حکم نه دی راوړی، چې په هغه کې د خلکو لپاره ښګینه او مصلحت نه وي نغښتی .

اخر هغه مصالح څه دی، چې شریعت او دین یې خپل اساس ګرځولی دی د دې مصالحو تعین څه رنګه کیدلی شي. د دې په هکله نوموړی امام فرمایي: هغه مصلحت، چې شریعت د خپلو دیني احکامو لپاره اساس ګرځولی دی هغه د شریعت له مقاصدو سره سمون خوري او د شریعت مقاصد د پنځو شیانو حفاظت دی هغه پنځه شیان دا دی:

1. انساني ژوند .
2. انساني عقل.
3. انساني مال.
4. انساني نسل.
5. انساني عزت.

همدا هغه مصالح دي، چې د شریعي احکامو او اوامرو اساس دی بیعنه د نواهي وه د همدې پنځه مصالحو او مخالفت او انځور کې دی.

د همدې پنځه ټکو په اړه امام صاحب فرمایي : ټول ملتونه د دې پنځو سیزونو په ژغورنې مـتـفـق دي او د دې پر حفاظت متحد دي.

او همدا رنګه انساني ټولنه پر دې متفق ده، چې د انساني ټولنې وجود ددې پنځو شیانو پر تحفظ باندې قایم دی .

حضرت امام غزالی (رح) فرمایي: چې دا پینځه شیان په هیڅ ملت کې جایز نه دي ګڼل شوي، بلکې دا محترم شمیرل شوي دي. همدې له حکمت او مصلحته ډګ دین د ژوند د تعمیر او ترقی په هره برخه کې انسان ته په سراحت او اشاره وینا کوي هغه که اخلاقي پر مختګ وي او یا مادي وړاندې تګ .

## ښکـلې شریعـت

یو له هغو لاملونو څخه چې د مسلمان زړه پرې خوشحالیـږي هغه د اسلامي شریعـت ښکلا او هغه بې شمیره ثوابونه او بې شمیره بدلي دي. لکه: د توحید عـقـیده منل ټول ګناهونه رژوي دغـه راز ځینې نورې نیکۍ او کړنې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګناهونه له منځه وړي لکه عام لمونځونه د جمعې لمونځ حج عمره روژه او داسې نور...

بله د خوښۍ چې نیک اعمال اضافه کیږي د بیلګې په توګه یو نیک عمل لس برابره کله په ۷۰۰ ووه سوه او کله له دې هم په زیاتو برابرونو اضافه کیږي همدا راز الله تعالی ته توبه ویستل هم تیر ګناهونه له منځ وړي پر مسلمانانو ستونزې او تکلیفونو راتلل هم د ګناهونو د ختمیدو لاملونه دي یو ملسمان که بل مسلمان ته په غیاب کې دعا وکړي دا هم هغه لپاره د ګناهونو د بخښنې سبب دی ځنکدن پر یو مسلمان مړي د نورو مسلمانانو د جنازې لمونځ ادا کول الله تعالی ته د هغه د بخښنې لپاره سفارش کول دي او بیا تر ټولو لوی سفارش د قیامت پر ورځ د ټولو مخلوقاتو د سردار محمد رسول الله (ص) سفارش دی چې هغه الله تعالی ته تر ټولو نیږدې او خوښ سفارش دی لنډه دا چې الله تعالی وايي: ( وان تعدوا نعمة الله لا تحصوها )

ژباړه: که چیرې تاسې دالله نعمتونه وشمیرئ : نو سرته یې نه شي رسولی.

یو بل ځای کې وايي: ( واسبغ علیکم نمعه ظاهرة و باطنة )

ژباړه: او پوره کړي یې دي، پرتاسې نعمتونه خپل ښکاره او پټ.

## آسانه شریعت

د انسان د خوښې یو لامل دسالم د سپیڅلي دین اساني ده. الله تعالی وايي: ( ما انزلنا علیک القران لتشقی.) طه

ژباړه: موږ دا قران پرتا د دې لپاره نه دی نازل کړی، چې ته په کړاو اخته شې.

( ونیسرک للیسری) ژباړه: او موږ به تاته د آسانه لارې اسانتیا درکړو.

( لایکلف الله نفسا الا وسعها ) ژباړه: الله تعالی هیڅ نفس ته د هغه له وسې پورته مسّولیت نه متوجه کوي.

( و ما جعل علیکم فی الدین من حرج ) ژباړه: او په دین کې یې پر تاسې څه تنګي نه ده راوستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( و يضع عنهم اصرهم والاغلال التی كانت عليهم ) ژباړه: او له دوی څخه هغه پيټی کوزوي، چې پر دوی درووند شوی و او هغه بنديزونه ماتوي چې په هغه کې دوی کلک تړل شوي و.

( فان مع العسر يسرا () ان مع العسر يسرا ) ژباړه: نو حقيقت دا دی. چې له تنگسې سره پراختيا هم ده بيشکه له تنگسې سره پراختيا هم ده.

( ربنا لا تواخذنا ان نسينا او اخطانا ربنا ولا تحمل علينا اصرا کما حملته علی الذين من قبلنا ربنا ولاتحملنا ما لا طاقة لنا به واعف عنا و اغفر لنا و ارحمنا انت مولنا فانصرنا علی القوم الكفرين.)

ژباړه: ای زموږ ربه! که له موږ نه هيره او خطا صادره شي. موږ پرې مه نيسه. ای زموږ ربه ! پرموږ هغه پيټی مه ږده چې له موږ نه پر مخکينيو خلکو دې ايښي و. زموږ ربه! د کوم پيټی پورته کولو چې په موږ کې وس نشته. هغه پر موږ مه ږده، له موږ سره آساني وکړه. زموږ ( له گناهونو) څخه تير شه پر موږ رحم وکړه. ته زموږ کار جوړوونکی يې د کافرانو په مقابل کې زموږ مرسته وکړه.

رسول الله (ص) فرمايلي دي. ( رفع عن امتي الخطا والنسيان، و ما استكرهوا عليه ) ژباړه: زما له امت څخه سهوه. هيره او هغه څه چې دوی پرې مجبور کړای شي پورته شوي دي.

( ان الدين يسر ولن يشاد الدين احدا الا غلبه فسددوا و قاربوا و ابشروا )

ژباړه: بيشکه دين آسان دی او يو څوک چې له دين سره مقابله کوي، دين پرې غالبه کيږي، سمون وکړئ او يو بل ته نيږدې شئ او زيرې ترلاسه کړئ.

( بعثت بالحنيفية السمحة )

ژباړه: زه پر پاک او سپيڅلي دين را ليږل شوی يم.

( خير دينكم ايسره )

ژباړه: ستاسې غوره دين هغه دی، چې آسان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شریعـت پر مصلحت بناء دی

مسمانان باید د غـربي تمدن د گـټـو او اړخونو څخه گـټـه واخلي لکه عـلـم تکـنـالوژی عـلمي اداره فـردي ازادي او د هغه لپاره د بـیـلوالي ضمانت تگلاره. فـقـهي اصل دی چې وايي ښه واخله خراب و غـورځوه.

رسول الله (ص) د جاهـلیت د عـصر ځینې مسایل لکه د عـلم معامله د مضاربت شرکـت او په دیت پورې اړوند مجازات او څه نور شیان تایـیـد کړه ځینې نور شیان یې پر هغه ور اضافه کړه چې هغه مسایل کاملاً د اسلامي مسایلو په ډول باندې بدل شو.

ځینې کسان ( د پنا فی غـرب ) وي په پـټـو سترگو د غـرب تـقـلـیـد کوي خپل هـویت یې هـیـر کړی وي د اسلام حـقـیـقـت څخه هـیڅ خبرتیا نه لري. ځینې بیا توجیه گـیـري کوي له هـر طـریقه چې وي نصوص د غـربي واقـعـیـتونو مطابـق تـفـسـیروي. دا کار دوه زیان لري

۱ـ دا چې اسلام تحـریـفـوی

۲ـ غـربیان غـواړید حـقـیـقي دین نور پـیـدا کړي دوی دغـه تحـریـف شوې اسلام نسخه وروښیي.ځینې خلک بیا له اسلام سره اخلاص لري خو دعـوت او تـبـلیـغ یې په قـهـر وي خپل خبره کوي بیا د بل نه مني د بل نظر په رسمیت نه پـیـژني د شورا پر اصل تایـیـد نه کوي د خلکـو ازادي په رسمیت نه پـیـژني. عام خلک په جـزي فـقـهي اخـتلافـاتو کې مصروف ساتې او مخالفانو ته دسیاسي فعالیت اجازه نه ورکوي.

ځینې بیا یوازې د اسلامي مجازاتو عـمل کول د کامل اسلام انځور بولي. په اجـتـماعي روابطو کې سخت گـیـره وي. هـره خبره د تورې په زور حل وي او مخالـف نظر ته په کراهـت گوري.

د مطلوب اسلام روح، هـدایت، بشارت، محبت، تسامع، مصنویـت، اجـتهاد، ابـتکار، انـتـظام، او اعـتدال دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامي شریعت مصادر

د اسلامي شریعت څلور مصادر دي. چې قرانکریم او سنت نبوي یې اصلي او لومړني مصادر دي او اجماع او قیاس په دوهمه مرحله ځای لري.

قرانکریم د شریعت لومړی مصدر دی

الله تعالی د قرانکریم د المایده په سورت کې فرمایی.( وان احکم بینهم بما انزل الله ولا تتبع اهواء هم و احذر هم ان یفتنوک عن بعض ما انزل الله الیک فان تولوا فاعلم انما یرید الله ان یصیبهم ببعض ذنوبهم و ان کثیراً من الناس لفاسقونَ۞ افحکم الجاهلیته یبغون ومن احسن من الله حکما لقوم یوقنون.) مایده ۴۹-۵۰

ژباړه: نو ای محمد (ص) ته د الله له نازل کړي قانون سره سم د دې خلکو د چارو فیصله وکړه او د هغو د خواهشتاتو پیروي مه کوه. پام کوه چې دا خلک تا په فتنه کې وا نه چوي. یوې ذرې په اندازه هم له هغه هدایت نه وانه وړي چې الله تعالی تاته رالیږلی دی. که دوی ورڅخه مخ واړوي نو و پوهیږه چې الله تعالی ددوی د ځینو ګناهونو په مجازات کې په غم کې ددې د لتاړولو اراده کړې ده او دا حقیقت دی چې دا خلک زیاتره فاسقان دي. ( که دوی د الله تعالی له قانون څخه مخ اړوي ) نو آیا د جاهلیت فیصله غواړي؟ په داسې حال کې کوم خلک چې پر الله تعالی باور لري د هغوی په نزد له الله تعالی نه بل غوره فیصله کوونکی هیڅ نشته.

قرانکریم د شریعت د لایلو بنسټ دی. د شریعت نور دلایل لکه، سنت اجماع او قیاس له قرانکریم څخه اخیستل شوي او د حجت ثبوت یې په قرانکریم ولاړ دی.

# قرانکریم او شریعت

قرانکریم لومړنی مرجع او موخذ د شریعت ده. اسلام عبارت له هغه عقیدې څخه دی چې عمل صالح یې تصدیق کوی. هغه اعمال که مربوط په عباداتو پورې وي لکه: لمونځ، روژه، زکاة، او حج یا هغه اعمال چې کورنی او ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې اړه ولري لکه: اجتماعي، اقـتصادي، سياسي، او بين المللي اړيکې په منځ کې د مسلمانانو او غـير مسلـمو.

۱ـ د اسلام له نظره ددې دنيا محدود ژوند ډير ارزښت لري ځکه دا ژوند د صالح اعـمالو د سرته رسولو او په ځمکه کې د الهی عـدالت تامين لپاره يوه سرمايه ده. په قـرانکريم کې تر ټولو لوی ايت د دنيوي امورو د تـنظـيم لپاره راغـلی دی که څوک دا دنيا پريـږدي او خپل مسّولـيـتونه په کې سم سرته ونه رسوي هغه دنيا کې به هـم برخه ونه لري.

۲ـ قـرانکريم هغه مسايل او احکام په زيات تـفـصيل سره بيان کړي دي کوم چې د زمان مکان عـرف او حالاتو د تغـيـر سره تغـيـر نه کوي لکه: لکه د کورنۍ مربوط مسايل يا د جرايمو حدود چې مسلمانان يې په تر سره کولو هـر وخت مکـلف دي.

۳ـ د صحيح ده چې د شرعې اعمالو احکام په قـرانکريم کې کم دې ولې بې نهايته اهـمـيت لري ځکه هـمدغه احکام دي چې يو امت او تمدن د ژوند پر سمه لار روانوي او صالح امت او ټولنه له نورو امـتونو او ټولـنو څخه جلا کوي.

۴ـ د شريعـت د خصوصياتو څخه يو هـم د هغه اسانوالی دی. شريعـت طلاق ته اجازه ورکړې ده خو د مسيـحـيـت يو گروپ طلاق ته جواز نه ورکوي نو ځکه ډير مسيـحـيـان له هـمدغه امله مجبوره کيـږي چې خپل دين پريـږدي. اسلام تـعـدد د زوجاتو ته اجازه ورکړې ده ولې چې په ټولنه کې ډير وخـتونه ددې ضرورت پـيـدا کيـږي.

غـرب چې دې ته رسمي اجازه نه ورکوي خو په غـيـر رسمي توگه بې حسابه ملگـرو ښځو ته اجازه ورکوي.

## د شريعـت ۵ پنځه موخې

شريعت ۵ پنځه موخې لري شريعـت به دا ۵ پنځه موخې بـشـپـړوي.

۱ـ لومړۍ موخه: د ځان ساتـنه.

۲ـ دوهم موخه: د عـزت ساتـنه.

۳ـ دريم موخه: دمال ساتـنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ـ څلورم موخه: د عـقـل ساتـنه.
۵ـ پنځم موخه: د دیـن ساتـنه.

دا ۵پنځه ساتنې تعنې د ځان، عـزت، ابرو، مال، عـقـل او دیـن ساتـنه یوازې د مسلمان ویاړ نه دی او نه یوازې د غـیر مسلمان بلکې څرنگـه چې د یو مسلمان ځان عـزتـمنـد دی نو هـمداشان د یو غـیـر مسلمان ځان هـم محترم دی او ددې نورو شیانو د ساتـنې موخه څه ده؟

یعنې هـر وگړی پر خپل دین د عـمل کولو بـشـپـړه ازادي لري او په کسي ژوند کې څوک د دین بدلولو ته څوک نه اړ کوي او نه څوک لالچ ورکولای شي او که د تحـقـیـق ( پلـټـنی) له امله څوک مسلمانـیـږي نو مسلمان دې شي. خو په زور سره څوک نه شي مسلمانولای او نه یې د اسلام څخه ویستلی شي او که څوک دا جوته کړي چې پر چا زور کیـږي او په زور سره یې د مسلمانولو هڅې رواني دي نو د هغه لپاره سزا، ځورونه شـته او د هغه اهـلـیـت چې اهـل ذمه وي. چې له موږ سره یې معاهـده او تړون شوی وي نو د هغه د ساتـنې پـړه زموږ پر غاړه ده د بیلگې په ډول که جنگ ونښلي نو موږ به خپله جنگ کوو او دوی به جنگ ته شو اړ کولای او د جنگ په لړ کې څرنگه چې د خپل مال، ځان، ښځو اولادونو عـزت ساتـنه کوو نو همداسې د اهل ذمه به هم کولای شو او په دین کې د عبادت د ځایونو ساتـنه هم شـتـه.

## مذهب څه ته وایي؟

مذهب په لغت کې لارې او طریقې ته وایي او په اصطلاح کې رایـیـو او نظریاتو ته مذهب وایي .

مذهب یا د دین د مسایلو پوهه یا اسلامي فقه څه وخت منځ ته راغله ؟

د رسول الله(ص) د ژوند په وخت کې به خلکو خپلې پوښتنې رسول الله(ص) ته وړاندې کولې قرانکریم به نازلیده او د هغوی د پوښتنو ځوابونه د وحې په واسطه رسول (ص)ته ښودل کیده.

الله تعالی فرمایي: ((یستـفـتونک قل الله یفـتـیکم فی الکلاله))

ژباړه: طلب د فـتـوې کوي وایي الله تعالی پـوهـه درکوي په اړه د کلاله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله د ظهار د مسلې په اړه یوې ښځې له رسول الله(ص) څخه پوښتنه وکړه د هغه په ځواب کې د سورة مجادله لومړي ایتونه نازل شول او داسې نور .
رسول الله(ص) چې د شرعي نصوصو او بیان لپاره یوه ډله صحابه کرام(رض) وټاکل، چې ځینې اهل علم یې څوارلس کسان بولي او ځینې یې تر هغه زیات بولي د هغوی په سر کې معلم الناس رسول الله(ص) وو. او د رسول الله(ص) په زمانه کې د مسایلو اختلافات نه وو، ځکه چې ټول مسایل به رسول الله(ص) ته وړاندې کیدل.
د رسول الله(ص)د وفات وروسته صحابه کرام (رض) په نړۍ کې د دعوت او جهاد لپاره تیت شول اسلام مختلفونو قومونو او مختلفو ژبو والا خلکو ته ورسید. صحابه کرامو به د هغه صحابه کرامو په قول فتواوې ورکولې، چې د فهم، ادراک او اجتهاد قوه به یې لوړه وه. د دغو صحابه کرامو شمیر ځینې اهل علم تر زرو ۱۰۰۰ کسانو زیات بولي ابن قیم (رح) وایي: د دغو صحابه کرامو شمېر اوه کسان وولکه : عمر بن الخطاب، علي بن ابي طالب، عبدالله بن مسعود، عایشه ام المومنین، زید بن ثابت، عبدالله بن عباس ، عبدالله بن عمر(رض) جمیعاً.
او د دغو صحابه کرامو رایي او نظریې ته به یې مذهب فلان او فلان ویل لکه:
مذهب :عایشه (رض)
مذهب: عبدالله بن عمر(رض)
مذهب: عبدالله بن مسعود(رض)
مذهب: عبدالله بن عباس(رض) او داسې نور.
همدا رنګه په تابعینو کې مذهب: د سعید بن المیب و عروه بن الزبیه القاسم بن محمد خارجه بن زید، ابوبکر بن عبدالرحمن بن حارث بن هشام سلمان بن یسار، عبدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود وو.
او د دوی مبارکانو په وسیله د دین پوهه عالم ته ورسیده د شرعي علومو استادان او زده کوونکي زیات شول د هغوۍ مبارکانو وروسته به هر چا د دیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسائلو په استباط کې مداخله کوله او په اسلامي امت کې زيات اختلافات رامنځ ته شول .

وروسته الله تعالی په خپل فضل د دين د حفاظت لپاره د ډيرې لوړې تقوا او پوره احتياط او لوړ ادراک او فهم والا علماء کرام رامنځته کړل او هغوی د قرانکريم او حديث څخه په ډير احتياط لوړ فهم او ادراک سره مسائل ترتيب کړل ، چې څلور اسلامي فقهي يا څلور مذاهبه بلل کيږي کوم، چې د ټول امت ورباندې يووالی دی.

مذاهب ارجعه په لاندې ډول دي :

- المذهب الحنفي
- المذهب المالكي
- المذهب الشافي
- المذهب الحنبلي

دا مذاهب د تابعينو له دور څخه شروع شوي دي او په دې مذاهبو باندې د ټول امت اتفاق دی.

## قـرانکريم

د بشريت د هـدايت لپاره د الله تعالی د نازل شويو کتابونو کې له ټولو څخه وروستی کتاب قـرانکريم دی. چې رب العالـمين په اخري نبي او رسول محمد (ص) باندې نازل کړی دی او الله تعالی ورته خطاب کړی دی.( انا نحن نزلنا علـيک الـقـران تـنـزيلا ) دهر ۲۳

ژباړه: يـقـيـنا همدا مونږ نازل کړی په تا باندې قـران په يـقـيني نازليدو سره.

قـرانکريم الله تعالی پر خپل پيغـمبر (ص) باندې نازل کړی او په قـرانکريم کې يې دژوندانه لارې چارې ټاکلي. الله تعالی په خپل کتاب کې د انسانانو لپاره عـقـيده، عبادت، د ژوندانه نظام او نور ټول شيان روښانه کړي چې انسانان ورته د دنيا او اخرت په هکـله اړتيا لري. که چيرې انسانان ايمان راوړي د قـرانکريم پر لارښوونو ځان پوه کړي او ورباندې عـمل وکړي نو له شک پرته به د انسانيت لوړو درجو ته ورسيـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قرانکریم تعریف

که څه هم قرانکریم د ډېر شهرت له امله تعریف ته اړتیا نه لري. خو بیا هم اوصولیانو قرانکریم ته پام اړولی او په دې هکله یې داسې ویلی.( هو القران منزل علی رسول الله (ص) المکتوب فی المصاحف المنقول عن نبی (ص) نقلا متواترا بلا شبهة )

ژباړه: قرانکریم پر رسول الله (ص) هغه نازل شوی کتاب دی چې په سیپارو کې لیکل شوی او له کومې شبهې پرته په متواتر ډول له رسول الله (ص) څخه نقل شوی.

## قرانکریم خپل ځان موږ ته در پیژني

١ پوښتنه: نوم دې څه دی؟

ځواب: بل هو قران مجید.

٢ پوښتنه: د کوم ځای څخه راغلی یې؟

ځواب: فی لوح محفوظ.

٣ پوښتنه: د چا له طرفه څخه راغلی یې؟

ځواب: تنزیل من رب العالمین.

۴ پوښتنه: پرچا نازل شوی یې؟

ځواب: نزل علی محمد.

۵ پوښتنه: د چا په واسطه نازل شوی یې؟

ځواب: نزل به الروح الامین.

٦ پوښتنه: په کومه میاشت نازل شوی یې؟

ځواب: شهر رمضان الذی انزل فیه القران.

٧ پوښتنه: په کومه شپه نازل شوی یې؟

ځواب: انا انزلنا فی لیلة قدر.

٨ پوښتنه: ای قرانه پاکه په کومه ژبه نازل شوی یې؟

ځواب: بلسان عربی مبین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قرانکریم د هدایت کتاب دی

قرانکریم د هدایت کتاب دی خو شرط دا دی چې ځانونه په معنی یې پوه کړو او الله تعالی موږ ته وايي چې. ما قران د پند اخیستلو لپاره تاسې ته ډېر آسانه کړی دی.

۱ـ زه وایم افسوس زموږ عام خلک په سختو ګناهونو اخته دي ددې علت بې علمي ده که خلک علم زده کړي ښه او بد به سره وپیژني د الله تعالی عظمت به یې په زړه کې ځای ونیسي او که ګناوې پریږدي نور علماء هم دانسانانو علاج علم بولي وعظونه خو کیږي یوازې وعظ کفایت نه کوي.

اوس اصلي خبره دا ده چې عوام خلک باید یې په څه طریقه ضروري علم زده کړي؟ د دغه کار لپاره تر اوسه چا غوره کار نه دی شروع کړی. عوامو ته د هغوی ناروغتیا ښودل کیږی خو د علاج لپاره یې دوا چا نه ده ور ښودلې . عوام داسې پوهول شوي دي که علم زده کول غواړي نو به مدرسې کې شاملیږی نور کارونه او دا کار ممکن نه دی.

علم په قرانکریم کې دی سمه عقیده، تربیه، اخلاق، او تقوی ټول له قرانکریم څخه زده کیږي بلکې قرانکریم یې د انسان په زړه کې ور داخلوي، قرانکریم مونږ ته د عبرت کیسې د ژوند مقصد په کایناتو کې د الله تعالی د قدرت نښانې د دوزخ او جنت لارې راښیي هغه اثر چې د قرانکریم بیان پر زړه کوي د نورو خلکو خبرې یې نه کوي. ضروري او فرض دا ده چې موږ باید د قرانکریم په معنی ځانونه سم پوه کړو غیر له هغه څخه به څرنګه د الله تعالی له کلام څخه ګټه واخلو.

۲ـ راځی چې د علماء په مرسته د قرانکریم ترجمه شروع کړو د ورځ یو ایت سهار او یو ماښام په ترجمه سره زده کړو چې عربي کلمات یادولای شو پښتو معناګانې یې خو په آسانې سره یادولای شو راځي یوه میاشت دا کار وکړو بیا به وګورو چې قرانکریم په معنی سره زده کیږي او که نه زموږ د پښتو ځینې کلمات له عربي څخه اخیستل شوي دي کله مو چې یو څه ترجمه وکړه د قرانکریم په مقصد پوه شو له هغه وروسته نبوي سیرت پښتو د آساني فقهی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب او نور د عقایدو، آدابو، کتابونه په پښتو زده کولای شو هغه هم په قراره قراره ووایو دا ضروري ده زده کول د دیني علم بلکې تل باید د خپل فارغ وختونو کې ځان د پر قرانکریم او د هغه په معنی پوه کړو او تل د خپل الله تعالی سره ملاقات وکړو د لمانځه په معنی به و پوهیږو لمونځ مو صحت پیدا کوي په ژوند کې مو هره ستونزه موږ ته پیښیږي کله چې قرانکریم وواېو هغه به د حل لاره راښيي کله مو چې قرانکریم را پرانیسته شیطان به له موږ څخه تخښتي د انسانانو سره به هیڅ ستونزه ونه لرو ځکه قرانکریم داسې اخلاقي رویه راښيي چې دښمن به ونه لرو نا امیدي به نه وي د حرص په اور کې به نه سوځیږو د ژوند په هر کار کې به خوشحاله یو ځکه هر کار به مو عبادت او د الله تعالی د رضا لپاره وي په هیڅ کار کې به زیان ونه کړو.

## قرانکریم رښتنی لارښود دی

قرانکریم موږ ته د یوه حقیقي معبود خبر راکوي چې ددې نړۍ خالق او رب دی په داسې حال کې چې نا خبره انسان د خپل هوا او هوس پرستش کوي.
د نورو ادیانو په خلاف په اسلام کې د عبادت ځای د قید څخه خلاص دی د مسلمان عبادت په هر ځای کې قبلیږي صرف د حج لپاره یو خاص ځای ټاکل شوی دی چې دا عبادت په عمر کې یو ځل دی او د مسلمانانو د نړیوال ټولیدو ځای دی او هم د ابراهیم (ع) د ژوند د خاطراتو یادونه په کې کیږي.
ځینی مستشرقین په اسلام دا تور لګوي چې په اسلامي عباداتو کې صرف څه شکلې تشریفاتو ته ارزښت ورکول کیږي نه د زړه نیت ته حال دا چې په اسلام کې اخلاص او نیت د عبادت د قبلیدو بنسټ دی.
د چا لمونځ چې هغه د بدۍ او بې حیایۍ څخه منع کوونکی نه وي هغه صحیح او کامل لمونځ نه وي لمونځ قراره قراره مسلمان اصلاح لوري ته بیایي همدارنګه روژه ددی لپاره فرض کړی شوی ده چي په انسان کي تقوا پیدا شی د روژې مقصد د ټولو بدو کارونو څخه روژه ده نه یوازې د خوراک او څښاک څخه.
الله تعالی ته هغه عمل د منلو وړ دی چې خاص د هغه لپاره وي او یوازې په هغه طریقه سره وي چې الله تعالی ورته ټاکلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قرانکریم فضیلت

( لو انزلنا هذا القران علی جبل لرایته خاشعاً متصدعاً من خشیة الله ) حشر ۲۱

ژباړه: که چیرې مونږ دا قران په غر باندې نازل کړی وای او په غر کې شعور او پوهه وای نو تاسو به دا غر لیدلې وای چې د الله تعالی له ویرې نه تباه شوی او شلیدلی وُ.

حضرت عثمان (رض) د رسول الله (ص) نه دا ارشاد نقل کړی دی چې په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې په خپله قرانکریم یاد کړي او نورو ته یې هم وښايي.

قرانکریم اصل د دین دی نو دا قرانکریم په اشاعت سره بقاء د دین ده نو ددې په وجهه د قرانکریم یادول او بل ته د ښودلو غوره والی ثابت شو. ځکه چې قرانکریم د الله تعالی کلام دی او دا کلام په ټولو کلامونو اوچت او غوره دی نو لوستل او بل ته ښودل یقیناً افضل دي. ملاعلی قاري یو حدیث مبارک نقل کوي چې کوم سړي قرانکریم حاصل کړو نو هغه علوم نبوت پخپل تندي کې جمع کړل.

ګرانو لوستنکو: د قرانکریم ډیر فضایل دي چې رسول الله (ص) د هغې بیان کړی دی. حضرت ابن عمر (رض) د رسول الله (ص) څخه روایت کوي چې رسول الله (ص) و فرمایل: په زړه هم زنګ لګي لکه څرنګه چې اوسپنه په اوبو کې زنګ اخلي.نبی کریم (ص) نه پوښتنه وشو چې ای د الله رسوله د دې د صفایي لپاره څه شته.؟ رسول الله (ص) و فرمایل: چې د مرګ ډیر یادول او د قرانکریم ډیر تلاوت کول.

## قرانکریم او اخلاق

د عقیدې او شریعت څخه بې غیر قرانکریم موږ ته اخلاق هم راښیي هغه که (رباني) اخلاق وي او یا که (انساني)

۱ـ رباني اخلاق: دانسان ارتباط د الله تعالی سره ښيي او بنسټ یې الهی تقوا دي لکه: اخلاص د الله تعالی سره، هغه ته رجوع کول، پر هغه توکل کول، امید

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرل د هغه د رحمت څخه او ویره کول د هغه له قهر څخه، د هغه د نعمتونو شکر اداکول، پر سختیو صبر کول، اخرت ته مخ اړول او دنیا ته شا محبت له هغه سره او رضا په قضاء د الله تعالی.

۲ـ انساني اخلاق: هغه خویونه دي چې بې له هغه څخه د خلکو سره ښه ژوند نشي تر سره کیدای لکه: صداقت، تواضع، وفا، عدالت، احسان، حیاء، عفت، د خلکو احترام، د مخالفینو سره سوله او داسې نور.....

۳ـ قرانکریم رباني او انساني اخلاق دواړه سره راجمع کوي چې موږ یې په مختلفو سورتونو د قرانکریم کې وینو هغه وخت چې اوصاف د متقیانو، اولی الباب، عبادالرحمن، محسینینو او ابرارو بیانوي.

۴ـ د قرانکریم په قصصو کې ګورو چې پیغمبران د توحید دعوت په څنګ کې د فضایلو نهال د خلکو په زړنو کې کښنوي او د ټولنې د رذایلو سره مبارزه کوي. هود، صالح، لوط، شعیب او داود علیهم السلام او ټولو انبیاو دا کار کړی ده.

۵ـ کله چې رباني اخلاق د انساني اخلاقو سره یو ځای شي بیا یوازې وجداني مسّولیت په یوه الهی مسّولیت بدلیږي چې بیا نو یې ثمره یوازې خوشحالي نه بلکې د الله تعالی رضا او د اخرت نعمتونه هم وي. الله تعالی د خپلو پیغمبرانو صفت په یوې مجموعي اخلاقي فضایلو کې بیانوي.

## قرانکریم او کاینات

۱ـ دقرانکریم یوه مکمله جمله ایت بلل کیږي. ددې عالم هر توکی او شی هم د ایت په نوم یادیږي یو د لوستلو(مقروء) کتاب ایت دی بل د لیدلو (مشهود) کتاب ایت. یو کتاب له حرفو څخه جوړ شوی دی بل له توکو څخه یو کتاب دومره کوچنی دی چې په جیب کې ځایږي بل دومره لوی دی چې پرځمکه او آسمانونو ټول احاطه کوي خو په واړه کتاب دا ستر کتاب راغونډ شوی دی. څومره چې اسرار په دې واړه کتاب کې دی په ستر کتاب کې نشته دا لوی غوړیدلی کتاب د دغه کوچني کتاب شرحه ده او هغه کوچني کتاب د هغه لوی کتاب خلاصه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ پوهيږو چې ځمکه د ۱۱۴ يوسلوڅوارلس عناصرو څخه جوړ شوې ده د الله تعالی مقروء کتاب ۱۱۴ يوسلوڅوارلس سورتونه لري سورت فاتحه د ۱۱۴ يوسلوڅوارلس حرفو څخه ترکيب شوې ده. ځمکه ۷ اوه طبقی ده د شمسي نظام ۷ اوه مدار دي د ځمکې او آسمانونو د هر کوچني جز ( اتوم ) انتهايي مدارونه هم ۷ اوه دي د فاتحې سورت ايتونه هم ۷ اوه دي دقرانکريم منزل هم ۷ اوه دي دا يو تصادف مه ګڼه دا حقيقت در په ګوته کوي چې د دواړو کتابونو مرجع يوه ده يو د بل شرح دی.

۳ـ ستا په خپل نفس کې د قدرت نښې دي او هم په دې عالم کې د قدرت نښې دي چې دا ټول د قرانکريم په حقانيت شاهدي ورکوي دا ځکه چې الله تعالی د هر څه شاهد دی د هر څه شاهد خو به داسې څه وايي چې هر څه د ده د هرې ويناء په حقانيت شهادت ورکړي.

۴ـ نو کله چې تاسې د الله تعالی د مقروء کتاب د کوم ايت په اړه داسې تعبير واوري چې د الله تعالی مشهود کتاب سره مغايرت ولري دا تعبير صحيح نه دی او که د مشهود کتاب د کوم توکی په اړه داسي څه واوری چي د مقروء کتاب د کوم ايت توپير ولري نو هغه هم صحيح نه دی. دا دواړه ايتونه په هيڅ صورت کې يو د بل خلاف خبرې نه کوي ځکه رب يې يو دی ناپوه کسان به د دې يا هغه په اړه داسې تغير او تعبير وړاندې کوي چې يو له بل سره مغايرت ولري.

## الله تعالی په دې نړۍ درې کاينات پيدا کړي

۱ـ يوه نړۍ هغه ده چې په هغه کې هر وخت سکون او آرامي وي ستونزې په کې بيخي نشته د غم او تکليف نوم او نښان هم شتون نه لري هغه ته جنت وايي الله تعالی موږ ټول هلته ورولي.

۲ـ او يوه نړۍ د هغې په مقابل کې ده چې هلته هر وخت ستونزې غم مصيبتونه وي د خوښۍ اوسکون هلته بيخي نوم نښان نشته هغې ته دوزخ وايي الله تعالی دې موږ ټول ترې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ـ دریمه نړۍ له دې دواړو څخه جوړ شوې دی چې هم په کې خوښۍ شته او هم په کې غـم او سکون شته او ستونزې هم او هغې ته دنیا وایي چې موږ او تاسو په کې اوسیـږو او په دې نړۍ کې به تاسو هیڅوک داسې پـیـدا نکړي چې موږ په ټول ژوند کې ستونزو سره نه یو مخ شوي او نه به داسې څوک پـیـدا کړي چې ووایي ما هیڅکله قـراره ورځ او خوشحالي نه ده لیدلې دلته له هرې خوښۍ د غـم اغـزي را تاو دي او په هـرو ستونزو کې یو سکون پټ دی نه د دې دنیا ستونزې پټې دي او نه سکون پټ دی.

## الله تعالی

د الله تعالی په نومونو کې جامع نوم الله د واجب الوجود ذات نوم دی چې د الوهیت د بـشـپـړو صفاتو څښـتـن په خپل حـقـیـقي وجود کې یواځنی ازلي او ابدي ذات او د کمال د بـشـپـړو صفاتو خاوند دی د عـربي ژبې ځینې پوهان یې مشـتـقی او د ( الاله) څخه یې ماخذ بولي همزه ورڅخه خذف او لام په لام کې مدغـم د دواړو لامونو څخه مشدد او الله ور څخه جوړ شوی دی.

۱ـ واجب الوجود: واجب الوجود چې ذات یې لازم او ضروري مطلـق تل تر تله مسـتـقـل او چاته اړ نه وي.

۲ـ ممکن الوجود: ممکن هغه شی ته وایي چې شتون او نه شتون یې دواړه سره برابر وي. معنی دا چې په خپل ذات کې یو بل ته اړ او غـیر مـسـتـقـل نه وي.

## د الله تعالی معـنی

الله تعالی هغه سپیڅلی ذات دی چې د عبادت وړ، خالـق، رازق، مدبر او د لوړ اقـتـدار څـښـتـن دی د حوادثو او ستونزو پرمهال ورته خلک پناه وړي او خپل حاجتونه ورڅخه غـواړي خلک ورسره مینه لري تعـظیم او عاجزي ورته کوي او ویره ورڅخه لري او پر وړاندې یې سکون او ډاډ ترلاسه کوي له بشري حواسو پټ د ذات په پـیـژندلو کې یې عـقـل، اریان، خالـق، مالک، رازق، د غـیـبي علم څـښـتـن بـشـپـړ واکمن کار ساز حاجت روا قانون ورکوونکی د عـظمت اولي او د الوهیت د بـشـپـړو صفاتو څـښـتـن دی نو پرتله ژوندی د ټولو کایناتو خالق او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدبر د ساکښانو روزي رسان د مرگ او ژوند واکمن په هـر څه توانا او لا مثاله ذات دی.

## د الله تعالی پـیـژندنه

د الله تعالی د ذات په موضوع باندې د بحـث نه د مخه پر دې خبره پوهـیدل په کار دي. چې د الله تعالی وجود مادي نه دی. بلکې له مادي نړۍ ور اخوا یو حـقـیـقي ذات دی چې په عام ډول دیو شي د وجود پـیـژندنې لپاره چې له موږ سره کوم وسایل دي هغه حواس دي. د کایناتو علم د حواسو په وسیله معلومیـږي، البته د ماوراء طبـیـعـت د پـیـژندنې لپاره حواس کافي نه دي.
د ماده پالو ساینس پوهانو تر ټولو لویه غـلطي دا وه. چې هغوی د ساینس حدود ونه پـیـژندل گومان یې وکړ چې ساینس هره مسّله حل کوي. د الله تعالی ذات له دې خورا ډیر لوړ دی. چې بشري عـقـل ورته ورسیـږي او یا یې انساني افکار درک کړي. که د انسان عـقـل هـر څومره پرمختگ وکړي او د انسان خیال او فکـر که هـر څومره پرمخ ولاړ شي. د الله تعالی ادراک څخه د هغه صلاحیت ډیر لړ او محدود دی. د الله تعالی ذات خو لا پریږده. بشري عـقـل د موجوده اشیاو له کـشـف څخه هم ناتوانه او نا خبـره دی انسان د خپل د بدن او وجود په اړه پوره تفصیلي معلومات نه لري بیا د الله تعالی ځان خو ډېر لوړ دی.

## د الله تعالی د نوم پـیـژندنه

۱ـ الف: الله: اسم للذات المـقـد سة. ذات الله جل و علا واجب الوجود لایشارکه فـیه غـیره. ژباړه: الله نوم د هغه مـقـدس ذات دی. چې ذات یې ډېر پاک دی او ډیر لویٔ دی او وجود یې واجب دی (موجود) بادشاهي کې ورسره شریک نـشته.
۲ـ ب: د الله تعالی د نوم بل تعـریف. الله ذات واجب الوجود المستجمع لجمع الصفات والکمال و منزه عـن کل عـیـب و نـقـص. ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې وجود یې واجب دی جمع کوونکی دی ټولو د صفاتو د کمال لره او پاک دی د هر ډول عـیـب او نـقـصان څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د الله تعالی د پیـژندنې وسایل

۱ـ لومړی عـقـل: لکه څرنگه چې د ټولو اسلامي احکامو سرچینه وحې قرانکریم او نبوي سنت دي په همدې توگه د اسلامي عـقـایدو بنسټ هم په پورته شیانو ښودل شوی مگر له دې سره سره روغ عـقـل د ټولو اسلامي عـقـا یدو د صحت تایـید او ملاتړ کوي له همدې کبله الله تعالی انسان د عـقـل له امله په خپلو احکامو مامو کړ د انسان د بدن هر یو غـړی جلا دنده لري د عـقـل دنده تدبر او تـفـکـر دی ټول کاینات له اتوم نه واخله تر لویو کهکا شانونو او له حجرې نه بیا تر لویو اجسامو پورې د عـقـل او فکرادت ډگر تشکیلوي قرانکریم د انسان فکر د کایناتو پاتې نړۍ ته په کـتـلو غـور او فکـر لورته را اړوي او د اسلام دښمنو ملحدو ځواکونو پر وړاندې د پـیـغمبرانو د استدلال یادونه کوي هغوی د الله تعالی د توحید په دلایلو کې کاینات وړاندې کوي لکه لمر سپوږمۍ او ستوري.

۲ـ دوهم وحی اسماء او صفات:د الله تعالی په سپیڅلو نومونو قرانکریم او نبوي سنـتـو یوه کړی یو الله اسم ذات دی او نور یې صفتي نومونه دي دغـو ته اسماء الحسنی هم وایي هغه چې په نبوي فرمان ثابت دي او ۹۹ نهه نوې نومونو ته رسیـږي: ( عـن ابی هـریرة روایة قال الله تسعة و تسعون اسما مئة الا واحد الایحـفـظا احد الا دخل الجنة و هـو و تر یحب الوتر.) ژباړه: د الله تعالی ۹۹ نهه نوي نومونه دي چا چې دغه نومونه حـفـظ او یاد کړل هغه هرومرو جنتي دی او هغه به جنت ته ولاړ شي. الله تعالی طاق دی او طاق خوښوي. په دغه مبارک حدیث کې د وتر څخه مراد توحید دی یعنی الله تعالی لا مثاله او بې سارې ذات دی چاچې دغه نومونه زده کړل او خپل ذهـن ته یې وسپارل اوباور یې پرې وکړ هغه به الله تعالی جنت ته داخل کړي.

## د الله تعالی له پـیـژندگلوۍ څخه بې برخې کیدل

انسان د ایمان د دعـوې سره سره د ایمان له کړۍ څخه ووځي که هغه د الله له پـیـژندگلوۍ څخه نا خبره یا د الله تعالی له صفاتو نومونو افعالو او حقوقو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کوم یوه نه منکر شي او هغه خلک چې د الله تعالی ذات پورې کوم نـقـصان یا خرابي تړي اود دې خبرې پـیـژندګلوي ورسره نه وي چې ټول کمالي صفات یوازې له هغه ذات سره ښایي او په نړۍ کې ټول شته شیان د هغه ذات د فعـل کړنې پایله ده او هغه کس هم د الله تعالی د معرفـت څخه نا خبره دی الله تعالی فرمايي.( ما قـدرو الله حـق قـدره ان الله لـقـوی عـزیز) ژباړه: هغه خلکـو د الله تعالی قـدر هسې نه دی پـیـژندلی لکه څرنګه چې یې د پـیـژندلو حق دی او د قـوت او عـزت ولا ذات یوازې الله تعالی دی.
( و جعلواله من عباده جزء ان الانسان لکفور مبیـن.) ژباړه: پر دې هـر څه پوهـیدلو او منلو سره هم هغه خلکو د ده له بنده ګانو څخه ځینې یې د ده برخه وال وګرځول او حـقـیـقـت کې انسان د احسان هـیروونکی دی.
( لقد کـفـر الـذین قالوا ان الله ثالث ثـلـثـة.)
ژباړه:هغه خلکو کـفـر وکړ څوک چې وایي الله تعالی له دریو څخه یو دی. د الله تعالی له معرفـت پـیـژندګلوی سره نا اشنايي له الله تعالی سره دشرک بنسټ دی ځکه که انسان د الله تعالی نومونه او صفات او د هغه کمال او افعال او که د الله تعالی له حقوقو سره نا اشنا وي نوهغه انسان د الله تعالی له سره لایق نه وي او یا الله تعالی په مخلوق کې له چا سره تـشبـیه کوي او یا په مخلوق کې څوک د الله تعالی سره برخه وال ګرځوي او له الله تعالی څخه بل څوک رابلي یې هغه ته ګټه او زیان رسولای شي همداشان الله تعالی فرمايي.( له دعـوة الحق و الـذین یدعـون من دونه لا یستجـیـبون لهم بشیء الا کباسط کـفیه الی اماء لـیـبلغ فاه و ما هو ببالغه و ما دعاء الکـفـرین الافی ضلال.)
ژباړه: همدې الله تعالی لره رابلل حق دی او هغه څوک چې له الله تعالی پرته بل څوک رابلي نو هغوی خپل رابلونکي ته هیڅ ځواب نه شي ورکولای او د هغوی رابلل داسې دي لکه یو څوک اوبه رابلي اوبو ته وایي راشې او زما په خوله کې توی شئ اوبه خو د رابلونکي تر خولې نه شي راتلای نو همداشان دکـفـارو دا بلني هـم هیڅ نه دی پرته له یوه بې هـدفه غـشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د الله تعالی وجود

انسان باید د الله تعالی پر شتون باندې پوخ باور ولري او په یقین سره پرې ایمان ولري او په ژبه اقرار وکړي. د الله تعالی شتون او د هغه په موجودیت باور او یقین کول داسې یو څرګند حقیقت دی چې هیڅ ډول شک او شبهه په کې نشته. قرانکریم د الله تعالی د وجود په اړه اجمالي خبره کړې او له تفصیلاتو څخه یې ډډه کړې ده. ځکه چې د الله تعالی د وجود علم اوپوهه د انسانانو په فطرت کې داسې پرته ده چې ټول انسانان په کې یو ډول دي ډیر کم خلک به داسې وي چې د الله تعالی د شتون څخه انکار وکړي.

## الله تعالی بشپړ واکمن دی

الله تعالی د کایناتو حقیقي څښتن دی د خپل خوښې او د خپل حکمت پر اساس په موجوداتو کې تصرف کوي. ټولې چارې د خپل قانون او قاعدې مطابق پرمخ بیایي. قرانکریم دغه مطلب ته د اشارې په ترڅ کې فرمایي.( الله یعلم ما تحمل کل انثی و ما تغیض الارحام وما تزداد و کل شیء عنده بمقدار.)
ژباړه: الله تعالی د هرې حاملې له ګیډې خبر وي. څه چې په هغه کې جوړیږي په هغه باندې هم پوهیږی او په هغه کې چې څه کمی او زیاتوالی راځي له هغه څخه هم با خبره وي. د هر شي لپاره د هغه په وړاندې یوه اندازه ټاکلې ده. بل ځای کې فرمایي.( قل اللهم ملک الملک توءتی الملک من تشاء و تنزع الملک ممن تشاء و تعزمن تشاء و تذل من تشاء بید ک الخیر انک علی کلی شی قدیر.)
ژباړه: ووایه ای ربه د مالک مالکه! ستا چې چا ته خوښه شي حکومت ورکوې او له چانه چې و غواړې اخلې یې چاته دې چې خوښه شي عزت ورکوې او څوک چې و غواړې ذلیله کوې یې. ښیګڼه ستا په واک کې ده. بیشکه ته په هر څه قادر یې.
الله تعالی خپل پیغمبر ته امر وکړ تر څو د خلکو تر منځ اعلان وکړي. چې الله تعالی د ټولو شیانو حقیقي څښتن دی. چاته چې و غواړي دولت ورکوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اخيستلو کې يې هم اختيار دی. قرانکريم په بل ځای کې فرمايي.( و ربک يخلق مايشاء و يختار و ما کان لهم الخيرة.سبحن الله و تعالی عمايشرکون.) ژباړه:او ستا رب چې څه و غـواړي پيدا کوي يې په دې د هغوی څه واک نشته الله تعالی د هر څه څخه ډېر پاک او لوړ دی.چې هغوی ورسره شريکوي.

## د الله تعالی او د رسول حاکميت

حاکميت او فيصله يوازې الله تعالی لره ده او د الله تعالی او پيغمبر د حکمونو منل د ايمان او اسلام شرط دی. لکه څرنگه چې الله تعالی فرمايي.( يهاالذين امنوا اطيعوا الله و اطيعوا الرسول و اولی امر منکم فان تنازعـتم فی شیء فـردوه الی الله والرسول ان کنـتم تومنون بالله واليوم الاخر.) نساء ۵۹

ژباړه:ای مومنانو! د الله تعالی اطاعـت وکړی او رسول اطاعـت وکړئ او د هغو کسانو پيروي وکړئ چې پرتاسې آمران دي. که ستاسې ترمنځ په کومه چاره کې شخړه پيښه شي،نو هغه د الله تعالی او رسول لوري ته حواله کړئ. که تاسې په رښتيا سره د الله تعالی او د اخرت په ورځ ايمان لري.

د الله تعالی او پيغمبر (ص) اطاعـت او د امر منـنه واجب او قطعي ده.کوم کسان چې د ايمان دعـوه کوي بايد په خپلو ټولو چارو کې د الله تعالی د حکم او د الله تعالی د پيغمبر (ص) د حکم پيروي وکړي. ځکه نه يوازې دا چې د الله تعالی د حکم او د پيغمبر (ص) د حکم پيروي واجبه ده. بلکې که کوم مومن د الله تعالی د رسول په فيصله د زړه له کومې راضي او خوشحاله نه شي او په بـشـپـړه توگه ورته غاړه کښـېـنږدي. د ايمان په دعـوا کې ريـښـتـنی نه دی. څرنگه چې قرانکريم په څرگنده توگه په دې هکله فرمايي.( فلاوربک لايومنون حتی يحکموک فـيما شجر بـينهم ثم لا يجدوا فی انـفسهم حرجا مما قضيت و يسلموا تسليما.) نساء ٦٥

ژباړه: نه ده داسې ای محمده! ستا په رب قـسم چې دوی هيڅکـله مومنان کيدای نه شي. تر څو چې په خپل منځي شخړو کې حکم او فـيصله کوونکی ونه مني بيا چې ته څه فـيصله وکړې پر هغې باندې په خپلو زړونو کې څه تنگي هم احساس نه کړي. بلکې سر تر پايه يې ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رسول الله (ص) له اطاعـته د نا فرماني پايلې

الله تعالی په قرانکريم کې د ال عمران په سورت کي فرمايی.( قل ان كـنتم تحبون الله فاتـبعـونی يحـببكم الله و يغـفـرلكم ذنوبكم والله غـفـور رحيمٍ ۝ قل اطيعـوا الله والرسول فان تولوا فان الله لايحب الكافـرين.)

ژباړه: ( ای پيغمبره) خلكو ته ووايه! كه چيرې تاسې په رښتيا له الله تعالی سره مينه لري نو زما د پيروي لاره غـوره كړئ. الله تعالی به له تاسې سره مينه وكړي او ستاسې گناهونه به تاسو ته و بخښي. هغه ډير بخښونكی او مهربان دی. ای پيغمبره! هغو ته ووايه چې د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعـت وكړئ. بيا كه هغوی ستا بلنه ونه منله، نو بيشكه الله له كافرانو سره ( چې د هغه او د هغه د رسول له پيروی څخه انكار كوي) مينه نه كوي.

الله تعالی د دوهم ايت پای كې په ډير تند خطاب سره په رسول الله (ص) باندې د ايمان د سرغـړوونكو او د هغه له اطاعـت او پيروی څخه د مخ اړوونكو دپای او عاقـبـت په هكله داسې فرمايي.( فان تولوا فان الله لايحب الكافـرين.)

ژباړه: كه چيرې هغوی مخ واړوي. نو الله تعالی كافران نه خوښوي.

امام قرطبي (رح) ددې ايت په تـفـسيـر كې داسې فرمايي د (فان تولوا) شرطيه جمله ده او د دې جملې موقعيت ته په كتو سره د هغې معنی داسې ده: كه چيرې هغوی د كفر په حالت كې سرغـړونه وكړي او د الله تعالی او د هغه د رسول له پيروي نه اعراض وكړي ( فان الله لا يحب الكافرين) نو الله تعالی كافران نه خوښوي. يعنی الله تعالی د هغوی له كړنو څخه نا راضه وي او هغوی ته بخښنه نه كوي.

دغـو مباركو ايتونو په خپلو لوړو او ځلاندو لارښونو سره د مسلمان د ژوند هدف او كړنلاره بيان كړې ده چې پر هغو باندې د عمل كولو پايلې په اخلاص سره د الله تعالی عبادت له عـذاب څخه د خلاصون، د اجر او ثواب حاصلول، د نيكو اعمالو د تر سره كولو لپاره هڅه او هاند، او د الله تعالی د رضايت او محبت حاصلول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه څوک چې الله تعالی به ورسره خبرې نه کوي

په قرانکريم او نبوي احاديثو کې ځينې داسې کسان ذکر شوي چې د هغو په هکله داسې ويل شوي چې د دوې سره الله تعالى دقيامت په ورځ خبرې نه کوي او گناهونه به يې نه پاکوي او د دوی لپاره به دردناک عذاب وي. پوښتـنه دا ده چې دا څوک دي او د کومو صفتونو لرونکي خلک دي.

ددې لپاره چې د هغوی له صفتونو څخه ځان وساتو ترڅو دداسې عـذاب خاوندان نشو. غـواړم هغه کارونه په گوته کړم چې د هغو له امله انسان دداسې بدمرغـيـو سره مخ کيـږي دا گڼ شمير کسان دي: الله تعالى فرمايي.( ان الذين يکـتمون ما انزل الله من الکتاب و يشترون به ثمنا قـليـلا اولئک ما ياکلون فی بطونهم الا النار ولا يکلمهم الله يوم الـقـيامة ولايزکيهم ولهم عذاب اليم.) بقره ۱۷۴

ژباړه: يـقـيـناً. هغه کسان چې هغه خبرې پټوي چې الله تعالى په خپل کتاب نازلي کړي دي او په دې ( پټولو) سره لږ قيمت حاصلوي ( د ټوله دنيا هم د الله تعالى د ايتونو په بدله کې لږه ده.)

دغه کسان په خپلو نسونو کې اور اچوي د دوې سره به الله تعالى د قيامت په ورځ خبرې نه کوي نه به دوی له گناهونو پاکوي او د دوې لپاره درد ناک عـذاب دی. په دې ايت مبارک کې هغه چاته سخت تخويف او ويرونه ده څوک چې حق پـټـوي له دې امله چې ددنيا زکات يا خيرات يې بند نه شي او يا په خلکـو کې بد نام نه شي.

دلته مراد هغه څوک دي چې حق پـټـوي او په دې کار سره دنيا لاس ته راوړي يعنی د دنيا د حرص له امله پـټـوي. په دغه مارک ايت کې د دغـو خلکو لپاره څلور عـذابونه ذکر شوي دي.

۱ـ دوی چې څه له دې لارې لاس ته راوړي او خوري يې نو دوی په حـقـيـقـت اور پخپلو نسونو کې اچوي دا ځکه چې دا يې دوی ترټولو ناوړو کسب له لارې پـيـدا کړی نو بدله يې هم ورته د دوې د عـمل د جنس څخه ورکول کيـږي. داسې چې عـذاب يې تر نور هم سخت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ د دوی سره به الله تعالی د قیامت په ورځ خبرې نه کوي په دې کې اشاره ده چې الله تعالی له دوی څخه ډېر زیات ناراضه وي او پر دوی باندې به ډېر سخت په غـصه وي چې دا په حـقـیـقـت کې د اور تر عـذاب هم سخت دی. د حساب خبرې به ورسره د ملایکو په واسطه کیـږي.

۳ـ دوی به الله تعالی له گناهونو او بدو صفاتو څخه نه پاکوي دوی داسې اعمال هم نه لري چې د هغو له امله د صفت او د الله تعالی د رضا مستحق شي دا ځکه چې دوی هغه اعمال نه وو کړي چې د هغو له امله د پاکوالي او تزکیي مستحـق شي چې هغه د الله تعالی په کتاب عمل کول په هغه سره لاره پـیـدا کول او د الله تعالی د کتاب لوري ته د خلکـو بلل دي بلکې د الله تعالی کتاب یې شاته غـورځولی و او نورې لارې یې خپلې کړې وې.

۴ـ د دوی لپاره به درد ناک عـذاب وي. په بل ځای کې قرانکریم فرمایي.( ان الذین یشترون بعهدالله و ایمانهم ثمنا قلـیـلا اولئک لا خلاق لهم فی الاخرة ولا یکلمهم الله ولا ینظر الیهم یوم القیامة ولایزکیهم ولهم عذاب الیم.) عمران ۷۷

ژباړه: یـقـیـناً: هغه کسان چې د الله تعالی په لوظ او خپلو قسمونو باندې لږ بدله ( د دنیا مالونه) اخلي دغه کسان داسې دي چې د دوی لپاره په اخرت کې هیڅ حصه ( د ثواب) نشته دوی سره به الله تعالی خبرې نه کوي او نه به دوی ته ( په رحمت او مهربانۍ) سره گوري او د دوی لپاره درد ناک عـذاب دی. د ایت مطلب دا دی چې کوم خلک دنیا په دین سره اخلي د دنیا لږ برخې ته د اخرت په مقابله کې ترجیع ورکوي او دې ته ځانونه د واعـدو په ماتولو او د دروغــو قسمونو په کولو سره رسوي. نو د دغـو کسانو سره الله تعالی په قیامت کې خبرې نه کوي یعنی د دوی لپاره د الله تعالی عـذاب لازم دی د الله تعالی د رحمتونو او ثوابونو څخه محروم دي او د گناهونو د پاکیدو څخه محروم دي بلکې په داسې حال کې به قیامت ته ځي چې د خپلو په جرایمو به ملوث وي او درد ناک عـذاب به ورته چمتو وي.

په احادیثو هم داسی کسان ذکر شوي دي چې د یاد شویو عـذابونو مستحـق دي. ( عـن ابي ذر (رض) عـن النبی (ص) قال: ثلاثة لا یکلمهم الله یوم القیامة و

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا ينظر اليهم ولا يزكيهم ولهم عذاب اليم قال ابو ذر حابو او حسروا من هم يا رسول؟ قال المسبل والمنان والمنفق سلغته بالحلف الكاذب.) رواه مسلم

ژباړه: له ابو ذر (رض) روايت دی چې رسول الله (ص) وفرمايل: درې کسان داسې دي چې د قيامت په ورځ به الله تعالی له دوی سره خبرې نه کوي نه به ورته گوري ( د رحمت په نظر سره) نه به يې له گناهونو پاکوي او د دوی لپاره درد ناک عـذاب دی. ابو ذر (رض) و فرمايل دا کسان له خيره محروم او تاوانيان شول دا څوک دي ای د الله رسوله رسول الله (ص) و فرمايل هغه څوک چې پايڅې يې تر گيټو (بجلکو) اښکته وي (احسان کوونکي چې چاته څه ورکړي او بيا ورباندې احسان کوي) بل هغه څوک دی چې د خپل سامان په درواغ قسم سره چلوي.

په دې حديث کې دا درې گناوې ذکر شوي دي. يو دا چې څوک پايڅې تر گيټو (بجلکو) اښکته ساتي ځکه دا دتکبر او لويي نښه ده او لويي کول لويه گناه ده دا يوه بې خونده گناه ده چې خوند او لذت هم نه لري خو عـذاب يې ډېر سخت دی د تاسف خبره دا ده چې دا گناه دومره عامه ده چې ډېر خلک ورته د گناه په سترگه نه گوري دا حکم د سړو لپاره دی چې دوی به پايڅې پورته کوي که په لمانځه کې وي او که له لمانځه څخه بهر وي .

بله گناه د احسان او زبادني ده چې له چا سره څه ښه وکړې نو هر وخت ورپه يادوي چې فلانی وخت کې مې داسې ښه درسره وکړل.

بل هغه څوک چې خپل مال په دروغـو قسم باندې خرڅوي ده يو شي اخيستی ارزانه وي خو بل چاته په قسم سره وايي چې دا مې په دومره اخيستی دی. تر اصلي قيمت زيات ور يادوي يا ورته وايي چې دا شی اصلي دی او هغه اصلي نه وي خو دوی ورباندې قسم هم اخلي نو دا دالله تعالی د نوم څخه غـلط استفاده کوي او سپکاوی يې کوي. له ابو هريرة (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) و فرمايل: درې کسان دي چې هغو سره به الله تعالی د قيامت په ورځ خبرې نه کوي او نه به يې له گناهونو پاکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو معاویه راوي وايي او نه دوۍ ته په رحمت سره ګوري او د دوۍ لپاره درد ناک عـذاب دی۱ـ بوډا زناکار ۲ـ درواغجن پاچا ۳ـ او مسکین متکبر. مسلم احمد

دا درې کسان لکه د داسې درد ناکو عـذابونو مستحـق شول ځکه چې دوۍ دا ګناوي په داسې حالت کې کوي چې هيڅ عـذر هم ورته نه شي جوړیدای دروغ اکثره خلک د ضرورت او مجبوري له امله وايي پاچا ولې دروغ وايي؟ دی خو له چا مجبور هم نه دی.

تکبر او لويي خلک د مال له امله کوي مسکين ولې لويي کوي؟ دی خو مال هم نه لري.

زنا خلک د نـفس د خواهش له امله کوي بوډا ولې زنا کوي؟ د ده خو شهوت هم ختم وي.

ابو هريرة (رض) له رسول الله (ص) څخه روايت کوي چې الله تعالی فرمايلي دي. درې کسان داسې دي چې د قيامت په ورځ به زه د هغوۍ دښمن يم. يو هغه سړی چې يو شې د الله تعالی په نامه ورکوي بيا په هغه کې دوکه وکړي.

بل هغه څوک چې يو ازاد سړی يې خرڅ کړو او د هغه پيسې يې وخوړلې.

بل هغه څوک چې يو مزدور يې ونيو کار يې ترې پوره واخيست او مزدوري يې ور نه کړه. بخاری احمد

دا درې هم سترې ګناوې دي. لومړنی سړی چې د الله تعالی په نوم څه ورکړي او بيا دوکه په کې کوي نو دا د الله تعالی د نوم قـدر نه لري بلکې سپکاوی يې کوي نو ځکه د سخت عـذاب مستحـق شو.

ازاد سړی خرڅونکی ځکه د سخت عـذاب جوګه دی چې يو انسان ازاد وي او بيا ترې څوک غلام جوړ کړي نو دا د هغه انسان سره ډير لوي ظلم دی.له دې امله يې مرتکـب د سخت عـذاب مستحق دی په دې هغه څوک هم شامل ده چې ازاد خلک تـښـتـوي اغـوا کوي يې او بيا يې د پيسو په بدل کې خوشې کوي د دې حديث په رڼا کې دا خبره ښکاري چې د داسې خلکو لپاره سخت عذاب دی. له مزدور څخه کار اخيستل او مزدوري يې نه ورکول دا هم لوي ظلم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بیچاره ځان هم ښه ستړی کړي او بیا ورته مزدوري نه ورکول کیـږي. له ابو هریرة (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) وفرمایل: درې کسان دي د دوی سره به الله تعالی د قیامت په ورځ خبرې نه کوي او نه به ورته ګوري او نه به یې له ګناهونو پاکوي او د دوی لپاره درد ناک عـذاب دي.

یو هغه سړی چې په صحرا کې په داسې اوبو ولاړ وي چې دده تر حاجت زیاتې وي بیا یې هم له مسافرو څخه منع کوي.

بل هغه سړی چې په چا باندې یو شی د ماذیګر نه وروسته خرڅ کړي او داسې قسم ورته وکړي چې ما دا په دومره روپې اخیستی دی هغه سړی د ده خبره و منله په داسې حال کې چې د ده خبره صحیح نه وه.

بل هغه سړی چې د یو امام (مشر) سره د دنیوي غـرض پر بنسټ بیعـت وکړي که څه ورکوي نو وفاداري کوي او که څه نه ورکوي بیا وفاداري نه کوي . مسلم احمد

په دغـو کسانو کې نور کسان هم شته چې الله تعالی د قیامت په ورځ خبرې نه ورسره کوي چې په هغو کې د مور او پلار نافرمان د سړو سره مشابهت کوونکې ښځه او دیوث ( بې غـیرته انسان) شامل دی.

## څوک چې د الله تعالی څخه و ویریده هغه کامیاب شوه

۱ـ یو ولس چې د عـلم له نعمت څخه بې برخې وي هغه ولس له رنګارنګ کړاونو سره لاس او ګریوان وي چې عمده ستونزې یې خپل منځنی اختلافات وي قـومي ژبني او منطقوي اختلافات خو پریږده کور په کور بد وي خلک د دې پر ځای چې یو له بل سره همکار واوسي په هـیواد کې آبادی آمن او له نورو د یرغـل څخه د ځان ژغـورنې لپاره ګډ کار وکړي یو د بل د کور ورانولو لپاره ملاتړلې وي.

۲ـ نن چې زموږ په هیواد کې د جګړې له سببه تعلیمي موسّسې تړل شوي دي اوس دا خپله د خلکو دنده ده چې د خپلو اولادونو لپاره په مسجدونو او کور کې د زده کړې زمینه برابر کړي تر مطلق بیسوادۍ لږ تعلیم هم ډیر ګټه لري. که موږ سهار صرف د قرانکریم ۲ دوه ایتونه لومړی په قرایت او بیا په معنی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړو او د ماسپښین له طرفه پښتو لیک او لوست ورته شروع کړو باور وکړۍ چې په یو کال کې به ډیر څه زده کړو کله چې د یو انسان په زړه کې د الله تعالی ویره پیدا شوه د هغه اعمال خپله اصلاح کیږي.

۳ـ د قرانکریم زده کول په معنی سره د پند اخیستلو او د فکر او ذهن د اصلاح لپاره ډیر آسانه دی د اسلام په لومړیو وختونو کې به بیسواده خلکو ته قرانکریم په آسانۍ سره زده کاوه. او عمل به پرې کاوه. د یو انسان اصلاح هغه وخت شونې ده چې د خپل رب سره اړیکې ټینګې کړي او دا کار هغه وخت په ښه ډول تر سره کیدای شي چې یو څوک قرانکریم په معنی سره وایي او د تدبیر په کې کوي د قرانکریم الفاظ (تورې) د انسان پر زړه اثر کوي او د کړې لارې څخه د هدایت لور ته راګرځوي د انسان نصیحت او د قرانکریم د تورو اثر د انسان پر زړه باندې له ځمکې څخه تر اسمان پورې توپیر کوي.

۴ـ هغه څوک چې لږ حصه د قرانکریم په معنی سره زده کړي دهغه بیا له عالم سره شوق پیدا کیږي بیا به په خپلې ژبې په آسانۍ سره نور دیني او اجتماعي کتابونه خپله مطالعه کوي. داسې خلک بیا په لږ څه قناعت کوي. کار کوي د خپل اینده او کور لپاره فکر کوي او بلاخره د یو خوښ ژوند خاوند جوړ شي خو مطلق ناپوه او بیسواد خلک بیا ځینې سم فکر نشي کولای هغوۍ د هوا او هوس پر لاره روان وي سیالداري یې خوښه وي هر څه د کور له مشر څخه غواړي قرضونه کوي او د کورنۍ لپاره ستونزې را پیدا کوي که یې په دې چاره نه کیده ټوپک اخلي په ټوپک سره ستونزې پیدا کوي چې موږ یې پایله خپله وینو. نور غفلت او په ویښ سترګو خوب کول په کار نه دی او نه د بل چا مرسته کولو ته انتظار پکار ده.

۵ـ یو نا اهله کس مو چې په کور کې پیدا شو بیا ټول کور خرابوي ښه به دا وي چې د خپلو اولادونو روزنه له ابتداء نه وکړو علما او داسې نور ډیر خلک پیدا کیږي چې ستاسې اولادونو ته د قرانکریم په ترجمه او د خپل په ژبې سره ووایي د اولادونو لپاره هر ډول چې وي څه پیدا کوو خو د تعلیم غم یې نه خورو دا باید په تکرار ووایم چې د انسان اصلاح یوازې په قرانکریم سره کیږي د هیچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره باید ونه منو چې قرانکریم په معنی سره نه شي زده کولای. زموږ د ټولنې لویه بدبختي همدا ده چې قرانکریم ته مو شا ورگرځولې ده او د ښونځیو څخه بد وړو راځي چې د ۲ دوه میاشتو لپاره تجربه وکړو که قرانکریم په معنی سره نه زده کیده بیرته به یې پریږدو صرف ستونزه دا ده چې د دې کار سره خلک ناپیژنده شوي دي پخوا چې مسلمانانو دا کار کاوه مسلمانان د نړۍ باداران وه خو نن چې قرانکریم او د هغه لوستل مسلمانانو ته نا اشنا شوه مسلمانان د نورو غلامان جوړ شول.

## الله تعالی ته درې ډوله خلک ډیر خوښ مگر درې ډوله ورته له دې نه هم ډیر خوښ دي

۱ـ الله تعالی پرهیزگار خوښوي مگر څوک چې په ځوانۍ کې پرهیزگاره وي هغه ورته زیات خوښ وي.

۲ـ الله تعالی ته عاجزي کوونکي خوښ دی مگر هغه څوک چې دولتمند وي هغه ورته زیات خوښ وي.

۳ـ د الله تعالی سخي بنده خوښ دی مگر هغه څوک چې غریبي کې سخا کوي هغه د الله تعالی زیات خوښ دی.

## د الله تعالی فرمان

۱ـ ای خلکو تاسو شپه او ورځ گناهونه کوئ او زه په هغه باندې پرده اچوم پس تاسې له ما څخه بخښنه و غواړۍ یقیناً زه به تاسو ته بخښنه وکړم.

۲ـ ما عزت په خپل اطاعت کې ایښی دی خلک هغه په پادشاهي کې لټوي.

۳ـ ما خپله رضا د نفس په مخالفت کې ایښی دی خلک هغه د نفس په موافقت کې لټوي.

۴ـ ما آرام په جنت کې ایښی دی خلک هغه په دنیا کې لټوي.

۵ـ ما علم او حکمت په لوږه کې ایښی دی خلک هغه په مړښت کې لټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د الله تعالی د رضا او خوښۍ څو نښانې

۱ـ د اطاعـت خوښول او ګناهونه بد ګڼل.

۲ـ د نیک عمل کولو سره ځان ناقص بلل او غـرور نه کول.

۳ـ ډېر استغفار ویل: هیڅ انسان د ګناه څخه پاک نه وي بغـیر د پیغـمبرانو هیڅ نیک عمل د نقصان څخه خالي نه دی نو بنده به په ټولو اعمالو کې له الله تعالی څخه بخښنه غـواړي او استغفار به کوي.

۴ـ د اطاعـت او د خیر په لاره کې توفـیـق د خیر د اسبابو آسانه کیدل او د استغفار او استقامت دوام صالح بنده ته الله تعالی په ښو کارونو باندې توفـیـق ورکوي او هغه ورته آسانه کوي او په ښو کارونو باندې د تل پاتـیـوالي لپاره توفـیـق ورکوي.

۵ـ په تکلیف او مصیبت باندې صبر کوي وارخطا او عصباني نه وي بلکې صبر کوونکی وي.

٦ـ پر الله تعالی مطمین وي چې هغه د مومنان مرسته کوونکی دی.

۷ـ د رزق په پـیـدا کولو کې ډېر مشغول نه وي لکه: د نن زمانې ډېر خلک چې اصلي موخه یې یوازې د پیسو ګټل دي او بس بلکې د ده دا عـقـیـده وي چې د هر انسان لپاره چې کوم رزق لیکل شوی دی همغه ور رسیـږي.

۸ـ په یوازې والي کې د الله تعالی د ذکر او د قرانکریم د تلاوت سره محبت لرل. دا دصالح بنده ګانو ستره نښه ده چې هغې په یوازې والي کې د الله تعالی ذکر کوي او بیا د الله تعالی په مینه ویاړ کوي هغه د الله تعالی د ویرې څخه اوښکې تویوي او ژاړي دغه کسان کوښښ کوي چې زما په دغه پټ راز چې زه یې له خپل رب سره لرم باید چې هیڅوک خبر نه شي.

۹ـ د صالحو او نیکو خلکو د مجلس سره مینه لرل.

۱۰ـ د شرعي علم د زده کړې حرص کول او د هغه په عملي کولو کې کوښښ کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه د الله تعالی د رضا ځینې نښې وې که په چا کې شتون ولري هغوی دې د الله تعالی شکر ادا کړي او که چا کی نه وي هغوی دې کوښښ وکړي ترڅو په ځان کې دغه صفات پیدا کړي.

## د ملایکو پیژندنه

ملایکې د الله تعالی فرمان منوونکی لښکرې دي. له نور څخه پیدا زمونږ له نظره پناه. نه نارینه او نه ښځینه. نه څه خوري نه څه څښي په بیلا بیلو چارو مقررې دي چې کوم کار ورته سپارل شوی یا وسپارل شي هغه سرته رسوي. هر وخت په تسبیع لگیا وي شپه او ورځ د الله تعالی پاکي بیانوي. هر وخت د الله تعالی په ویره کې دي. د ملایکو صحیح حساب د الله تعالی په علم کې دی او هغه ته معلوم دی. مشهور مقربې ملایکې ۴ څلور دي. دلته هر څه د الله تعالی په آمر د ملایکو په وسیله تر سره کیږي. په ملایکو ایمان د قرانکریم او نبوي سنتو په لارښوونو کې د ایمان د امورو د جملې څخه دی. د پیژندلو یواځینۍ لار یې وحې ده.

## ملایک د اسلام په رڼا کې

په ملایکو ایمان د اسلامي عقیدې د ارکانونو او بنسټونو له جملې څخه دی انکار ورڅخه ځرگند کفر گڼل کیږي.

## د ملایک لغوی معنی

ملایک د ملک جمع ده د لام او میم په فتحې سره د الوکة څخه اخیستل شوی الوکة رسالت ته وایي. دوی هم الهی پیغامونه پیغمبرانو ته له ځان سره راوړي او یا مضبوط او قوي مخلوق ته ویل کیږي.

## ملایک په شرعي اصطلاح کې

ملایکې له یو لړ غیبي نا محسوسو نوراني مخلوقاتو څخه عبارت دي چې له حیواني تمایلاتو څخه پاک دي. په بیلا بیلو شکلونو ځان بدلوې شي او د استوگنې ځای یې آسمانونه دي د الله تعالی نه پرته یې حقیقت هیچا ته معلوم نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دملایکو خویونه ملایک ډیر ښه خویونه لري چې په قرانکریم کې ذکر شوی، ځینې یې په لاندې ډول دي.

۱ـ عزتمند مخلوق دی.

۲ـ د الله تعالی د حکم عملي کوونکي او د ګناهونو څخه د ځان ساتونکی دي.

۳ـ حیاء ناک مخلوق دی. ۴ـ مومنانوته بخښنه غواړي.

د ملایکو حقیقت او صفات موږ نه شو کولای چې د ملایکو حقیقت معلوم کړو. د عقیدې په مسّایلو کې لازمه ده چې موږ په شرعي څرګندو دلایلو اکتفا وکړو د دوی ځینې صفات په لاندې دلایلو کې راغلي دي.

۱ـ له نور څخه پیدایښت.

۲ـ لوی جسمونه .

۳ـ په بیلا بیلو شکلونو څرګندیدل.

۴ـ د متفاوتو وزرونو درلودل.

۵ـ نا آشنا ځواک درلودل.

۶ـ په دوی کې ځینې مقربې ملایکې دي.

۷ـ د تولد او تناسل او له ښځینه او نارینتوب څخه سپیځلتیا.

۸ـ د الله تعالی پر وړاندې د بیلا بیلو مرتبو درلودل.

۹ـ د حسن او جمال صفت درلودل.

۱۰ـ د خوراک څښاک او سترړیا څخه پاکې او د استوګنې ځای یې اسمان ده.

۱۱ـ دوی د حیاء څښتنانې دي.

۱۲ـ دوی د نظام څښتانې دي.

۱۳ـ ملایکې ډیرې زیاتې دي چې شمیر یې یوازې الله تعالی ته معلوم دی.

## د ملایکو د پیدایښت ماده

مکلف مخلوقات چې عقل ورته ورکړل شوې په درې ډوله دي.

۱ـ ملایکې چې له نور څخه پیدا کړی شوي دي.

۲ـ پیریان له ملایکو وروسته چې له اور څخه پیدا کړی شوي دي.

۳ـ انسانان چې له خارو څخه پیدا کړی شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملایکـو خـلـقـت

ملایکې الله تعالی له نور څخه پیـدا کړي دي او په دې اړه یو حدیث نقـل دی ( عـن عایشة (رض) قالت:قال رسول الله (ص) خـلـقـت الملائکة من نور و خـلـق الجان من مارج من نار و خـلـق ادم لما وصـف لکم) مسلم

ژباړه: له عایشې (رض) څخه روایت دی چې ویلې یې دي رسول الله (ص) فـرمایلي دي. ملایکې له نور څخه پیـدا شوي دي او پـیریان د اور له لوگي لرونکو لـمـبو څخه پیـدا کړل شوي دي او ادم (ع) له هغه څه پیدا شوی دی، چې تاسې ته په قـرانکریم کې بیان شوي دي.

## د ملایکو په مسلمانانو باندې څه حـقـوق او څـو دي؟

۱ـ د هغوې پر وجود باندې اقـرار کول چې شتون لري.

۲ـ پر هغو ملایکو چې موږ ته یې نومونه ښکاره دي تـفـصـیـلي ایمان درلودل او چې نه دي ښکاره اجمالي ایمان درلودل.

۳ـ د هغـوی په مخـتـلـفو شکـلـونو باندې ایمان درلودل.

۴ـ د هغـوی په وظایفـو ایمان درلودل.

۵ـ هغـوی په خپلو مرتبو او درجو کې ساتل.

٦ـ د هغـوی سره مینه او محبت کول.

۷ـ هغـوی پورې ټوکې او مسخرې نه کول. ( لکه یهود چې یې کوي)

۸ـ هغـوی ته کنځل نه کول. ( شیعه گان یې چې کوي)

۹ـ تـل د هغـوی فضایل بیانول.

۱۰ـ هغـوی یو بې شمیره لښـکر منل.

## د ملایکې یو څو ډولونه

۱ـ جنت او جهنم نه د انسانانو ارواح وړل.

۲ـ د جنت ساتونکې ملایکې.

۳ـ د جهنم ساتونکې ملایکې.

۴ـ په شپـیـلـۍ پوه کوونکې ملایکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ـ نکـیر اومنکر.

## د ملایکو لویوالی څومره دی

رسول الله (ص) په یو حدیث کې د دې پـوښـتـنه یادونه کړې ده.
( عـن جابر بن عبدالله (رض) عـن النبی (ص) قال اذن لی ان احدث عـن ملک مـن ملائکة الله مـن حملة العـرش ان ما بـیـن شحمة اذنه الی عاتـقه مسیرة سبـع مائة عام ). ابوداود

ژباړه: د جابر بن عبدالله (رض) څخه روایت دی. چې رسول الله (ص) وفرمایل: چې اجازه وشوه ماته بیان کړم حالت د هغه ملایکو چې عـرش یې پورته کړي دی، د هغـوی غـوږونو د نرمۍ او اوږو ترمنځ فاصله تر ۷۰۰ کالو پورې ده. چې دومره لویې ملایکې دي نو ته ووایه چې عـرش به څومره لوی وي نو د الله تعالی شان او ذات به څومره لوی وي.

## د هغه ملایکو شمېره څومره ده چې عـرش یې پورته کړی دی؟

الله تعالی فـرمایی ( والملک عـلی ارجائها و یحمل عـرش ربک فـوقهم یومئذ ثـمـنـیـة ) حاقة ۱۷

ژباړه: ملایکې به د هغه په څنډو او کنارو باندې وي او ۸ اتو ملایکو به هغه ورځ ستا د رب عـرش پر خپل ځان باندې بار کړې وي.

## د وحې راوړلو ملایکې

د الله تعالی پر بشري رسولانو باندې د الله تعالی په حکم او امر سره د الله تعالی ګمارل شوي ملایکې وحې نازلوي فرمایي. ( و ماکان لـبـشـران یکـلـمه الله الا وحیا او مـن ورای حجاب او یرسل رسولا فـیـوحی باذنه مایشاء انه عـلی حکیم ) شورا ۵۱

ژباړه: هیڅ بشر دا مقام نه لري چې الله تعالی له هغه سره مخامخ خبرې وکړي. یا خو د هغه خبره په وحې ( اشارې) سره وي یا د پردې تر شا یا کوم پیغام راوړونکې ( ملایک) لیږي او هغه د هغه په حکم سره هر څه چې غواړي وحې کوي هغه لوړ او د حکمت خاوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملایکې څنګه مري

الله تعالی په قرانکریم کي فرمايي.( کـل من علیها فان و یـبقی وجه ربک ذوالجلال والاکرام.)

ژباړه: هر څه چې پر دغې ځمکې باندې دي، پناه کیدونکې دي او یوازې ستا رب چې د جلال او درناوي خاوند دی، باقي پاتې کیدونکې دی.

علامه ابن الجوزي (رح) په « بستان الواعظین و ریاض السامعین» کې لیکي: کله چې اسرافیل (ع) د لومړي ځل لپاره د صور شپیلۍ پو کړي! نو ځمکه به د سختې د زلزلې له امله ټوله اواره او برابره شي، د ځمکې ټول اوسیدونکي به هلاک شي! د ۷ اوه آسمانونو ټولې ملایکې به مړې شي! تسبیح ویونکې او صف دریدونکي ملایکې به هم ټولې مړې شي! عـرش پورته کوونکې او د الله تعالی تمجید او بزرګي بیانوونکي فرښتې به هم مړې شي او څلور مقربې ملایکې جبرائیل (ع)، میکائیل (ع) اسرافیل (ع) او عـزرائیل (ع) به پاتې شي.

***۱ـ د جبرایل (ع) مرګ***

الله تعالی به و فرمايي: ای د مرګ ملایکې! څوک پاتې دي؟ سره د دې چې الله تعالی ته د به د هر څه علم وي.

ملک الموت عـزرائیل (ع) به ووايي. ای زما پروردګاره تاته ښه معلومه ده. اسرافیل، میکائیل، جبرائیل، او ضعیف وناچاره بنده ملک الموت دې پاتې دی.

الله تعالی به ورته و فرمايي. ورشه جبرائیل ته او روح یې قبض کړه. ملک الموت به ولاړه شي او جبرائیل (ع) به د سجدې په حالت کې ومومي، بیابه ورته ووايي. ای مسکینه !ته له هغه څه څخه کوم شي غافل کړی یې، د څه چې له تا څخه غـوښتـنه کیږي؟ د ادم ټوله اولاده، د نیا او ځمکې ټول اوسیدونکې، مرغان درندې حشرات، د ځمکې اوسیدونکي، د عـرش او کرسۍ پورته کوونکي او د سدرة المنتهی اوسیدونکي ټول مړه شول او الله تعالی ماته امر وکړ چې، اوس ستا روح قبض کړم. هغه مهال به جبرائیل (ع) وژاړي او په زاریو به الله تعالی ته ووايي. یا الهی! د زنکـدن سختۍ را باندې آسانه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ ای پروردگاره! چې د جبرائیل غـوندې مقربه ملایکه زارۍ کوي او له الله تعالی څخه غـواړي چې د مرگ سختۍ پرې آسانه کړي، په داسې حال کې چې یوه لحظه یې هم د الله تعالی نا فرماني نه ده کړې. نو زمونږ بشر به څه حال وي چې مرگ مو بیخي هیر دی.

ملک الموت به جبرائیل (ع) ځان ته راټیـنگ کړي او مړ به پر ځمکه ولویـږي.

جبار ذات به بیا ووایي. ای ملک الموت!څوک پاتې شو؟ عـزرائیل (ع) به ووایي میکائل اسرافیل او ستا کمزورې بنده ملک الموت پاتې شو.

## ۲- د میکائیل (ع) مرگ

هغه فرښته چې پر باران او ابو باندې مقـرره ده.

الله تعالی به ووایي ورشه میکائیل ته او روح یې واخله. ملک الموت به میکائیل (ع) ته ورشي او هغه به په داسې حال کې ومومي، چې د باران او اوبو انتظار به کوي، تر څو هغه پر وریځو باندې توزیع کړي. ملک الموت به هغه ته ووایي.

ای مسکینه! ته له هغه څه څخه کوم شي غافل کړی یې، د څه چې مطالبه درڅخه کیږي. نه د بنی ادم، نه د حیواناتو، نه د درندو او نه د حشراتو رزق پاتې شوی دی. د اسمانونو او ځمکی اوسیدونکې ټول مړه شول. د عـرش کرسۍ او د ټولو اسمانونو تسبیح کوونکې ملائکې هم مړې شوې. اوس الله تعالی ستا د روح د قبض کولو حکم راته کړی دی.

میکائیل (ع) به هم هغه وخت په ژړا شي او له الله تعالی څخه به په زاریو غـواړي چې، د مرگ سختۍ پرې آسانه کړي.

ملک الموت به هغه په غـیـږ کې راټیـنـگ کړي او په داسې حال کې به مړ پر ځمکه ولویږي چې روح به یې وتلی وي.

الله تعالی به بیا ووایي. ای ملک الموت! څوک پاتې شو؟ عـزرائیل (ع) به ووایي. ای زما ربه! اسرفیل او ستا عـاجز بنده ملک الموت پاتې دی.

## ۳- داسرافیل (ع) مرگ

هغه ملائکه چې، د صور د شپیلۍ پر کولو ماموره ده.

الله تعالی به ووایي. ورشه اسرافیل ته او روح یې وکاږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک الموت به اسرافیل (ع) ته د الله تعالی د آمر په مطابق به ورشي. ( اسرافیل (ع) د ډیر ستر جسامت او بدن څښتن لویه فرشته ده) عزرائیل (ع) به هغه ته ووايي.

ای مسکینه! څه چې له تا څخه غوښتل شوي دي، له هغه څخه څه شي غافل کړی یې؟ مخلوقات ټول مړه شول او هیڅوک هم پاتې نه شو، اوس الله تعالی حکم راته کړی چې، ستا روح واخلم.

اسرافیل (ع) به ووايي. پاک دی هغه ذات چې مخلوقات یې په مرگ سره خاموش کړل. پاک دی هغه ذات چې په بقاء سره یې ځان ځانگړی کړ. ای پروردگاره! د مرگ سختۍ او تریخوالی راته آسانه کړه.

ملک الموت به اسرافیل (ع) هم ځان ته را ټینگ کړي. روح به یې واخلي او بې روحه ستره مجسمه به یې پر ځمکه ولویږي. که د اسمانونو او ځمکې ټول اوسیدونکی ژوندي وای. نو د اسرافیل (ع) د لویدلو له سختۍ او شدت څخه به ټول مړه شوي وای.

## ٤- د عزرائیل (ع) مرگ

هغه ملایکه چې د ارواح پر قبض کولو ماموره ده.

الله تعالی به پوښتنه ترې وکړي چې څوک پاتې شو ای ملک الموت؟ ملک الموت به ووايي. زما ربه او زما پروردگاره، ستا عاجز بنده ملک الموت پاتې شو.

الله تعالی به ووايي.

زما دې په خپل عزت او جلال قسم وي، چې زه به په تا هغه څه څکم، څه چې تا زما په بندگانو وڅکه، د جنت او دوزخ تر منځ ولاړ شه او ومره. ملک الموت به د جنت او دوزخ تر منځ ولاړ شي او یوه هیبت ناکه چیغه به یې له خولې ووځي، که الله تعالی د خپل بندگان مړه کړي نه وای، نو ټول به د عزرائیل (ع) د چیغې له سختۍ او تندوالي څخه مړه شوي وای.

بیا به الله تعالی بلاکیفه دنیا ته وگوري او وبه وايي.

ـ ای دنیا! چیرې دي ستا ویالې ونې او ودانۍ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چیرې دي پاچاهان او د پاچاهانو اولادونه؟
- چیرې دي جبارين او د جبارينو اولادونه؟
- چیرې دي هغه کسان چي، زما رزق به يې خوړه، زما په نعمتونو کي به يې چړچې کولې او عبادت به يې د نورو کاوه؟
- نن ورځ پاچاهي د چا ده؟
هیڅوک به ځواب ور نه کړي، بيا به الله تعالی ووايي.
( لمن الملک اليوم لله الواحد القهار.)
ژباړه: بادشاهی نن د چا ده خاص يو الله لره دی چی واحد او قهار دی.

## پيريان

د پيريانو په وجود يقـين هم د اسلامي عـقـيـدې برخه ده پيريان د غـيـبـي شيانو له جملې څخه دي چې الله تعالی او رسول الله (ص) مومنان د هغوی په باور مامور کړي دي پردې اساس د پيريانو په وجود يقـين لازمي دی.

## د پيريانو مفهوم

په لغت کې هغه شي ته ويل کيـږي چې له حواسو پټ وي په اصطلاح کې پيريان د الله تعالی داسې مخلوق دي چې د انسان او ملايک په منځ کې قرار لري. او د اختيار څښتـنان دي غير مادي صورت يې نه ليدل کيږي ددې توان لري چې په بل قالب کې د ښو او بدو اشکالو په بڼه ځان څرګند کړي.

## د پيريانو د پـيـژندلو لارې چارې

آسماني وحې يوازينۍ سرچينه ده چې موږ ته د دغـو موجوداتو له عالم سره آشنا کوي قرانکريم او نبوی احاديث يې موږ ته څرګندوي چې پيريان له څه شي څخه پيـدا شوي.
١ـ په قرانکريم کې د جن لفظ يادونه ٣٢ دوه ديرش ځله په ګڼو سورتونو کې شوې ده الله تعالی فرمايي.( وما خلقـت الجن والانس الاليعبدون.) الزريات
٢ـ نبوي حديث: رسول الله (ص) په هډوکو او خرشنو د استنجا څخه منع فرمايلې ده او ويلي يې دي. چې دا ستاسې د پيريانو وروڼو خوراک دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو ټولې ډلې د پیریانو په شتون اعتراف کوي او همدارنګه عام اهل کتاب د پیریانو په وجود قایل دي.

## دپیرې او ملک توپیـر

ملایکې نوراني مخلوقات دي نه څه خوري نه څه څښي او له تولید څخه سپیځلې دي د الله تعالی عبادت کوي. معصیت ورڅخه نه لیدل کیـږي مګر پیریان له اور څخه پیـدا شوي خوراک او څښاک کوي ښځینه او نارینه لري او تولد کوي او په مصیت هم لاس پورې کوي.

## د ابلیس (شیطان) پیـژندنه

د ابلیس (شیطان) په وجود باور هم د اسلامي عـقیـدې برخه ده دا ځکه چې شیطان د غـیبي امورو له جملې څخه دی. چې الله تعالی او رسول الله (ص) موږ د هغه له پـیروۍ څخه منع کړي یو په قرانکریم کې دغه لفظ ۸۸ اته اتیا ځله راغـلی دی. د ابلیس ( شیطان ) او طاغـوت الفاظ ۱۰۸ یوسلو اته ځله راغلی دی پردې اساس په شیطان باور لازمي شی دی.

## د ابلیس (شیطان) معنی

ابلیس په لغت کې عـربی کلمه ده، له ابلاس څخه اخیستل شوې معنی یې ( د الله تعالی له رحمته نا امید) سره البته ابلیس د شیطانانو پلار ګڼل کیـږي.
په اصطلاح کې هغه پیـری چې د ادم (ع) ته د تعظیم څخه انکار وکړ او د الله تعالی د لعنت مستحق وګرځید تر قیامته یې ورته مهلت ورکړ او د ګمراهۍ ټول وسّایل یې ور په برخه کړل.

***د ابلیس (شیطان) لغـوي تعریف***

د پیریانو او انسانانو په هر سرکښ او نافرمان باندې یې اطلاق کیـږي.

***د ابلیس (شیطان) اصطلاحي تعـریف***

په اصطلاح کې هغه سرکښو پیریانو څخه عبارت ده چې د انسان په بڼه د ښکاره کیدو توان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***د ابلیس (شیطان) اصل***

څرنگه چې د انسانانو اصل ادم(ع) دی په همدې توگه د ابلیس اصل هم پیری دی قرانکریم دغه مطلب ته د اشارې په ترڅ کې فرمایې.( کان من الجن) الکهف
ژباړه: دی د پیریانو له جملې څخه و.

**د ابلیس (شیطان) د تخلیق ماده**

ابلیس (شیطان) دپیریانو د نسل څخه دی. له همدې د پیدایښت ماده یې د اور لمبه ده. قرانکریم فرمایي.( والجان خلقنه من قبل من نار السموم.) الحجر
ژباړه: او له هغه نه مخکې موږ پیریان د اور له شغلې نه پیـدا کړي ول.

***ابلیس ته د الله تعالی ځواب***

شیطان وایي: ای الله ستا په لویۍ او عـظمت مې دې قـسم وي، څو چې انسان ژوندی وي زه به یې دوکه کوم او د جهنم لوري ته یې راکاږم.
الله تعالی ورته فرمایي: په خپل عـزت او جلال مې دې قسم وي، زه به عـفـوه ورته کوم څو چې دوی له ما څخه بخښنه و غـواړي او جنت به ورکوم.

***د شیطان سپارښتنه خپل زوی ته***

روي عـن معاذ بن جبل و عبدالله بن عمران ابلیس یقول لولده زلنبور سر بکتائبک فات اصحاب الاسواق زین لهم الکـذب و الحلف و الخدیعة والمکر والخیانة وکن مع اول داخل وآخرج منها. احیاء علوم الدین
ژباړه: د معاذ بن جبل او عبدالله بن؛ عمر (رض) څخه روایت دی چې شیطان خپل زوی «زلنبور» ته وایي. خپلې لښکرې یوسه د بازار خاوندانو ته ( په بازار کې معامله کوونکو ته) نو دوی ته ښایسته کړه درواغ، قسم اخیستل، د خلکو خطاء ایستل، چم او خیانت، او د لومړني راتلونکي او وروستني وتونکي سره ملگری شه.

شرح: د دې لپاره چې په بازار کې شیطان معامله کوونکي خلک ډیر وغـولوي او په هغوي باندې ډیر گناهونه وکړي، نو د خپلو زامنو ته وایي: ولاړ شۍ کوم خلک چې بازار ته راځي هغوی ته هر ډول گناه ښایسته کړئ لکه دروغ ویل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم اخیستل، د بل مسلمان ورور دوکه کول، مشتري یا بل چاته چم او دوکه ورکول او خیانت کول، او د هغه چا ملګري شئ کوم چې بازار ته ترټولو مخکې راځي او تر ټولو وروسته ځي. ( کوم څوک چې په بازار کې ډېر وخت تیروي نو د هغه سره شیطان ملګری شي.

## د نفس پیـژندنه

د نفس لفظ په عـربي ژبه کې په ډېرو معناو سره راغلی وینې ته هم نفس ویل کیـږي. بد نظر ته هم نفس وایي. همدارنګه نفس د ذات په معنی سره راغـلی دی البته په هغه صورت چې روح له جسم سره یو ځای وي د نفس اطلاق په انساني روح کیـږي.

## د نفس غـوښـتـنه

الله تعالی فرمایي.( یایها الذین امنوا اتـقـوا الله ولـتـنـظر نفس ما قدمت لغد)
ژباړه: ای ایمان والاو د الله تعالی نه اوویریږئ او هر نفس دې دا وګوري چې هغه سبا لپاره څه لیـږلي دي.
په ایت مبارک کې هغه طرف ته اشاره ده چې انسان د خپل تیرو اعمال محاسبه وکړي حضرت عمر(رض) فرمایي. له دې نه مخکې چې له تاسو سره محاسبه وشي خپله د خپل ځان سره محاسبه وکړی او له دې نه مخکې چې ستاسو اعمال وتلل شي تاسې خپله د خپل اعمال وتلئ.
په یو حدیث شریف کې دا ذکر دی چې یو سړي رسول الله (ص) ته عـرض وکړ چې ماته نصیحت وکړه. رسول الله (ص) ورته و فرمائیل. چې آیا ته د نصیحت لپاره راغـلی یې هغه وویل هو. رسول الله (ص) ورته و فرمائیل کله چې ته د کوم کار اراده وکړې نو د هغه په کولو کې غـور وکړه که د هغه کار پایله ښه وي نو ویې کړه او که پایله یې بد وي نو مه یې کوه. په یو بل روایت کې راغـلي دي چې عـقـلمند سړي لپاره دا غـوره دی چې په ۴ څلورو ساعـتونو کې ۱ یو ساعـت د خپل نفس د محاسبې لپاره تیر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې شپه به تیاره شو حضرت عمر (رض) به خپلې پښې په قمچینې سره وهلې او خپل نفس ته یې به وویل تا نن کوم عمل کړی دی. د میمون بن مهران (رض) قول دی چې سړی تر هغه وخته پورې متقي نه شي کیدای چې تر څو د یو کار نه وروسته د خپلو د شریکانو د محاسبې نه هم سخت د خپل ځان سره محاسبه ونه کړي.

له حضرت طلحه (رض) نه روایت دی چې یو ورځ خپل باغ کې ولاړ وُ لمونځ یې کوله په دغه وخت کې د مارغانو شور جوړ شو چې د هغې په وجه د ده لمونځ کې فکر بدل شو نو هغه د دغې بې فکرې په بدله کې انتهائي پښیماني حالت کې هغه ټول باغ د الله تعالی په لاره کې وقف کړه.

د ابراهیم تیمي قول دی چې ما خپل نفس ته د جنت مثال مخکې کړه جنت نه میوه خوړل د نهرونو نه اوبه څکل او له حورو او پاکو ښځو سره د ناستې ولاړې صفت مې وکړله. بیا مې خپل نفس ته د جهنم تکلیف په دوزخ کې د دوزخیانو پیپ او گزگ خوړل د دوزخ درانه زنځیرونه طوقونه او داسې نور عذابونه مې بیان کړه او ورته مې وویل تاته له دغو دواړو نه کوم یو خوښ دی. نفس وویل زما اراده ده چې په دنیا کې ښه او نیک عملونه وکړم. ما ورته وویل في الحال تاته مهلت درکړل شوې دی لهذا ښه عملونه وکړه.

### د نفس سره جهاد کول

هغه دا چې د دین اومور زده کول، وربانديې عمل کول،دغه اومورو ته دعوت ورکول، د دعوت په سختیو باندې صبر کول دي ( عن فضالة بن عبيد قال : قال رسول الله (ص) في الحجة الوداع: المجاهد من جاهد نفسه في طاعة الله و المهاجر هجر الخطايا و الذنوب.)

ژباړه: مجاهد هغه دی چې د الله تعالی په اطاعت کې د خپل نفس سره جهاد وکړي او مهاجر هغه څوک دی چې له خطایاوو او گناهونو څخه هجرت یې هجرت کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پیغمبر پیژندنه

۱ـ پیغمبر هغه څه ته وایي چې عقل یې مني خلکو ته د نیکي ښوونه کوي او هغه څه وایي چې خپله پرې عمل کوي د خلکو د ښیګڼو لپاره ځان ته زیان رسوي او د دې برعکس کار نه کوي. هغه د شرافت لوړ فکر او د صداقت بیلګه وي. هیڅ ډول نیمګړتیا پکې نه وي. دعوت یې د خلکو لپاره وي نه د ځان د شخصی ګټو لپاره او که لارښونې یې عملي شي د ټول انسانیت لپاره به ښه بیلګه وي. پیغمبر د الله تعالی د استازیتوب دعوی کړې وي خپل بیان د ځان نه بلکې د الله تعالی کلام بولي خپل اصلاحي کار او دعوت د ژوند او دنیا څخه ډیر ورته ګران وي. د حالاتو تغیر یې پر هدف دعوت او تګلارې اثر نه کوي په بیان کې یې تناقضات نشته.

۲ـ کله چې تاسې ته ښکاره شوه چې اسلام یوه سمه او مستقیمه لاره ده بیا نو د دې لارې پریښودل یقیناً بې لارې ده یو حیوان هم هدف ته مستقیمه لاره غوره کوي. په پیغمبر باندې د ایمان راوړلو څخه انکار الله تعالی ته د رسیدو لپاره ټولې لارې بندوي.

۳ـ کله چې د یوه شخص پیغمبري ثابته شي بیا نو د هغه اطاعت ضروري دی. په نړۍ کې د هر کارپوه په هکله دا خبره صدق کوي چې کله د هغه پوه په یوه کار کې ومنله شي بیا خلک د هغه خبره مني ضرور نه ده چې د هرې خبرې په حکمت او ضرورت یې ځان یوه کړي.

۴ـ څوک چې د پیغمبر (ص) د خبرو منلو څخه انکار کوي هغه به ناپوه د خراب ذهن خاوند د پلار او نیکو د طریقو ړوند تقلید کوي متکبر او د نفس بنده وي.

## پیغمبر ته اړتیا

هغه څوک چې د الله تعالی لخوا د بشر لارښوونې لپاره را استول شوی وي پیغمبر ورته وایي. بشر پیغمبر ته ډیر اړتیا لري د پورتنۍ ادعا ثبوت لپاره له لاندې دلیلونه ویل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ ثابته ده چې ټول موجودات يو پالونکی او پيـدا کونکی لري چې الله تعالی دی. انسانان د خپل ژوند سمون شر او فساد د مخنيوي لپاره يو قانون ته اړتيا لري چې د هغه په رڼا کې د خير لټون وکړي او فساد له منځه يوسي. ځينې چارې لکه د قيامت ورځ د اعمال ميزان حساب جنت او دوزخ د انسان د عـقـل په واسطه درک کيدای نه شي نو ضروري و چې د الله تعالی لخوا يو داسې قانون را وليـږل شي چې انسانان د هغه مطابق خپلې ښيګنې ترلاسه کړي.هغه شخص ته چې د الله تعالی په امر خدای (الهی) قانون بشر ته رسوي او يا يې بيان کړي پيغمبر ورته ويل کيـږي. د پيغمبري د اثبات لپاره د الله تعالی لخوا ورته رينښـتـني دليلونه ورکړل شوي وي چې هغو ته معجزه وايي. د پورتني مطلب د روښانتيا لپاره ويلی شو. موټر الوتکه او داسې نور...شيان چې د ځينو خلکو لخوا اختراع شوي که د دې شيانو د چلولو طريقه جوړونکي شخص لخوا بل چاته ور زده نه کړای شي. هغه بل شخص د هغو اختراع شوو شيانو په استعمال نه پوهيـږي نو که لومړی يې بل څوک استعمال کړي ممکن ده د لوي ستونزې سره مخامخ شي. همدارنګه دنيا او د دنيا ټول موجودات چې الله تعالی پيـدا کړي دي. تر څو چې د الله تعالی لخوا د ژوندانه د خير او شر چارې چاته ور ونه ښودل شي په خپل فکر سره يې هيڅوک نه شي پيـژندلای.

۲ـ که د الله تعالی لخوا خلکو ته پيغمبر نه وای را ليـږل شوی. د خير او شر لارښوونه ورته نه وای شوې او د قيامت په ورځ ورسره د اعمالو حساب پيل شي ګناهګارانو او سرکښانو ته د دوزخ بيولو حکم صادر شي نو دوی به د الله تعالی حضور ته عـذر او بهانه وړاندې کړي او داسې به ووايي يا الله مونږ ستا د رضا او قهر موجبات نه پيـژندل تا به موږ ته پيغمبر قانون او احکام راته را ليـږلي وای د خپلې رضا او قهر لارې به دې راته ښودلي وای موږ به هيڅکله ورځخه مخالفت نه وای کړی او د هغه به مو پوره اطاعت کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انبیا (ع) معصوم دي

## انبیا دوه حالته لري

۱ـ د انبیا (ع) ژوند د نبوت او رسالت د منصب له ښکاره کیدو څخه دمخه.
۲ـ د انبیا (ع) ژوند د نبوت او رسالت د منصب له ثبوت څخه وروسته.

انبیا (ع) ( پیغمبران) په دواړو حالتو کې یعنی د نبوت او ثبوت څخه د مخه او وروسته له گناهونو څخه ( وړه گناه وي او که لویه ) پاک او معصوم دي. ولې که انبیا (ع) د گناهونو او د دروغو ویلو څخه پاک او معصوم نه وي نو د نبوت په دعوې کې یې شک او شبهه پیدا کیږي. ځکه هرڅوک چې په گناه او دروغ ویلو باندې و پیژندل شي نو طبعاً او عادتاً د هغه رښتیا خبره هم احتمال د دروغو پیدا کوي لکه چې رسول الله (ص) فرمایلی دي.( من عرف بالکذب فصدقه یکون کذبا )

ژباړه: څوک چې په دروغو و پیژندل شي نو رښتیا یې هم دروغ دي. که د نبي د نبوت له ثبوت څخه د مخه که له گناه او دروغو ویلو څخه پاک نه وي او په دروغو ویلو شهرت ومومي نو خبره یې د منلو وړ نه وي. که داسې شخص ته وحی ولیږل شي او په رښتیا د نبوت دعوې وکړي هیڅوک پرې باور نه کوي ځکه خلک به گومان کوي چې دا دعوی به یې هم دروغ وي. پیغمبر باید د خلکو تر منځ یو منلی شخصیت وي تر څو د باور او اعتماد وړ وگرځي او متابعت یې وکړل شي نبي باید هم له لوې گناه او هم له وړې گناه څخه پاک او معصوم وي. ځکه چې که د لوې گناه صدور ترې وشي کیدای شي چې کسر ترې هم صادر شي او که وړه گناه ترې صادره شي نو د لوې گناه صدور هم ترې کیدای شي ځکه چې وړه گناه د قصد نیت او دوام سره لویه گناه گرځي نو واجب ده چې انبیا (ع) هم مخکې د نبوت له ثبوت نه او هم وروسته د نبوت له ثبوت نه د لوې گناه او هم د وړې گناه له صدور نه معصوم وي. کوم شیان چې د پیغمبرانو نه صادره شوي دي هغه گناهونه نه دي بلکې هغوی ته زلالت ( ښوییدنه) او خطاء وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اولو العـزمه پیغـمبران

ټول پیغمبران د الله تعالی په وړاندې معزز او د عـزت خاوندان دي، ټول پیغمبران د ډیر زیات عـزم، صبر او حوصلې خاوندان وو. خو ځیني پیغمبران الله تعالی په عـزم سره ستایلي دي دا په دې دلالت کوي چې دوی د نورو انبیا (ع) په پرتله د ډیر قوي عـزم او د الله تعالی په وړاندې د ډیر لوړ مقام او لوړې درجې لرونکې دي.

عـزم صبر، ثبات او د یو کار د کولو لپاره قوي هوډ ته ویل کیـږي. ځینو پیغمبرانو ته ځکه اولو العزم ویل کیـږي چې د دوی د دعـوت او رسالت په کار کې له صبر، ډیر زغم او حوصلې څخه کار اخیستی دی، نو الله تعالی په اولو العزم صفت سره ستایلي دي او فرمايي.( فاصبر کما صبر اولو العزم من الرسل ) الاحقاف

ژباړه: نو صبر کوه لکه چې همت ناکو رسولانو صبر کوه.

## د الو العـزمه پیغمبرانو شمیر

د الو العزمه پیغمبرانو د شمیر په اړه له علماء څخه ډیر روایت نقل شوي دي خو د جمهورو علماو په نزد د الوالعـزم پیغـمبران ۵ پنځه کسان دي. حضرت نوح (ع) حضرت ابراهیم (ع) حضرت موسی (ع) حضرت عیسی (ع) او حضرت محمد (ص). چې الله تعالی په دې روایت کې را ټول کړي دي.( واذ اخذنا من الـنـبـیـن مـیـثـاقـهم و منک ومن نوح و ابراهیم و موسی و عسی ابن مریم و اخذنا منهم میـثـاقا غـلظا ] الاحزاب

ژباړه: مهال چې موږ له (ټولو) انبیاو او (حصوصاً) له تا، نوح، ابراهیم، موسی او د مریمې زوی عیسی نه ژمنه واخیسته او ښه پخه ژمنه مو ترې واخیسته. او همدارنگه الله تعالی په دې مبارک ایت کې هم ذکر کړي دي.( شرع لکم من الدین ما وصی به نوحاً والذي اوحینا الیک وما وصینا به ابراهیم و موسی و عیسی ان اقـیموا الدین ولا تـتفرقو فیه کبر علی المشرکین ما تدعـوهم الیه )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: تاسو ته یې هغه دین ټاکلی ( بیان کړی) چې په هغه سره یې نوح ته سپارښتنه کړې وه او هغه چې تاته مو وحې کړې او په هغه سره موږ ابراهیم، موسی او عیسی ته سپارښتنه کړې وه چې ( همدغه ) دین تر سره کړئ او اختلاف مه پکې اچوئ. مشرکانو باندې هغه خبره ډیره درنه ده چې ته یې وربلې.

## د الو العزمه پیغمبرانو نومونه

۱ـ حضرت نوح (ع)

۲ـ حضرت ابراهیم (ع)

۳ـ حضرت موسی (ع)

۴ـ حضرت عیسی (ع)

۵ـ حضرت محمد (ع)

## د الو العزمه پیغمبرانو فضیلت

دغه الو العزمه پیغمبران له نورو ټولو پیغمبرانو څخه د زیات فضیلت خاوندان دي او په دوی کې د ډیر زیات فضیلت خاوند حضرت محمد (ص) دی.

له ابي هریرة (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) و فرمایل.[ خیار ولد ادم نوح و ابراهیم و عیسی و موسی و محمد (ص) وصلی الله علیه وسلم علیهم اجمعین.]

ژباړه: د ادم (ع) د اولادې تر ټولو غوره حضرت نوح (ع) حضرت عیسی (ع) حضرت موسی (ع) او حضرت محمد (ص) دی.

له ابي هریره څخه روایت دی چې رسول الله (ص) و فرمایل.( انا سید ولد ادم یوم القیامة واول من ینشق عنه القبر واول شافع واول مشفع.)

ژباړه: زه د قیامت په ورځ د ادم (ع) د اولادې سید او مشر یم، لومړی به زما قبر شق او خیرې کیږي، زه لومړی شفاعت کوونکې یم، او لومړی به زما شفاعت قبلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مومن پـيـژندنه

مومن هغه چاته وايي چې پر الله تعالى ايمان راوړي هغه ته ځان وسپاري د هغه اطاعـت او فرمانبرداري وكړي په هغه د زړه له تله پوره يقـيـن ولري د هغه سره څوک شريک نه کړي د هغه په يووالي باور له هغه او د هغه له قانون سره د زړه له تله مينه ولري د پـيـغـمبر (ص) سره له ټولو انسانانو څخه ډيره مينه وكړي د هغه اطاعـت وكړي خپله هره دنيوي ستونزه د الله تعالى په كلام او د رسول الله (ص) په احاديث سره حل وفصل كړي هيڅكله د هغه په قانون څه تـنـگي احساس نه كړي او په ژوند كې د قبر د ژوند لپاره توښه برابره كړي پر اخرت جنت دوزخ او حساب كتاب باندې پوره يقـيـن او باور ولري.

## د مومن طبعت

مومن د تل لپاره ثابت قدم او د كلک هوډ څـښـتن وي. لكه څرنگه چې الله تعالى وايي.( انما المومنون الذين امنوا بالله ورسوله ثم لم يرتابوا )

ژباړه: په حـقـيـت كې خو مومنان هغه وي چې پر الله تعالى او د هغه پـيـغـمبر (ص) ايمان راووړ او بيا هغوی څه شک ونه كړ.

او همدارنگه د كافرانو په اړه وايي.( فهم في ريبهم يترد دون )

ژباړه: هغوی په هماغه شک كې سرگردانه دي. او پر دې سربيره خپلې ژمنې ماتوي. تاسې ته پکار ده چې كله ورته سمه لار ښكاره شي او غالب گومان دې پرې راشي. نو بيا په ډاډ زړه مخ په وړاندې درومه. يو كس د خپلې ښځې په طلاقـولو كې دوه زړه و. نو يو پوه كس ته ورغـی او مشوره يې ترې وغـوښـته چې بايد څه وكړي؟ حكيم پوښـتنه وكړه. د دې ښځې سره دې څومره كلونه تير كړي دي؟ څلور كاله. له څلور كاله راهيسې له صبر نه كار اخلې؟ هو. مهمه دا ده چې صبر څخه كار اخيستل پکار دی. خو تر كومه؟ عـقـلمن هغه څوک دی. چې د يو شي په اړه فكر وكړي چې د هغه لپاره څنگه دی؟ ورسره تلل كولای شي او كنه؟ او تر هغه وروسته د اقدام لپاره كلک هوډ وكړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شاعـر وایي. د هغه څه درملنه یې چې ستا زړه نه غـواړي. همدا ده چې ورڅخه جلا شې. د څیـړنو او تجربو په رڼا کې تردد او او حیرانتیا په څلورو مسّلو کې ډیره پـیـښیـږي.

۱ـ د تحصیل او زده کړې پر مهال د تخصص او رشتې غـوره کولو پر مهال چې د تردد له کبله یې ډېر قیمتي وخت له لاسه وځي.

۲ـ د یو مناسب کار غـوره کولو پر مهال، چې ډېر خلک په ده نه پوهیـږي چې د ده له شان سره مناسب او وړ کار به څه وي؟

۳ـ د واده په قضیه کې د ښځې غـوره کولو پر مهال چې ډېر ځوانان یې له دوه زړه توب او حیرانتیا سره لاس او گریوان کړي دي، په دې معنی چې د ښځې په انتخاب کې د خپل ومني او که د مور پلاراو که د ورور؟ د تره ومني او که د ترور؟

۴ـ د طلاق مسّلې پر مهال چې زیات شمیر خلک یې له تردد سره مخ کړي دي. په دې معنی چې خپله ښځه طلاقه کړي او کنه دغه د اوسپنې نینې پرلپسې ډول وچیچي.؟

## د مومن مقام او مرتبه

ایمان یوازې د دعـوې نوم نه دی بلکې د یوې کړنې سلوک او پرله پسې عمل نوم دی او که هغه سلوک کړنې او ترتیب په وجود کې را نه شي نو ایمان په دغه زړه کې نشته او که انسان خپل ځان یوازې د ژبې اقرار پورې محدود کړي نو دغه کس مومن نه دی. الله تعالی چې چاته ایمان ور په برخه کړي او مومن یې وگرځوي نو بیا د داسې مومن د مقام او مرتبې په اړه رسول الله (ص) فرمايي.( لیس شی اکرم علی الله من الموءمن )

ژباړه: له مومن څخه ډېر قـدرمن د الله تعالی په نزد هیڅ شي نشته. او الله تعالی فرمايي.( لو ان اهل السماء والارض اشتر کوافی دم مومن لاکبهم فی النار)

ژباړه: که آسماني او ځمکنی ټول مخلوق د یو مومن په وژنه کې برخه واخلي. نو زه به دا مخلوق پړمخې جهنم ته ورغـورځوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنی که دا ټول مخلوق په ګډه سره يو مومن ووژني. نو د مومن وينه ماته دومره د قدر وړ ده چې زه به د دې مومن په سر دا ټول مخلوق جهنم ته وغـورځوم. او بل ځای کې فرمايي.( من عادلی وليا فقد ازنت له بالحرب )
ژباړه: که چا زما د يو ملګري سره دښمني وساتله نو زما هغه کس ته د جنګ اعلان دی.

## مومن دروغجن کيدای نشي

له رسول الله (ص) څخه پوښـتنه وشو يا رسول الله (ص). ايکون المومن جبان. ايا مومن بې زړه کيدای شي؟ رسول الله (ص) وفرمايل چې دا يو طبيعي څيـز دی چې ځينې خلک زړه ور وي او ځينې بې زړه وي نو مومن بې زړه کيدای شي هو.

بيا ترې پوښـتنه وشوه. ايکون المومن بخيلا. ايا مومن بخيل کيدای شي؟ رسول الله (ص) هو مومنانو کې به بخيل خلک هم وي اوسخيان هم. بيا ترې پوښـتنه وشوه. يارسول الله (ص) ايکون المومن کذباً. ايامومن دروغجن کيدای شي؟ رسول الله (ص) وفرمايل نه مومن دروغجن کيدای نشي مومن او دروغ نه يو ځای کيـږی.

زه پردې خبره نه پوهيدم خو بيا د کلنـټـن په کيس کې پرې پوهه شوم. ځکه پرهغه باندې ترټولو لويه نيوکه چې وه د دروغـو په اړه وه ځکه پر هغه باندې دا نيوکه نه وه چې مخ دې ولې تور کړی ( زنا دې ولې کړې ده ) او دا هيڅوک نه پوښـتي ولې، چې دا خو ټولو ته په ډاګه ده او د پوښـتنې اړتيا هم نـشـته ده خو پرده چې کومه اصلي نيوکه وه هغه دا وه چې تا دروغ ولې ويلې دي.

که تاسې غـربي نړۍ ته لاړ شئ او يو کس د شرابو په نشه کې ډوب وي، بې حيايي او بد کاري کوي او په ډاګه يې بې حيايي پيل کړي وي. نو د دې په ويلو سره وګورۍ چې ته غـل يې او له ګريوانه مو نيسي که نه هغه به په نشه کې ډوب دی، بدکاري او بې حيايې کوي نو بې شکه ورته ووايه چې شراب دې څښلي دي نو درته وبه وايي چې هو. څښلی مې دي او بده يې هم نه ګڼي او که ورته ووايې چې ته دروغجن يې نو لمبه به شي، نو ښکاره شوه چې رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ص) د دروغـو سختي پرځای فرمايلې ده او د ايمان او رښتياوتر منځ يې يوه اړيکه پيدا کړې ده، يعنی څوک چې رښـتونی نه دی نو د هغه په زړه کې ايمان هم نشته.

د يوه اوږده حديث يوازې د پيـل برخه ليکم چې په بخاري او مسلم شريف دواړو کې راغلي دي.( قال لايزني الزاني حين يزني وهو مومن)

ژباړه: رسول الله (ص) فرمايي. چې کله زنا کار زنا کوي، نو هغه په دې وخت کې مومن نه وي بلکې ايمان د هغه له زړه څخه ووځي. ( ولايسرق السارق حين يسرق وهومومن)

ژباړه: او غـل هم د غـلا په وخت کې مومن نه وي.( د غـلا پرمهال ترې ايمان ځي) ( لايشرب الخمر حين يشربها وهو مومن)

ژباړه: او کله چې يو کس د خيانت په کولو کې بوخت وي، د رشوت په اخيستلو کې بوخت وي، او يا په ډاګه د بې ايمانۍ په کولو بوخت وي، نو په دغـه وخت کې په دوی کې ايمان نه وي. ( المومن مالف ولاخير فيمن لايالف ولا يولف)

ژباړه: مومن ځای د محبت او د الفت وي او خيريانې ګټه نشته په هغه چا کې چې نه له چاسره مينه کوي او نه ورسره مينه کيـږي. او په بل ځای کې فرمايي.( المومن للمومن کلـبـنـيـان يشد بعـضه بعضا ثم شبک بين اصابعه)

ژباړه: يو مومن د بل مومن لپاره داسې وي لکه په يو ديوال لګيدلې خښـتې، چې يو بل قـوي کوي او د (ثم شبک اصابعه) په ويلو سره يې د ګوتو پـنـجـو يو په بل کې يې ورکړې او ويې ويل چې مومنان په خپل منځو کې سره داسې دي.

## د مومن مسّوليت

د الله تعالی معرفـت د الله تعالی د پيغمـبر (ص) پيـژندنه د خپل ژوند د حکمت پيـژندل د الله تعالی د دين او اخرت پيـژندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مومن راحت چیرې دی

له حسن بصری (رح) څخه و پوښتل شوه چې د مومن راحت چیرې دی؟ هغه ورته وویل: که غفلت ورڅخه شوی وي. نو په سجده کې دی او که گناه ورڅخه شوې وي نو په توبه کې ده.

همداډول الله تعالی د قرانکریم د «الرعد» سورت په ۲۸ اته ویشت نمبر ایت کې فرمایلي ( الا بذکر الله تطمًن القلوب)

ژباړه: همدغه د الله تعالی یاد هغه شی دی چې زړونو ته ډاډینه ور په برخه کوي. یعنی د الله تعالی په ذکر سره زړونو ته اطمنان حاصلیږي او زړونه پرې سکون مومي.

همداراز د قرانکریم د «البقره» سورت په ۱۵۲ یو سلو دوه پنځوس نمیر ایت کي فرمایلي.( فاذ کرونی اذکرکم واشکروالی ولاتکفرون )

ژباړه: له دې امله تاسې ما په یاد ولري چې زه به تاسې یاد کړم. او زما شکر ادا کړي د نعمت نا شکري مه کوي.

او هغه څوک چې بې راحته دي د هغوی په اړه الله تعالی د قرانکریم د «طـه» سورت په ۱۲۴ یو سلو څلورویشت نمبر ایت کې فرمایلي ( و من اعرض عن ذکری فان له معیشة ضنکا و نحشره یوالقیمة اعمی )

ژباړه: او څوک چې زما له ذکر څخه مخ اړوي د هغه لپاره په دنیا کې تنگ ژوند وي او د قیامت په ورځ به مونږ هغه ړوند راپاڅوو.

# د مسلمان پیژندنه

عن عبدالله بی عمرو عن بنی (ص) قال ( المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده والمهاجر من هاجر مانهی الله عنه ) رواه بخاري

ژباړه: له حضرت عبدالله (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) وفرمایل. مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمان یې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امن وي او مهاجر هغه څوک دی چې له گناهونو څخه ځان وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ د ژبې سپېڅلتیا مسلمان په غـور او سوچ سره خبرې کوي او د بدو تورو او کنځلو څخه ځان ساتي.
۲ـ د مسلمان له لاسه هیچاته ضرر نه رسیـږي.
۳ـ د ګناه له مجلسونو څخه لرې والی مسلمان باید د ګناهونو له مجلسونو څخه خپل ځان لرې وساتي او په پاک چارپیـریال کې ژوند وکړي.
انسان ته له دوه لوریو ضرر رسیدلای شي یو جسمي او فزیکي او بل معنوي او روحي. بناء په دې حدیث شریف کې مسلمانان نورو ته د ژبې او لاس له هر ډول ضرر رسولو څخه منع شوی دی تر څو مسلمانان یو بل ته د متـقابل احترام په فضاء کې د عـزت ژوند وکړي او له هر ډول تیري، بهتان، تمسخر، او ازار څخه خوندي وي.

## مسلمانان سره ورونه دي

یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی. لکه څرنګه چې الله تعالی په قرانکریم کې د الحجرات په سورت په ۱۰ ایت کې فرمایي.( انما المومنون اخوة فاصلحوا بـیـن اخویکم واتـقـوا الله لعلکم ترحمون) حجرات ۱۰
ژباړه: مومنان سره ورونه دي. نوتاسې د خپلو ورونو تر منځ سوله راولي او له الله تعالی څخه ووېریـږي چې ترڅو پر تاسې رحم وشي.
مومنان تل د دیني وروری پر اساس په خپلو منځو کې مینه او لورینه لري او یو بل ته د ښیـګـڼې رسولو په فکر کې وي او هر یو د خپل مسلمان ورور مرسته کوي او زیان ور رسولو څخه ځان ساتي.

## یو مسلمان د بل مسلمان سره خبرې نه کول

د حضرت ابو هریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) و فرمایل چې مسلمان لپاره جایزه نه دی چې د خپل مسلمان ورور سره درې ورځو نه زیات تعلـق پریـږدي او چا چې درې ورځو نه زیات تعلـق پرېښوده ( خبرې ورسره ونکړې) او بیا مړ شو نو دې دوزخ ته داخل شو. احمد ابوداود

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حضرت ابو هریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) وفرمایل چې د جنت دروازې د گل (پیر) او زیارت په ورځ کې پرانستل کیږي نو هر هغه بنده ته بخښنه کیږي چې الله تعالی سره یې څه څیز نه وي شریک کړی (مشرک نه وي) او بل هغه کس ته بخښنه نه کیږي چې د دې او د بل مسلمان په منځ کې خپگان وي الله تعالی بهووايي چې دا دواړه پریږدي چې ترڅو یو بل سره روغه نه وي کړې.مسلم

دې دواړو حدیثونو کې مسلمانانو ته ډیر زیات زجر ښکاره شوه د هغو کسانو په حق کې چې یو د بل سره خبرې نه کوي. د لومړی حدیث نه دا ښکاره شوه چې یو مسلمان بل مسلمان سره د درې ورځو نه زیات خبرې بندې کړي او بیا دې مړ شي نو دې به مستقیماً دوزخ ته ځي که څومره ډیر نیک اعمال یې کړي وي خو دا به هم دې د اور نه بچ نه کړي.

او دوهم حدیث نه دا ښکاره شوه چې یو مسلمان د بل مسلمان نه خپه وي او خبرې ورسره نه کوي دې دواړو ته به تر هغه وخته پورې بخښنه نه کیږي چې تر څو پورې دوی دواړه روغه نه وي کړې دا څومره د افسوس خبره ده چې انسان ته په داسې وخت مرگ راشي او دې لپاره بخښنه نه وي شوې باید مونږ او تاسو یو مسلمان نه هم خپه نه شو دا ډیره لویه گناه ده او ځان ترې وساتئ.

د سلمی (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي چې کوم کس د خپل مسلمان ورور سره تر یو کال پورې تعلق پریښود نودا د هغه وینې تویولو په شان دي ( دومره گناه یې وشوه چې گویا یو مسلمان یې قتل کړی وي) ابو داود

د حضرت ابو ایوب (رض) څخه چې رسول الله (ص) فرمایلي دي چې هیڅ مسلمان ته جایز نه دي چې د خپل مسلمان ورور سره د درې شپو نه زیاتې خبرې اترې پریږدي چې د خبرو په وخت کې دوی نه یو کس یو خواته مخ اړوي او بل کس بلې خواته غوره په دواړو کې هغه څوک دی چې لومړی پرې سلام واچوي. بخارې مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حضرت ابو هریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي. د مسلمان لپاره جایز نه دي چې د خپل مسلمان ورور سره د درې ورځو نه زیات تعلق پریږدي که درې ورځې پرې تیرې شوې او دې ورسره مخامخ شو نو سلام دې پرې واچوي که هغه ورته د سلام ځواب ورکړه نو دواړه په ثواب کې شریک دي او که د سلام ځواب یې ورنه کړه نو ټوله گناه د هغه کس په غاړه ده چاچې د سلام ځواب نه وي ورکړی. دغه کس چې سلام اچولی دی، ده د گناه نه خلاص شو، دغه کس به درې ځلې سلام اچوي پس د درې سلامونو نه د دې غاړه خلاصه ده.ابوداود

## د دوه مسلمانانو په منځ کې سوله

الله تعالی فرمایي.( فاتقـوا الله واصلحوا ذات بینکم )

ژباړه: د الله تعالی نه وویریـږئ او سوله وکړي د خپلو په منځو کې.

( انما المومنون اخوة فاصلحوا بیـن اخویکم)

ژباړه: او ټول مسلمان په خپلو منځو کې وروڼه دي، د خپلو د دوو مسلمانانو ورونو په منځ کې سوله وکړئ.

د حضرت ابو هریره (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي. هره ورځ چې لمر راخیـژي نو په خلکو د هغوی د هر جوړ په بدله کې صدقه کول ضروري دي چې ته د دوو کسانو په منځ کې سوله وکړی نو دا صدقه ده. چې ته د یو سړي سره د هغه په سورلۍ کې مرسته وکړې مثلاً چې هغه په سورلۍ سوریـږي نوته یې سپور کړې یا ورسره د هغه سامان په سورلۍ کیـږدې نو دا صدقه ده. په ښه ډول خبرې کول صدقه ده او هر قدم چې ته جومات ته د لمانځه لپاره اخلې دا صدقه ده او چې ته د لارې نه څه ضرري څیـز لرې کړې دا صدقه ده. بخاري مسلم

د ام کلثوم بنت عـقبه بن ابی معیط (رض) څخه روایت دی فرمایي چې ما د رسول الله (ص) څخه نه اوریدلي دي چې فرمایل یې هغه څوک دروغجن نه دی چې د خلکو په منځ کې سوله کوي چې ښه خبره ورته ورسوي. یا نیکه خبره ورته وکړي. بخاري مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی دوه کسان په خپل منځ کې وران دي ته یو ته راځې هغه ته وایې چې یاره دې سړي خو ستا په اړه دا دا ښې خبرې کولې. او بل ته لاړ شې هغه ته د ده له طرفه خپل د ځان نه خبره وکړې چې د دې دواړو په منځ کې یو د بل سره مینه پیـدا شي او سوله وکړي. نو کومې خبرې چې ته د ځانه کوي نو دا دروغ کې نه حسابیـږي.

## د مسلمان وژل

***د قاتل او مشرک بخښـنه کیدل.***

الله تعالی فرمایي.( ومن یقـتـل مومنا متعمدا فجزاوه جهنم خالدًا فیها ) نساء ۹۳

ژباړه: او هر هغه چا چې قـتـل کړه مومن (مسلمان) په قصد سره ( په ناحقه ) بس سزا ( ځای د ده جهنم دی چې تل به وي په دې جهنم کې.

( لو ان اهل السماء والارض اشتر کوافی دم مومن لاکبهم فی النار)

ژباړه: که اسماني او ځمکنی ټول مخلوق د یو مومن په وژنه کې برخه واخلی، نو زه به دا مخلوق پړمخې جهنم ته ورغـورځوم.

د حضرت ابو دردا (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) وفرمائیل چې د هرې گناه په اړه امید شته چې الله تعالی بخښـنه وکړي مگر هغه کس (هیڅکله) نه بخښـي چې د شرک په حالت کې مړوي او یایې یو مومن مسلمان په قصداً قـتـل کړی وي. ابوداود

د حضرت ابي سعید خدري (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) و فرمائیل. که چیرې د ځمکې او آسمان ټول اوسیدونکي یو مومن په قـتـل کولو کې سره یو ځای شي نو الله تعالی به دا ټول په اور د جهنم کې به ورگزار کړي. ترمذي

تاسو فکر او سوچ وکړی چې مومن الله تعالی ته څومره زیات گران دی چې د یو مومن د وژلو په وجه د ټولو مخلوقاتو پروا نه کوي او ټول جهنم ته ورداخلوي او نن سبا د مسلمان وژل خلکو ته معمولي څیـز ښکاري. دې حدیث او ایت نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مومن ډېر لوي شان ښکاره شو چي مومن الله تعالی ته څومره ګران دی او د هغه وینه الله تعالی ته څومره ګرانه ده.

### *مسلمان ته کافراو یا کافر ته مسلمان ویل*

او هغه څوک چې مشرک کافر نه ګڼي او یا د هغوی په کفر کې شک کوي. یا د هغوی مذهب صحیح ګڼي او د دې برعکس مومنانو ته د کفر نسبت کول او له هغوی سره جنګ روا ګڼل هم د ایمان له کړۍ څخه وتل دي.

اصولي خبره دا ده چې کافر ته کافر نه ویل د الله تعالی او د هغه رسول (ص) ته د دروغو د نسبت کولو سره برابر دي او همداشان یو ریښتني مومن ته د کفر نسبت کول هم کفر دی. ځکه چې دې کې نفس د ایمان پیغور دی رسول الله (ص) فرمایي.( لایرم رجلاً بالفسق او بالکفر الا ارتد علیه ان لم یکن صاحبه کذالک)

ژباړه: څوک دې پر چا د فسق او کفر تور نه لګوي ځکه که دا تور ناسم وي. نو خپله پر تور لګوونکي راځرخي. خرجه بخاري

او دا هغه یو څو خبرې دي چې له دې امله انسان د الله تعالی له دین څخه وځي.

د مسلمان او مومن څه توپیر دی

الله تعالی فرمایي.( ولن یجعل الله للکفرین علی المومنین سبیلا ) سورت النساء ۴۱

ژباړه: الله تعالی د کافرانو لپاره پر مسلمانانو د برلاسه کیدو هیڅ کومه لاره نه ده جوړه کړې.

یو کافر یو مسلمان عالم ته ور نژدې شو او په غوږ یې ورته وویل ایا چې ستاسې په قران کې چې څه دي ټوله صحیح دي؟عالم ورته وویل هو ولې نه کافر وویل نو ولې کفار پرتاسو برلاسي دي. عالم ورته وویل. موږ مسلمانان یو مومنان نه یو.نو د مومن او مسلمان څه فرق دي؟ نن ورځ مسلمانان د اسلام ټول شعایر ترسره کوي لکه لمونځ زکات حج روژه او نور عبادات لیکن بیا هم په سختو ستونزو کې راګیر دي. لکه علمي اقتصادي فوځي (عسکري) او دې ته ورته نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزې دا ستونزې ولې شتون لري؟ په قرانکريم کې راځي.( قالت الاعـراب امنا قل لم تومنوا ولكـن قولوا اسلمنا ولما يدخل الايمان فی قلوبكم ) حجرات ۱۴

ژباړه: وويل د کلو خلکو چي موږ ايمان راوړ دوی ته ووايه. تاسې ايمان نه دی راوړې. بلکې داسې ووایاست چې موږ اطاعت کوونکي شووایمان لاتراوسه ستاسې په زړونو کې داخل شوی نه دی.

نو مسلمان ولې په سختو ستونزو کې دی؟ ځواب: قرانکريم دا خبره واضحه کړه چې مسلمانان دومره پرمختګ نه ده کړې چې د مومنانو درجې ته دې رسيدلي وي. لاندې جملې ووایاست که مسلمانان ريښـتـني مومنان وای. نو الله تعالی به يې نصرت کړی وای په دې دليل سره.( وکان حقا علينا نصرالمومـنـيـن) الروم ۴۷

ژباړه: او پرموږ دا حق وو چې د مومنانو سره مرسته وکړو. که مسلمانان ريښـتـني مومنان وای نو د نړۍ په امتونو او قومونو کې به يې ډير لوړ شان او شوکت لرلای په دې دليل سره.( ولا تهنوا ولاتحزنوا وانتم الاعلون ان کنتم مومنيـن) ال عمران ۱۳۹

ژباړه: بې زړه کيـږي مه انديښـمن کيـږئ مه همدا تاسې برلاسي ياست که تاسې مومنان اوسئ. که مسلمانان ريښـتني مومنان وای. نو د هيڅ دښمن سيطره (واک) به ور باندې غالب نه وای په دې دليل سره.( ولن يجعل الله للكفرين علی المومنيـن سيبلا ) النساء ۱۴۱

ژباړه: الله تعالی د کافرانو لپاره د بر لاسه کيدو هيڅ کومه لاره نه ده جوړه کړې. که مسلمانان ريښـتني مومنان وای نو الله تعالی به په داسې سپکونکي حالت نه پريښودل په دې دليل سره.( ماکان الله ليذر المومنيـن علی ما انتم عليه ) ال عمران ۱۷۹

ژباړه: الله تعالی به مومنان په دې حالت کې هيڅکله پرينـږدي چې تاسې اوس په کې ياست. که مسلمانان ريښـتني مومنان وای. نو هر ځای کې به د الله تعالی نصرت ورسره وای په دې دليل سره.[وان الله مع المومنيـن] الانفال ۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الله تعالی د مومنانو ملګری دی.لکن مسلمانان لا تر اوسه مسلمانان پاتي دي او د مومنانو درجې پورې نه دي رسيدلي الله تعالی فرمايي.( فانجينه والذين معه برحمة منا و قطعنا دابرالذين کذبوا وما کانوا مومنيـن) الاعراف ۷۲
ژباړه: په پای موږ په خپلې مهربانۍ سره هود(ع) او د هغه ملګري وژغـورل او د هغو خلکو سټه مو وايستله چې زموږ ايتونه يې دروغ ګڼلي ول او ايمان راوړونکي نه و.
نو مومنان څوک دي؟ له قرانکريم څخه به يې ځواب واورو.( التائبون العبدون الحمدون الساءئحون الرکعون السجدون الامرون باالمعروف والناهـون عـن المنکر والحفظون لحدودالله و بشرالمومنيـن) توبة ۱۱۲
ژباړه: د الله تعالی لوري ته بيا بيا رجوع کونکي د هغه بندګي په ځای راوړونکي د هغه ثنا او ستاينه ويونکي د هغه په خاطرپه ځکه کې ګرځيدونکي راګرځيدونکي د هغه په وړاندې رکوع او سجده کوونکي په نيکي حکم کوونکي له بدي نه منع کوونکي ( امرباالمعروف او نهی عن المنکر) کوونکي او د الله تعالی د حدود ساتونکي دي (هغه مومنان همداشان وي چې له الله تعالی سره د راکړې ورکړې دا معامله سرته رسوي) او ای پيغمـبره (ص) دغـو مومنانو ته زيرې ورکړه.
نو موږ ته دا خبره څرګنده شوه چې الله تعالی د نصرت غـلبې برلاس او د پرمختګ موضوع تر مومنانو پورې خاص کړې ده نه د مسلمانانو سره.

## د مسلمانانو عـزت او نيـکـمرغي په څه کې ده؟

رسول الله(ص) فرمايي: درې امرونه او کارونه دي که په هر مسلمان کې وي هغه د ايمان لذت او خوږوالی څښلی دی دا، چې الله تعالی او رسول الله(ص) تر ټولو شيانو څخه دوی ته محبوبتر وي .
الله تعالی داسې فرمايي : (والذين امنو اشد حباالله).
ژباړه : او هغه کسان چې پر الله تعالی ايمان لري د الله تعالی سره ډيره مينه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله(ص) فرمايي: الله تعالی د قيامت په ورځ داسې فرمايي : چېرې دي هغه کسان، چې زما د جلال په خاطر يو له بل سره مينه لرله تر څو هغوی په خپله ځېره کې ودروم، چې په هغه ورځ بې د الله تعالی ځيرې څخه بله ځيره نشته .

په بل حديث شريف کې فرمايي چې مسلمان د مسلمان ورور دی .

ايا تاسي له خپلو مسلمانو ورونو او خورگانو سره مينه لري له کفارو او مشرکينو سره دښمني لري، ځکه هغو ستاسې ورونه وژني او ستاسې خورگانې بې عزته کوي لکه څرنگه، چې الله تعالی فرمايي: (ولايزالون يقاتلونکم حتی يردوکم عن دينکم ان استطاعو ).

ژباړه : او تل له تاسو سره جنگېږي غواړي که يې وس ورسيږي تاسې له دين څخه جلا کړي.

څه شوي دي چې پرون مسلمانانو په ډير لږ قدرت سره نړی ته ماته ورکوله، خو اوس په داسې حال کې دي علت يې په څه کې دی؟ الله تعالی داسې فرمايي :(اتقوا الله واعلمو ان الله مع المتقين).

ژباړه : الله تعالی څخه ويره ولرئ او پوه شئ چې الله تعالی له نيکو خلکو سره مل دی.

رسول الله(ص) فرمايي :ډير ژر به پر تاسې نور امتونه غلبه وکړي لکه څنگه، چې د ډوډۍ صاحب پر ډوډۍ غلبه کوي. چا پوښتنه وکړله، چې ايا مونږ به په هغه زمانه او وخت کې لږ يو؟

رسول الله(ص) وفرمايل: تاسې ډير ياست خو داسې ياست لکه هغه لرگي، چې اوبه يې راوړي، چې ډير ضعيف او بې وسه ياست .

څنگه بايد مسلمانان په جهاد کې سستي وکړي دغه دستور د الله تعالی به يې نه وي اوريدلی .

هغه کسان چې د الله تعالی په لاره کې مړه کيږي تاسي هغه مړ مه بولئ هغوی ژوندي دي او د الله تعالی رزق خوري هغوی ډير خوشحاله دي پر هغه فضل او کرم، چې پر هغوی باندې کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کفر پیـژندنه او د هغه اړوند احکام

کوم خلک چې اسلام له سره نه مني هغوی ته اصلي کافر ویل کیـږي.

۱ـ کوم خلک چې د رسول الله (ص) راوړي دین له کومې خبرې څخه انکار وکړي او یا یې سپکه او ټوکه وګڼي هغه ته کافر ویل کیـږي.

۲ـ له دې کافرانو سره د اړتیا په وخت کې که د هغوی مخ او لاس پاک وي خوراک کول ورسره جایز دي.

۳ـ په کافرانو باندې سلام مه اچوئ خو که هغوی سلام واچوي نو په ځواب کې یې یوازې وعلیکم ووایـی.

۴ـ له کافرانو سره د اړتیا په وخت کې د اړتیا په اندازه لین دېن او معامله کول روا دي په دې شرط چې په معامله کې د کوم مسلمان ورور حق تر پښو لاندې نه شي او کوم زیان ورته متوجه نه وي او همدارنګه د اسلام او مسلمانانو حیـثـیـت کوم اغیـز پرې نه باسي.

۵ـ له کافرانو سره د زړه له تله ملګرتیا هیڅ جواز نه لري که نو کفر به لازمي شي. د یو مسلمان له نظره هیڅ شی له خپل دین نه ستر او درونډ کیدای نه شي که د کوم مسلمان په زړه کې یوه ذره هومره د الله تعالی ویره او ایماني غیرت شتون ولري له کافرانو او له کافر قـوم سره به یوه شیـبه هم موالات او دوستانه اړیکو ټیـنګول خوښ نه کړي. په دې ځای کې دا خبره باید په ذهن کې وساتل شي چې مروت ښه چلند مصالحت پیـرزوینه عدل او انصاف دا هر څه بیل بیل دي که مسلمان مصلحت وګڼي نو له هر کافر سره په مشروع طریقه سوله او تړون کولای شي پیـرزوینه او ځوانمردي او ښه چلند له هغو کفارو سره کیدای شي چې د اسلام او مسلمانانو په وړاندې د دښمـنـۍ اوکینې څرګندونه نه کوي، پاتې شول موالات یعنی دوستانه اړیکې اعتماد او ورورګلوي مرسته او ملاتړ هیڅ مسلمان دا حق نه لري چې دا ډول اړیکې د غیر مسلمو سره ټیـنګې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کفر

په الله تعالی او د هغه په رسول باندې ایمان نه لرل یا د هغوی له لارښوونو څخه انکار کول او نه منل کفر دی. که دغه نه ایمان راوړل یې د دروغ ګڼلو له امله وي او یا یوازې په هغه کې د شک، تردید، حسد، کبر، او یا ځینو نورو نفسي غوښتنو له امله وي ټول کفر دی.

***د کفر ډولونه***

کفر په ۲ دوه ډوله دی

۱ـ اکبر کفر (لوی کفر)

۲ـ اصغر کفر(کوچنی کفر)

***د اکبر کفر ډولونه***

اکبر کفر د ایمان ضد دی.اکبر کفر په ۵پنځه ډوله دی.

۱ـ د دروغ ګڼلو کفر

د الله تعالی انبیاوو ته د دروغجنی نسبت کول کفردی.په قرانکریم کې الله تعالی فرمایی.( ومن اظلم ممن افتری علی الله کذبا او کذب بالحق لما جاءه الیس فی جهنم مثوی للکفرین) عنکبوت ٦٨

ژباړه: له هغه چا نه به غټ ظالم څوک وي چې پر الله تعالی باندې دروغ وتړي یا حق ته د دروغ نسبت وکړي چې کله هغه ته راوړل کیږي. ایا د دغسې کافرانو استوګنځی دوزخ نه دی؟

۲ـ د انکار او ځان لوړ ګڼلو کفر

دا په دې ډول چې د رسول په ریښتونولۍ پوهیږي او په دې باندې یې یقین وي چې دغه رسول د الله تعالی له لوري په حقه راغلی دی. خوبیا هم د عناد او تکبر له امله د هغه اوامرو ته غاړه نه ږدي. الله تعالی په قرانکریم کې فرمایي.( واذ قلنا للملئکة اسجدوا لادم فسجدوا الا ابلیس ابی واستکبر و کان من الکفرین) بقره ۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او کله چې موږ پرښتو ته امر وکړ چې د ادم په وړاندې سرونه په سجده ښکته کړئ. نو ټول سرونه ښکته کړل. خو ابلیس انکار وکړ هغه د خپلې لویي په غـرور کې اخته و او د کافرانو له ډلې څخه شو.

۳ـ شک او رسول په صدق د یقـین نه کولو کفر

دې کفر ته د ظن او ګومان کفر هم ویل کیـږي. الله تعالی په قرانکریم کې فرمايي.( و دخل جنته و هو ظالم لنفسه قال ما اظن ان تبید هذه ابداُ ُ و ما اظن الساعة قایمة ولان رددت الی ربی لاجدن خیرامنها منقلباًَ قال له صاحبه وهو یحاوره اکفرت بالذی خلقک من تراب ثم من نطفة ثم سوئک رجلاَ لکنا هوالله ربی ولا اشرک بربي احدا) الکهف ۳۵ـ۳۸

ژباړه: بیا هغه خپل باغ ته ننوت او د خپل نفس په حق کې تیری کوونکی شو. ویې ویل زه دا نه ګنم چې دغه شتمني او باغ یو وخت پناه شي او زما باور نشته چې د قیامت ساعت به راشي بیاهم که کله د خپل رب حضور ته زما ورګرځیدل شول نو هرومرو له دې نه هم زیات شاندار ځای ومومم د هغه ګاونډي په خبرو اترو کې هغه ته وویل: ایا ته په هغه ذات کافر کیـږې چې هغه ته له خاورې او بیا له نطفې څخه پیدا کړې او ته یې یو بشـپـړ سړی جوړ کړې؟ پاتې شوم زه، نو زما رب خو همغه الله تعالی دی او زه د خپل رب سره هیڅوک نه شریکوم.

۴ـ د اعراض او مخ اړولو کفر

له دې څخه مراد دا دی چې له دین څخه مخ واړوي یعنی نه نبوي لارښوونې اوري نه په زړه کې څه التفات ورته کوي او نه ځان ورباندې پوهـوي. الله تعالی فرمايي.( والذین کفروا عما انذروا معرضون) الاحقاف ۳

ژباړه: خو دغه کافران له هغه حـقـیـقـت څخه مخ اړونکي دي چې دوی ته د هغه اخطار ورکړ شوی دی.

۵ـ د نفاق کفر

له نفاق څخه دلته مراد نفاق په عـقیده کې دی. په دې ډول چې په ظاهر کې خلکو ته ایمان ښکاره کوي او په باطن کې یې عـقیـده د کفر وي. الله تعالی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرانکریم کې فرمايي.( ذلک بانهم امنوا ثم کفروا فطبع على قلوبهم فهم لا يفـقـهـون) منافـقـون ۳

ژباړه: دا هرڅه له دې امله دي چې دوی ایمان راوړ بیا کافر شول له دې امله د دوی پر زړونو مهر ولګول شو اوس دوی په هیڅ نه پوهیـږي.

***اصغـر کفر***

د هغه ګناهونه دي چې شارع د زجر او تهدید له امله ورته د کفر نسبت کړی دی. خو د اکبر کفر (لویی کفر) حد ته نه دی رسیدلی او له اصل ایمان سره ضد او منافې نه دی. خو ایمان ضعیفـوي. که چیرې د دې ګناهونو خاوند توبه ونه باسي نو د الله تعالی په مشیت کې دی که خوښه یې شوه عذاب ورکوي خو د ابد لپاره په دوزخ کې نه پاتې کیـږي او که خوښه یې شوه عـفـوه ورته کوي.

د دې ډول کفر خاوند ته نه د کافر نسبت کیـږي او نه له اسلام څخه وځي خو شارع یوازې د زجر او تهدید په اساس ورته د کفر نسبت کړی دی.

***د اصغر کفر ډولونه***

د اصغر (کوچنی کفر) ډولونه ډیر زیات دي خو په لنډ ډول ویلای شو.

هر هغه ګناه چې په شرعي نصوصو کې ورته د کفر نسبت شوی وي او د اکبر کفر (لویی کفر) او اکبر شرک حد ته نه وي رسیدلې او اصغر کفر (کوچنی کفر) ورته ویل کیـږي.

***یو څو مثاله د اصغـر کفر***

په یو حدیث شریف کې رسول الله (ص) فرمایلي دي.( سباب المسلم فسوق وقـتـاله کفر) ژباړه: مسلمان ته کنځل کول ګناه او وژل یې کفر دی. مسلم

په یو بل حدیث شریف کې رسول الله (ص) فرمایلي دي.( اثـنـتـان فی الناس هما بهم کـفـر الطعـن فی النسب والنیاحة علی المیت)

ژباړه: په خلکو کې دوه عادتونه شته چې هغه کفر دی. یو نسب ته طمن (نسب بدلول) او بل پر مړي باندې په چـیـغـو ژړا کول. مسلم

بل حدیث شریف ده.( لا تر جعوا بعـدی کفارا یضرب بعـضکم رقاب بعـض)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له ما څخه وروسته تاسو مه کافر کیږي چې ځینې له تاسو څخه د ځینو نورو غاړې وهي. مسلم

## په خبرو اترو کې کفري توري

له بده مرغه د ناپوهي له کبله ځینې ورونه او خویندې داسې توري کاروي چې د هغه په کارولو سره شخص کافر کیږي او نکاح یې باطلیږي خو هغه بیچاره خبر هم نه وي چې ورڅخه کفر صادر شوی دی او یا یې نکاح باطلـه شوې ده نو دلته د ځینې کفري توري یادونه کوو ترڅو ورباندې پوه شو او هڅه وشي چې په ژبه ونه ویل شي احیاناً که له چا څخه وکارول شوه سمدستي دې کلمه ووایي که واده شوي وي خپله نکاح تازه کړئ.

۱ـ چا ته که وویل شي دا گناه مه کوه، الله تعالی به دې جهنم کې واچوي. هغه په ځواب کې ورته ووایي چې زه یې له عذابه نه ویریـږم د دوهم کس توری کفري ده. فتاوی عالمگیریه

۲ـ که چا ته وویل انشاء الله دا کار به دې وشي هغه ووایي زه یې بې انشاءالله کوم.

۳ـ یو غـریب کس مالدار شخص ووینې نو ووایي چې یا الله دا نو انصاف دی چې دا کس دومره مالدار او زه غـریب یم. فتاوی عالمگیریه

۴ـ کله چې د چا زوی یا لور وفات شي او هغه ووایي بس خدایه ستا دا زما زوی باندې وس رسید یا ووایي بس خدایه تا یوازې زما زوی لیدلی و. اعیاذباا لله.

۵ـ د رسول الله (ص) په سنتو باندې ټوکې کول یا رشخند وهل. لکه ږیره.

٦ـ کله چې یو کس قاتل او خوني ووینې نو ووایي ملک الموت راغـی.

۷ـ د قرانکریم د ایتونو معنی په ټوکو اړول لکه « ان صلاة تنهی » یو څوک یې په ټوکو ووایي نعوذ بالله د دې معنی ده چې لمونځ په تنهایي سره وکړه.

۸ـ پر مسلماني باندې د خپگان احساس کول مثلاً یو څوک ووایي چې فلانی مسلمان ده خود به رشوت خوري یا مسلمان یم ځکه غـریب او مسکین یم.

۹ـ داسې خبره کول چې قرانکریم او انجیل یو شی دي پر هر یو چې عمل کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰ـ د کفارو خوشحالولو لپاره د هغوی په مذهبي میلو او اخترونو کې ګډون کول. بهار شریعت

۱۱ـ یو څوک ووایي چې زه په شریعت فیصله نه کوم راځه په جرګه کې سره معلوم کړو یو څوک ورته اسلامي حکم بیان کړي دی ورته ووایي نعوذ بالله. دا هواي خبره ده.

۱۲ـ دشراب څښلو زنا کولو یا دقمار وهلو په وخت کې بسم الله الرحمن الرحیم ویل.فیضان سنت

۱۳ـ مسلمان ته کافر ویل یا کافر ته مسلمان ویل.

۱۴ـ د الله تعالی لخوا حرام شی ته هلال او هلال شی ته حرام ویل.

۱۵ـ د مومن بهي شیانو څخه انکار کول لکه دوزخ، جنت، ملایکې، کتابونه، پیغمبران (ع)

۱٦ـ یو چا ته د غصې او درد په وخت کې ویل چې نعوذبالله. که د خدای زوی هم شې ولاکه دې پریږدم.

د کافر سره مینه او محبت جایز نه دی

په اسلام کې له الله تعالی سره مینه او د هغه د رسول (ص) سره د مسلمان مینه له واجباتو څخه ده ځکه چې الله تعالی او د هغه رسول (ص) سره مینه د دین اساس بلل کیږي.

الله تعالی په قرانکریم کې فرمايي .( والذین امنوا اشد حبالله ) بقره ١٦٥

ژباړه: هغه کسان چې (پرالله تعالی) ایمان لري د دوی مینه د الله تعالی سره ډیر زیاته ده.

او د رسول الله (ص) سره د مینه کولو په اړه په قرانکریم کې فرمايی.( قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله ) عمران ۳۱

ژباړه: ووایه (ای محمده) که چیرې تاسې له الله سره مینه لرئ نو زما پیروي وکړئ چې الله تعالی له تاسې سره مینه وکړي.

همدارنګه رسول الله (ص) فرمايي.( لایومن احدکم حتی اکون احب الیه من والده ووءالده والناس اجمعین ) المسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ستاسې نه څوک تر هغه پورې د کامل ایمان څښتـن نه شي کیدای څو پورې زه ورته له خپل پلار، اولاد، او ټولو خلکو نه محبوب نشم.

او همدارنگه مسلمان به د الله تعالی د رضا په خاطر له صالحو مومنانو سره محبت ساتي او د هغه ملگرتیا به کوي. الله تعالی په قرانکریم کې فرمايي.( یایها الذین امنوا اتـقـوا الله وکونوا مع الصادقـیـن) توبة ۱۱۹

ژباړه: ای مومنان له الله تعالی څخه وویریـږئ او له صالحانو سره ملگري شئ.

مسلمان به د الله تعالی له دښمنانو سره مینه او محبت به نه کوي ځکه چې د هغوی باطل عـقاید نامشروع کړنې به یې د گمراهی طرف ته مایل کړي. او مسلمان به د الله تعالی د دښمنانو سره د هغه د رضا په خاطر بغض کوي او له هغوی څخه بیزاري اعلانوي ځکه چې دا طریقه د رسولانو (ع) او د هغه د پیـروانو وه.

الله تعالی په قرانکریم کې فرمايي.( قد کانت لکم اسوة حسنة فی ابراهیم والذین معه اذ قالوا لقومهم انا براءوا منکم و مما تعبدون من دون الله کفرنا بکم وبدا بیننا و بینکم العداوة والبغضاء ابدا حتی تومنوا بالله وحده ) ممتحـنـة ۴

ژباړه: یقیناً چې تاسې لره د ابراهیم او د هغو کسانو په چال او چلند کې چې له هغه سره وو ښه نمونه (او طریقه) ده چې کله دوی خپل قـوم ته وویل: بې شکه مونږ له تاسي او له هغه څه نه چې تاسې پرته له الله تعالی څخه عبادت کوي بیـزاره یو مونږ تاسې څخه منکران شوي یو او زمونږ او ستاسې تر منځ تل تر تـله دښمـني رامنځ ته شوې ده څو پر واحد (یو) الله ایمان راوړی.

او فرمايي.( لا تجد قـوما یومنون بالله والیوم الاخر یوا دون من حاد الله و رسوله ولوکانوا اباء هم او ابناء هم او اخوانهم او عـشـیرتهم اولئک کتب فی قلوبهم الایمان و ایدهم بروح منه) مجادله ۲۲

ژباړه: هیڅکله به دا ونه مومی، کوم خلک چې پر الله او اخرت ایمان لرونکي دي چې هغوی له هغو خلکو سره مینه کوونکي اوسي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت یې کړی دی که څه هم د هغوی پلرونه وي او یا یې زامن وي او یا یې ورونه وي او یا یې ټبر او کورنی وي. دا هغه کسان دي چې الله تعالی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی په زړونو کې ایمان خوندي کړی دی او له خپل لوري د یو روح په ورکولو سره یې دوی پیاوړي کړي دي.
او همدارنګه د قرانکریم د ال ممتحنه په سورت کې فرمايي.( یایها الذین امنوا لا تـتخذوا عـدوی و عـدوکم اولیاء تلـقـون الیهم بالمودة و قد کـفـروا بما جاءکم من الحق) ممـتـحــنـة ۱
ژباړه: ای مومنانو! زما دښمـنان او خپل دښمـنان په دوستۍ مه نیسئ (په داسې توګه) چې دوی ته د دوستۍ پیغام ولیـږئ. حال دا چې هغوی د هغه څه نه چې تاسې ته له حق (دین) څخه راغلي دي منکران دي.
د پورته لارښوونو په رڼا کې مسلمان ته جایز نه ده چې د الله تعالی له دښمـنانو سره مینه او ملګرتیا ولري. مګر له کفارو سره په دې خاطر نرمي کول چې زړه یې د اسلام طرف ته مایل شي باک نه لري. همدارنګه د غیر مسلمو سره په مباح معاملاتو کې عـدل وفا او رښـتـیـنـولي پکار ده.

## د مرتد پیـژندنه او د هغه اړوند احکام

مرتد هغه سړي یا ښځې ته وايي چې د اسلام له دین نه وګرځي یعنی د ایمان او اسلام له ځلانده دایرې نه ووځي د کفر او شرک تـپـو تیارو ته ننوځي.
د ایمان له راوړو وروسته په ژبه د کفر کلمه ویل د مرتد کیدو رکن دی او د مرتد کیدو حکم د صحت لپاره د عـقـل شتون شرط دی همداراز د مرتد د حکم نفاذ لپاره خوښه او رغـبت هم شرط دی ځکه په هغه چا د مرتد حکم نه شي نافـذ یدلای چې په مرتد کیدو اړ ایستل شوی وي د مرتد حکم دا دی چې هغه ته درې ورځې وخت ورکړل شي او که هغه د اسلام په اړه د کوم شک او شبهې او اندیښـنې ښکاره شوې وي د هغه د دغه شک او اندیښـنې د رفع کولو هڅه وشي که چیرې په دې درې ورځو کې توبه وباسي او بیـرته اسلام ته راوګرځي نو د هغه دغه توبه دې ومنل شي او هغه دی خوشې کړای شي خو که توبه نه کړي نو له اسلام څخه د بغاوت په ګناه دې ووژل شي ځکه چې اسلام د ارتداد سزا وژل ټاکلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شریعت کې د مرتد جنازه کول روا نه ده او له هغه سره ناسته ولاړه هم جایز نه ده همداراز له کافرانو سره ډوډۍ خوړل که په خوړو کې د حرامو شک شتون ونه لري ډوډۍ خوړل روا ده خو له مرتد سره په هیڅ ډول ډوډۍ خوړل جایز نه دي او د مرتد کورته تګ هم روا نه ده.

## د کفر او ارتداد نه د توبه کولو طریقه

که کوم کافر یا مرتد و غـواړي چې له خپل کفر او ارتداد نه توبه تایب شي نو لازمه ده چې له خپلې پخوانۍ عـقـیـدې نه د بیـزارۍ اعلان وکړي د اسلام پراخه او نړۍ شموله رحمت دروازې د هغه لپاره تړلې نه دي هغه د سپیڅلي او ښکاره توبې په ایستلو سره اسلام ته داخلیدای شي لکه څنګه چې په لومړي سر کې ویل شوي دي کوم شخص چې مرتد شي هغه ته دې د اسلام بلنه ورکړل شي که هغه ته د اسلام په اړه کوم شک شبهه پیدا شوې وي هغه دې رفع کړای شي او چې کله هغه بیا د اسلام دایرې ته راتلل وغـواړي نو د شهادت کلمه دې ووایي او له اسلام نه پرته له نورو ټولو ادیانو څخه د بیـزاره کیدو اعلان دې وکړي او که یوازې له هماغه دین څخه چې له هغې نه دې اسلام ته راغـې د بیـزارۍ اعلان وکړي نو هم بسنه کوي او همداراز که هغه متاهل یعنی واده کړی شوی وي نو نکاح یې باید بیا تازه شي.

## د زندیق پیـژندنه او د هغه اړوند احکام

کوم خلک چې دعـوه د اسلام کوي او عـقاید یې د کفر وي او د قرانکریم او حدیثو په نصوصو کې تحریف کوي او د خپلو کفري عـقایدو سره د نصوصو د برابرولو او سم ګرځولو هڅه کوي،هغوی ته زندیـق وایي.

د مثال په ډول د ختم نبوت عـقیده د اسلام ټیـنـګه قطعي عـقیده ده. په دې بنسټ کوم خلک چې د اسلام د دعـوې سره سره د کوم دروغجن مدعي نبوت مني او د قرانکریم او حدیثو نصوص په هغه دروغجن نبي پورې تړي. دغه ډول خلکو ته زندیـق ویل کیـږي. یا مثلاً د اسلام د دعـوې باوجود دا عـقیده او فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. چې موجود قرانکریم صحیح او ریښتـنی نه دی. دا خو (نعوذبالله من ذالک) شرابیانو او زنا کارانو لیکلی کتاب دی.

داسې خلک هم زندیـقیان دي. په همدې د دین نورې غـوښتـنې قیاسیدای شي زندیـق هم لکه مرتد په شان واجب الـقـتـل دی خو دا چې که توبه وکړي له قـتـل بخښل کیـږي او که نه؟

د حنفیه و په مذهب کې که زندیـق له نیول کیدو نه مخکې پخپله توبه اوباسي نو د هغه توبه به ومنل شي او که د قـتـل له سزا نه به وبخښل شي. خو له نیول کیدو نه وروسته د هغه توبه د اعتبار وړ نه ده. له دې نه دا څرگندیـږي چې زندیـق له مرتد نه ډیر بد او ناوړه ده له مرتد او زندیـق سره په هیڅ ډول نکاح جواز نه لري بلکې له واده نه وروسته که ښکاره شوه چې هغه شخص زندیـق یا مرتد و نکاح یې نه صحیح کیـږي. لومړی دې هغه ته د اسلام بلنه ورکړل شي که هغه په حـقـیـقي معنی سره اسلام قبول کړي او مسلمان شي نو صحیح ده، دهغه نکاح دې په دوهم ځل وتړل شي که داسې نه وي نو پرته له طلاق او بل څه نه دې د هغوی ترمنځ بیلتون راوستل شي.

## د منافـق پیـژندنه

هغه کس چې په ژبه یې ایمان وي او په زړه کې یې ایمان نه وي دا کس منافـق دی.خو رسول الله (ص) چې کومې نښې ښودلي دي هغه دې عمل سره اړیکه لري او که دا ۴څلور صفتونه په چا کې وموندل شي هغه پوخ منافـق دی.

۱ـ په خبرو کې دروغ ویل.

۲ـ په امانت کې خیانت کول.

۳ـ د جنجال پر مهال کنځا کول.

۴ـ د ژمنې نه تر سره کول.

رسول الله (ص) فرمایلي دي دا ۴ څلور صفات که په چا کې ولیدل شي نو دا کس پوخ منافـق دی نو پام وکړئ چې د تصدیق بالقلب (په زړه د تصدیق) په خیر کوم شي په دې ۴ څلورو نښو کې شتون لري او داسې کس که څومره په زوره زوره د لااله الا الله ذکر کوي خو منافـق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منافقت څنګه په انسان کې راځي

منافقت یو هلاکوونکي ناروغې ده. که په چا کې راغله نو د هغه بربادي او تباهي کې بیا څه شک نشته. دا چې ولې په منافقانو او د کمزوري ایمان ولا خلکو کې منافقت راځي د دې څه لاملونه دي که څوک ځان له هغو وساتي نو انشاءالله له منافقت څخه به خوندي شي هغه دا دي.

۱ـ ایمان په بلیدلو کې د اور په څیر دی لکه څنګه! اور بوټو ګاز تیلو او داسې نور توکو ته اړتیا لري چې اور ورباندې بلیږي. که د اور هغه توکي تیار نه شي نو هغه اور مړ کیږي رڼا یې ختمیږي او هیڅوک ترې ګټه نه شي اخیستلای. د ایمان مثال همداسې دی. علم او عمل صالح ته اړتیا لري که یې څوک دغسې پریږدي د مادې په چمتو کولو کې هلې ځلې نه کوي نو رڼا به یې ختمه او ځای به یې منافقت ونیسي. دې مثال ته قرانکریم هم اشاره کړې ده الله تعالی فرمایي.( مثلهم کمثل الذی استوقد نارا فلما اضاءت ما حوله ذهب الله بنورهم و ترکهم فی ظلمت لایبصرون) بقره ۱۷

ژباړه: د دې منافقانو مثال د هغه چا په څیر دی چې اور یې بل کړ کله چې اور خپل چاپیریال روښانه کړ الله تعالی د دوی اور ختم کړ او دوی یې په داسې تیارو کې پریښودل چې لاره یې هم نشو لیدلی منافقانو په لومړي سر کې ایمان په ښکاره راوړ خو بیا یې د هغه ایمان صحیح مراعت ونه کړ چې په ترڅ کې یې رڼا ختمه او سوځیدل یې پاتې شول. نو د ایمان د خاوند لپاره ضروري ده. که غواړي چې ایمان څراغ یې بل اوسي د علم نافع او نیک عمل کوښښ باید وکړي. که څوک دې ته فکر نه کوي نو ایمان یې نه شي ورسره پاتې کیدلی.

۲ـ د ایمان مثال د یوې شنې ونې په څیر دی چې هغه میوه ګلان بیخ شاخونه او خوندور بوي لري. د دې ونې اصل بیخ صفا ساتل له هغه واښو یې خوندي ساتل چې ونې ته زیان رسوي د دې ونې هر وخت اوبه کول او له غلو څخه یې ساتل کارونه به یې مالک کوي بیا به له خپلې ونې څخه ګټه اخلي. ایمان هم دا غواړي چې د وحی په اوبو سره به یې خړوبه کوي له شبهاتو بدعاتو او ګناهونو څخه به یې په توبه نصوح سره څارنه کوي. او له افراط او تفریط څخه به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهزبه کوي. بیا به ایمان هم له انسان سره پاتې شي او هم په اخرت کې ګټه ورکړي که داسې نه وي. نو بیا د دې ونې وچیدل او کمزوري کیدل د وښو تر وچیدو او کمزوري کیدو ډیر ژر او یقـیـني دی. د دې کار لپاره د الله تعالی (د ذات او صفاتو) پیـژندل ډیر ضروري او اړین دي.

۳ـ مومن به تل د الله تعالی په ذکر کې مشغـول اوسي. په هیڅ حالت کې به له الله تعالی څخه نه غـافله کیـږي. که يې زړه بیدار وي او کنه چې کله دی تل د الله تعالی د احکامو په عملي کولو اخته وي. نو په داسې حال کې نفاق د ده زړه ته لاره نه شي پیدا کولی. د دې برخلاف منافـق داسې وي چې کله که لږ رڼا ورته پیدا شي نو عمل کوي که نه وي نو پروا نه لري نو په دې وخت کې د ده زړه ته نفاق لاره پـیـدا کوي او په داسې ډول ورننوځي چې ده ته احساس نه کیـږي ان تر دې چې منافـقت يې په زړه کې محکم او کلک شي هغه به يې اثار او نښانې څرګندي شي چې نه یوازې د ده عمل او د الله تعالی یادول دوام ونه لري بلکې کله چې خلک په یو ځای شتون ولري دې هم عبادت کوي او که خلک نه وي بیا غـافل وي د دې په نتیجه کې چې له الله تعالی څخه حیاء او شرم نه لري عبادت د مخلوق په وجه کوي په زړه کې يې د سزا په ډول منافـقت ننوځي .

## د شرک پیـژندنه او د هغې احکام

شرک معنی د الله تعالی په الوهیت یا د هغه په ځانګړو صفاتو کې د بل چا شریکول او برخه وال ګرځول ده او دا ګناه ( له توبې پرته) د بخښنې وړ نه ده. مسلمان امت ته پکار ده چې له شرک څخه ډیر لرې واوسي ځکه په قرانکریم کې مسلمانانو ته له دې ناوړه عـقـیدې نه د خوندي ساتنې او ځان ژغـورنې په کلکه ټـنـګار شوی دی په دې هکله د قرانکریم د څو مبارکو ایتونو ژباړه او لنډیز مشاهده کوو.

که تاسو شرک وکړ نو ستاسې ( ټول نیک) اعمال به ضایع شي. زمره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیشکه چا چې له الله تعالی سره شرک وکړ الله تعالی په هغه جنت حرام کړه او د هغه د اوسیدو ځای جهنم ده او د داسې بې انصافو مرسته کوونکې به هیڅوک نه وي.مایده

بیشکه الله تعالی هغه گناه نه بخښي چې له هغه سره شرک وشي او تر دې د کمې کچې گناه چاته یې چې خوښه شي بخښي او چاچې له الله سره شرک وکړ بیشکه هغه بې لارې شو په ډیرې سترې گمراهۍ سره. نساء

شرک د غندنې له یادښت نه وروسته ښه بریښي چې د ځینو محدثینو لار ښوونې هم لوستونکو ته ډالی کړو. حضرت شاه عبدالقادر صیب دهلوی (رح) محدث د ( ولا تنکحوا المشرکت حتی یومن) سورة البقره ایت ۲۲۱ دوه سوه یو ویشت تر ایت لاندې لیکي چې پخوا د کافر او مسلمان تر منځ خپلوي کیدله په دې ایت سره حرامه و گرځول شوه. که میړه یا میرمن شرک وکړ نو د هغوی نکاح ماته شوه. شرک دې ته وایي چې یو څوک د الله تعالی صفت بل چاته ورکړي. مثلاً څوک داسې وگڼي چې بل څوک هغه په هر څه خبر دی یا هغه چې هر څه وغواړي کولای یې شي یا زمونږ خیر او شر د هغه په واک کې دی او دا چې د بل چا د الله تعالی هومره تعظیم وکړي مثلاً ټنډه پر ځمکه کیږدي او له هغه نه حاجت و غواړي مختار یې وگڼي. موصح القران

حکیم الامت حضرت شاه ولي الله دهلوی (رح) محدث د عرب مشرکانو د شرکي عقایدو او نظریاتو یادونه کوي او لیکي ژباړه:د شرک په ډولونو کې یو دا هم دی چې هغو مشرکانو به ناروغ د رغیدو او د غریب د بډای کیدو او د داسې نورو حاجتونو لپاره له غیر الله نه د مرستې طلب کاوه او د هغوی په نوم به یې نذرونه ورکول تر څو د دې نذرونه په وړاندې کولو سره پخپلو مقاصدو کې بریالیتوب ترلاسه کړي او د برکت لپاره به یې د هغوی نومونه یادول نو الله تعالی په هغوی لازمه وگرځوله چې په لمانځه کې دا ولولي ( ایاک نعبد و ایاک نستعین)

ژباړه: خاص ستا عبادت کوو او خاص تا نه مرسته غواړو.

همداراز الله تعالی و فرمایل.( فلا تدعوا مع الله احدا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: تاسې له الله تعالی سره بل څوک مه رابلئ.

له یاد شویو حوالو څخه دا جوتیږي. چې مخلوق مختار کل ګڼل لیدونکی او خبر دار شمیرل په ناسته او ولاړه کې په غایبانه ډول هغه رابلل او د غیر الله په نوم نذر ورکول دا ټول شرک دی دا هماغه خچنه عقیده ده چې په دې عقیده د اخته کیدو په وجه یهود نصارا او د مکې مشرکین د الله تعالی د لعنت او غضب وړ ګرځیدلي وو.

## د شرک حقیقت

له الله تعالی پرته له بل چا څخه غوښتنې ته شرک وايي رسول الله (ص) فرمايي. چې زما په امت کې به شرک په دې ډول راننوځي لکه د شپې په تیاره کې چې میږی تیاره کوټې ته را ننوځي او د شپې په تیاره کې تیاره کوټې ته د میږی را ننوتل چا ته نه ښکاري.

نو رسول الله (ص) فرمايي: چې شرک هم زما امت ته داسې را ننوځې یعنی خلک به د شرکي اعمالو کول توحید ګڼي او کوي به یې.

په قرانکریم کې راغلي چې الله تعالی به د قیامت په ورځ ځینې خلک رټي او پوښتی به یې چې تاسې ته ما ویلی و.( ان الله لا یغفران یشرک به و یغفر ما دون ذلک لمن یشاء ومن یشرک بالله فقد افتری اثما عطیما )

ژباړه: الله تعالی یوازې د شرک ګناه نه بخښي او له شرک پرته ټول ګناهونه بخښي (که وغواړي) او بیا هم تاسې شرک کاوه او تاسې که ژوند تیر کړی نو د یو مشرک ژوند مو تیر کړی. نو مشرکین به ځواب ورکړي.

( ثم لم تکن فتنتهم الا ان قالوا والله ربنا ماکنا مشرکین)

نو بیا به داسې وشي چې د دوی په عقل کې به یوازې دا خبره راځي او د الله تعالی په وړاندې به عرض کوي چې زمونږ پالونکیه!

موږ په تا سره قسم کوو چې موږ مشرکین نه و موږ د مشرکانو ژوند نه دی تیر کړی بلکې موږ خو د مواحدینو په بڼه ژوند تیر کړی یوازې د یو الله عبادت مو کړی افسوس چې دې ایت ته مو هیڅ پاملرنه نه ده کړی. او الله تعالی به د قهر او غصې په حالت کې به پوښتنه کوي چې تاسې ولې د مشرکینو ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیر کړی؟ او بل لوري ته هغوی ځواب ورکوي ستا په نامه مو قسم دی چې موږ مشرکین نه و او موږ د مشرکینو په څېر ژوند نه دی کړی ( نعوذبا الله) په دې وخت کې څوک د دروغو همت به وشي کولای چې د الله تعالی په وړاندې دروغ ووايي او بیا د الله تعالی په نامه دروغجنه لوړه وکړي او دا پوښتنه خو له سره نه راولاړیږي پرته له دې چې دوی ټول ژوند په شرک کې تیر کړی او خپل شرک یې توحید ګڼلي و او په پوره نیک نیتۍ سره یې شک کاوه او د دوی ملا ورته ویل چې همدا توحید دی او د دې ګنجایش شته نو همدا لامل دی چې د الله تعالی پر وړاندې به جراءت کوي قسمونه به کوي او وایي به چې موږ مشرکین نه و او همدا خبره پیغمبر (ص) کړې ده چې زما امت کې شرک راځي او دوی به پرې نه پوهیږي لکه څنګه چې په تروږمۍ کې تیاره کوټې ته د میږی په راننوتو کې څوک نه پوهیږی او لیدل یې ستونزمن کار وي.
نو ښکاره شوه چې موږ ته په دې اړه له احتیاط څخه کار اخیستل پکار دي.
ځکه هسې نه چې د شرک په ګناه اخته یو او هیڅ غور مو پرې نه وي کړی دلته یو شعوري عمل بنسټ قرانکریم ده یو شرک دا دی چې له یو شي سره دومره مینه کول چې د الله تعالی محبت د هغې په پرتله پاتې راشي نو تاسې شرک وکړ په قرانکریم کې راغلي دي.( ومن الناس من یتخذ من دون الله اندادا یحبونهم کحب الله والذین امنوا اشد حباالله ولویری الذین ظلموا اذ یرون العذاب ان القوة لله جمیعا و ان الله شدید العذاب)
ژباړه: او په خلکو کې ځینې داسې وي چې له الله تعالی سره نور څوک شریکوي او غیرو سره داسې مینه کوي لکه له الله تعالی سره چې پکار ده. او هغه څوک چې ایمان یې راوړی دی له الله تعالی سره په مینه کې سخت ترین دی.

## د شرک یو څو ډولونه

### ***۱ـ اصغر شرک***

اضغر شرک هغه ګناه ده چې الله تعالی په قرانکریم او یا رسول الله (ص) په خپلو مبارک احادیثو کې د زجر او تهدید له امله د شرک په نامه سره یاد کړی دی. خو هغه شرک نه دی چې د اسلام څخه د وتلو لامل وګرځي او یوازې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګناهونو ته د شرک نسبت کولای شو چې شارع په شرک سره نومولي وي چې په دوه ډوله دی.

### ۱ـ ښکاره شرک

دا شرک په الفاظو او افعالو کې منځ ته راځي.

الفاظ: لکه له الله تعالی پرته په بل شی قسم خوړل رسول الله (ص) فرمايي.( من حلف بغير الله فقد كفروا شرك)

ژباړه: هغه څوک چې له الله تعالی پرته په بل شی قسم وخوري يقيناً کافر او مشرک شو.

افعال: د ځينو نارغيو د درملنې لپاره له هغو شيانو څخه ګټه اخيستل چې الله تعالی هغه د دفعه کولو اسباب نه وي معرفي کړي. رسول الله (ص) فرمايلي دي.( من علق تميمة فقد اشرک)

ژباړه: هر څوک ( پڅپله يا دماشومانو او يا د حيوان په غاړه کې) يو څه شی ځوړند کړي يقيناً چې ده د شرک کار تر سره کړ.

### ۲خفي شرک

په نيتونو او ارادو کې شرک ته خفي شرک ويل کيږي. لکه رياء. رياء دې ته ويل کيږي چې يو څوک نيک کار د دې لپاره تر سره کوي چې خلک يې ووينې او بيا ووايي چې فلانی ډير ښه سړی دی او د ده صفت وکړي.

الله تعالی په دې اړه فرمايلي دي.( فمن كان يرجو لقاء ربه فليعمل عملاً صالحاً ولايشرک بعبادة ربه احداً)

ژباړه: نو يو څوک چې دخپل خالق سره د يو ځای کيدو په هيله وي هغه ته پکار دی چې ښه عمل وکړي او په بنده ګی کې له خپل رب سره يو بل څوک شريک نه کړي.

رسول الله (ص) فرمايلي دي.( ان اخوف ما اخاف عليکم الشرک الاصغر. قالوا يا رسول الله (ص). وما اشرک الاصغر؟ قال رياء)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: یقیناً چې زه په تاسو باندې له ټولو شیانو څخه زیات له اصغر شرک څخه ویریږم. صحابه وو پوښتـنه وکړه ای د الله تعالی رسوله. اصغر شرک څه شی دی. رسول الله (ص) و فرمایل ریاء.

### ۳ـ شرک فی الذات

د الله تعالی په ذات کې څوک شریکول د مثال په ډول په ۲ دوه یا ۳ درې معبودان منل « بیشکه شرک کول ډیر ظلم دی» لقمان

د ظلم حـقـیـقـت علماو دا بیان کړی چې د کوم څیز بې ځایه وکارول شي او دا خبره په شرک کې تر هر څه په ډاګه ده چې د پیـدا کوونکي د بتانو او یا د هغه د مخلوق عـبادت وشي او یا د هغه له ذات سره شریک او برخه وال وګڼل شي لکه چې عـیسایان حضرت عـیسی (ع) او یهودان حضرت عـزیر(ع) له الله تعالی سره شریک بولي.

### ۴ـ شرک فی الصفات

د الله تعالی په صفاتو کې څوک شریکول د دې ډولونه ډیر دي چې ډیر څرګند په کې دا دي.

### ۵ـ شرک فی العلم

یعنی د کوم بل چا لپاره د الله تعالی په څیر د علم صفات ثابتول لکه د پیغـمبر، بزرګ، یا پیـر په باب دا عـقیده لرل چې زموږ په ټول حال هغه هر وخت خبر دی او پرې پوهیـږي. له نجومي بزرګ یا بل څخه د غـیـبو خبرو معلومات کول فال کـتـل او په هغې باور کول یا کوم لرې ته اواز کول او دا ګڼل چې هغه ته خبرتیا شته دې ټولو ته شرک فی العلم ویل کیـږي په داسې حال کې چې قرانکریم فرمایي.( و عـنده مفـاتح الغـیب لا یعلمها الا هو ویعلم) انعام ۵۹

ژباړه: او له همغه سره د غـیـبو کونجیانې دي په هغې هیڅوک نه یوهیـږي مګر همدې الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٦ـ شرک فی التصرف**

يو څوک د ګټې او زيان واکدار ګڼل له چا نه خپل مراد غوښتل روزي يا اولاد ورنه غوښتل او حال دا چې قرانکريم فرمايي.( قل من بيده ملكوت كل شى و هو يجيرولا يجار عليه ان كنتم تعلمونَ سيقولون لله قل فانى تسحرون) مومنون ۸۸ ـ ۸۹

ژباړه: يعنى ته ووايه د هر شي واک د چا په لاس کې دى او هغه بچ کوونکى دى او له هغه څخه هيڅوک نه شي بچ کيداى وواياست که تاسو پوهيږي وبه وايي هر څه الله لره دي نو ووايه! له کومه پرتاسو جادو کيږي چې هوش او حواس مو له لاسه ورکړى او په داسې غټو غټو خبرو هم نه پوهيږى.

**۷ـ شرک فی السمع**

لکه څرنګه چې الله تعالى لرې او نږدې پټه او ښکاره او د زړه خبره اوري، نبي ولي يا بل څوک همدا ډول اوريدونکې ګڼل په قرانکريم کې راغلي دي.( ان الله هو السمع البصير) مومن ۲۰

ژباړه: بيشکه الله تعالى همدې اوريدونکى او ليدونکى دى.

**۸ـ شرک فی البصر**

د مخلوق پيغمبر، ولي، شهيد، او يا د نورو په هکله دا عقيده لرل چې هغوى له لرې او نږدې او هرځاى څخه د الله تعالى په شان ليدل کوي او هر چيرته زموږ کارونه ويني دا عقيده د شرک ده په دې اړه دليل په شرک السمع کې وړاندې شوى دى.

**۹ـ شرک فی الحکم**

يعنى د الله تعالى په څير کوم بل څوک حاکم ګڼل او د هغه حکم د الله تعالى د حکم په شان ګڼل يا د الله تعالى د حکم په مقابل کې د بل چا حکم خوښ ګڼل دي ته شرک فى الحکم وايي. په قرانکريم کې راغلي دي.( ان الحکم الا الله) يوسف ۴۰

ژباړه: حکم د بل هيچا نه دى مګر د يو الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***۱۰ـ شرک فی العبادت***

یعنی د الله تعالی په ځیر کوم بل څوک د عبادت وړ ګڼل یا کوم مخلوق ته د عبادت په ډول کوم فـعـل تر سره کول لکه کوم پـیـر یا قـبـر ته سجده کول یا د کوم نبي ولي یا د پـیـر په نوم روژه نیول یا د غیـرالله په نوم نذر منل یا د کوم قبر نه د بیت الله په شان طواف کول د غـیر الله په نوم د څاروي سرپریښودل په زیارتونو د نذر څادر غـوړول د چا په نوم ذبحه کول تـعـزیه د چا په نوم فریاد کول چا ته ټـیـټـیـدل یا چاته د بت په شان په ادب دریدل دا ټول شرک فی العبادت دي په داسې حال کې چې قرانکریم فرمایي.( و اعـبدوالله ولا تشرکوا به شیاء) نساء ۳٦

ژباړه: بنده ګي د الله تعالی وکړئ او څوک ورسره مه شریکوي.

## د غـیر الله په نامه نذر

د الله تعالی نه غـیر د مخلوق ( نبی، پیـر، پیـري، بادشاه، زیارت) او د داسې نورو په نوم تعظیم او نذر ( حلوا پسه چیلی او داسې نور ورکول او تقسیمول) ته فعلي شرک وایي او په شرک فی العبادت کې هم شامليـږي او حرام دی او هغه مالونه چې د مخلوق په تعظیم او نذر باندې حلال کړی شي د هغه ثواب پر ځای عظیمه ګناه ده دا کار حرام هم دی او د دغې حلال کړی شوي مالونه او نذرونه حلواګانو خوړل هم ناروا دی.

## له کفارو او مشرکیـنو سره مرسته

که څوک د مسلمانانو پر وړاندې له مشرکیـنو سره مرسته او له هغوی سره ملتیا کوي. نو هغه د ایمان له کړی ځخه وځي او پردې خبره دلیل د الله تعالی دا اشاره دی.( ومن یتولهم منکم فاء نه منهم ان الله لایهدی القـوم الظلمیـن)

ژباړه: او تاسې څخه چې څوک دوی خپل دوستان ګرځوي نو دا هم په هغوی کې شمیرل کیـږي او یقیناً الله تعالی ظالمان له خپلې لارښوونې څخه بې برخې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( بشرالمنفـقيـن بان لهم عذابا اليماًَ الذين يتخذون الكفرين اولياء من دون المومنيـن ايبتغون عـندهم العزة فان العزة الله جميعا ) نساء ۱۳۸ ـ ۱۳۹

ژباړه: او هغه منافـق چې مومن پريـږدي او له کافر سره دوستي پيل کړي نو دوی د دردوونکي عذاب زېري ورکړه او يا دا خلک د عـزت پلټـنې لپاره هغوی ته ورځي او سره له دې چې ټول عـزت د الله تعالی لپاره دی.

نو ښکاره شوه چې د مومن په اړه په زړه کې د مينې نشتوالی او د کافر په اړه په زړه کې مينه او د هغه لوی والی د ايمان دليل نه بلکې د کفر دليل دی.

## بدعـت

له کفر شرک او ارتداد نه وروسته بدعـت ستره گناه ده بدعـت هغو شيانو ته وايي چې اصل او بنسټ يې له شريعت څخه ثابت نه وي او د شرعي له ۴ څلورو دليلونو يعنې د الله تعالی له کتاب د رسول الله (ص) له سنتو د امت له اجماع او د مجتهدينو له قياس څخه د هغې ثبوت ترلاسه نه وي او په د دين کار وشميرل شي وکړای شي او يا پريښودلای شي.

اخرت کی درې زيانونه دا دي

۱ـ د الله تعالی نا خوښي.

۲ـ سخت حساب.

۳ـ د دوزخ عذاب.

## عام گناهونه

۱ـ لمونځ نه کول او يا هم په ځنډ (وروسته والی) سره د هغه ادا کول.

۲ـ زکات نه ورکول او يا هم د هغه په ورکولو کې سستي کول.

۳ـ له وس لرلو سره بيا هم حج نه کول.

۴ـ غـيـبت چغـلي او شيطانت کول.

۵ـ د نـشـه يي توکو کارول چې په عـقـل باندې پرده راولي.

٦ـ د ښځې ځان ښودنه قـيـمتي او مشهور لباس اغـوستل او پرته له محرم نه بازار ته راوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ـ فاحش بې حیاء او خراب فلمونه کتل سندرې ساز او سرود اوریدل.
۸ـ ناوړه ناولونه او کیسې اوریدل.
۹ـ پرته له کومې وجې د ډریور مزدور نوکر او بادر کورته ننوتل.
۱۰ـ په موبایلونو کې عبس خبرې کول یارانې او نا مشروع اړیکې جوړول.
۱۱ـ د شر او فساد مجلسونه جوړول او یا په هغه کې ونډه اخیستل.
۱۲ـ ځینې میرمنې هیڅ د خپل د خاوندانو زړونه لاس ته نه راوړي ( هغوی هیڅ نه گڼي او نا فرماني یې کوي.

داسې ډیر نور هم دي خو په موږ لازمه ده چې له الله تعالی څخه وویریږو او د هغه امر پر ځای کړو ځکه الله تعالی فرمایلي.( یایهاالذین امنوا قوا انفسکم و اهلیکم نارا ) تحریم ٦

ژباړه: اې ایمان والاوو تاسې خپل ځانونه او خپل اهل کورنې د جهنم اور څخه وژغورئ.

## د گناهونو ناوړه پایلې

۱ـ د بنده او رب تر منځ پرده الله تعالی وایي.( کلا انهم عن ربهم یومئذ لمحجوبون)

ژباړه: داسې نه ده دوی به په دغه ورځ د خپل رب په اړه په پرده کې پټ شوي وي.

۲ـ مخلوق د خپل خالق په اړه په وحشت کې پرېوځي. ځکه کله چې د انسان بد عملي زیاته شي، نو بد گماني او وحشت یې هم زیاتیږي.

۳ـ تل پاتې اندیښنه الله تعالی وایي.( لایزال بنیاهم الذی بنواریبة فی قلوبهم)

ژباړه: دا ودانۍ چې هغوی جوړه کړې ده، تل به د هغوی په زړونو کې د بې باورۍ جرړه وگرځي ( چې د هغې د ویستلو اوس کومه لاره نشته )

۴ـ په زړه کې ویره او گډوډي پیدا کوي. ( سنلقی فی قلوب الذین کفروا الرعب)

ژباړه: هغه وخت ډیر ژر راتلونکی دی، چې موږ د حق نه منونکو په زړونو کې ویره وغورځوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ـ د ژوند چارې به يې تنګې شي.( فان له معيشة ضنكا)

ژباړه:بې له شکه د هغه ژوند چارې به تنګې شي.

٦ـ مخ به يې تور او تريو شي.( وتسود وجوة فاماالذين اسودت و جوههم)

ژباړه: او تور شي مخونه پس هغه کسانان چې تور شي مخونه د هغوی.

۷ـ په زړه کې به يې سختي او تيارې را پيدا شي.( وجعلنا قلوبهم قاسية)

ژباړه: او د هغوی زړونه موسخت کړل.

۸ـ په زړونو کې کينه او کرکه را پيدا کوي.

۹ـ د رزق له تنګسې سره به مخامخ شي. ( ولو انهم اقاموا التورة والانجيل و ما انزل اليهم من ربهم لاكلوا من فـوقهم و من تخت ارجلهم)

ژباړه: کاشکې دوی تورات او انجيل او هغه نور کتابونه نافـذ کړي وای چې د دوی رب له لوري دوی ته ليـږل شوي وو، که داسې يې کړي وای، نو د دوی لپاره به له پاسه روزي وريدله او له لاندې به راخوټيد له.

۱۰ـ په ګناهونو سره ايمان ته زيان رسيـږي، غـمونه او مصيـبتونه زياتيـږي او الله تعالی پرې غـوسه کيـږي.( فباءو بغـضب علی غـضـب)

ژباړه: پس اختـه شول په غـضـب له پاسه د غـضـب نه .

هغوی وويل.( و قالوا قلوبنا غـلـف)

ژباړه: هغوی وايي. زموږ زړونه پوښل شوي دي.

## حرام

د حضرت جابر (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) وفرمايل. هغه غـوښه چې د حرام مال نه يې پرورش شوی وي هغه به جنت ته داخله نه شي او دغه غـوښه ( جسم چې د حرام مال نه يې پرورش شوی وي د دوزخ لايقه ده) يعنې خامخا به جهنم ته ځي. بهيقي

د دې حديث لاندې هم ډېر خلک راځي لکه: غـل، قمار وهونکي، شرابي، چرسي، تصوير جوړونکي، رشوت اخيستونکي، زناکار، سود خور، يا په تجارت کې ټول هغه څيزونه چې هغه په شريعت کې حرام وي او د ده کارو بار په حرام باندې جاري وي او کوم مسلمان چې په حرامو باندې اخته وي د هغه لپاره بهتره دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې توبه وباسي او کوم مال چې شتون ولري هغه دې د يو پوه عالم په مشوره باندې تقسيم کړي هغه چې ورته کومه طريقه ښائي په هغه دې عمل وکړي او د حراموڅخه دې ځان وژغوري الله تعالی به ورته بخښنه وکړي.

د حضرت علي (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) نه پوښتنه وشو چې د مومن څو نښې دي؟ رسول الله (ص) ورته په ځواب کې وفرمايل چې ۴څلور.

۱ـ دا چې پاک کړي خپل زړه د تکبر او د حسد نه.

۲ـ دا چې پاک کړي د خپل ژبه د دروغ او غيبت نه.

۳ـ دا چې پاک کړي د خپل عمل له رياء (ښودلو) نه.

۴ـ دا چې پاکه کړي د خپل خيټه د حرامو بدعت او شبهې نه.

## حلال او حرام مال يو امتحان دی

الله تعالی چې څنگه مخلوقات پيدا کړي دي همداراز د دوی د روزي ذمه واري يې هم اخيستې ده څوک داسې نه پريږدي چې هغه ته دې روزي ور نه کړي که څه هم د الله تعالی لوی دښمن او له هغه څخه سرغړونکی او نافرمان هم وي دا ځکه چې الله تعالی ته دنيا اعتبار نه لري نو له همدې امله دوست او دښمن دواړو ته رزق ورکوي له څنکه چې په حديث شريف کې دا خبره بيان شوې ده.( عن سهل بن سعد الساعدي (رض) قال! قال رسول الله (ص) لوكانت الدنيا تصدل عندالله جناح بعوضة ماسقى كافرا منها شربة ماء ) رواه الترمذی ژباړه: له حضرت سهل بن سعد الساعدي (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) و فرمايل که دنيا د الله تعالی سره د غوماشي د وزر په اندازه قدر لرلای نو کافر ته به يې له دې څخه يو غړپ او به هم نه وای ورکړې. لکه څنگه چې روزي ورکول د الله تعالی کار دی. همداراز پراخول او تنگول هم د الله تعالی کار دی نو د روزي پراخوالی او د مال زياتوالی د هوښيارتيا نښه ده بلکې ډير ځله بيعقلان خلک وي او تر هوښيارانو زيات مالونه لري غرض زما دا وو چې د انسان اصلي مقصد په دنيا کې د مال گټل او د پيسو زياتول نه دي بلکې د الله تعالی پيژندل او د هغه راضي کول او د هغه د احکاماتو په مطابق ژوند تيرول. دې دنيا ته چې انسان راغلی دی د ده راتگ ازمايښت او امتحان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره دی او الله تعالی غواړي چې په انسانانو کې تابعـدار او نا فـرمان ښکاره کړي.

همداراز د روزي د گټلو په هکله هم پر انسانانو امتحان کوي. ځینې شیان الله تعالی حرام کړي او د روزي د گټلو ځینې لارو څخه یې منع کړی ده. همداراز ځینې شیان یې حلال کړي او د هغو د گټلو لپاره طریقـې او حدود تعـین کړي دي بیا یې انسان ته اختیار ورکړی د.

( د دې وعـدې سره سره چې روزي الله تعالی ورکوي) چې دې د روزي د گټلو لپاره په کومو طریـقـو او لارو روانیـږي کومه ذریعه د مال گټلو لپاره اخـتیـاروي او په کومه طریـقه کار بار کوي او بل امتحان یې د مال په هکله دا دی چې حرام مال یې ډېر کړی دی د حرام مال مثال د مردار شوي حیوان په څیر دی چې چاته قدر او ارزښت نه لري چې په کور کې یې ساتـنه هم څوک نه برداشتوي بلکې له ځانه یې لرې کوي او غـورځوي یې.

همداراز د حرام مال مثال هم داسې دی لکه الله تعالی چې غـورځولی وي که یې څوک اخلي نو تر حلال مال به په اسانه تر لاسه کیـږي او الله تعالی ته د مردارې په څیر هم قدر نه لري ځکه ترې خیراتونه هم نه قبلوي له دې امله انسان باید خپل د ژوند اصلي هدف ته ځیر شي او د روزي د گټلو لپاره هغه لارې اختـیار کړي چې صحیح او روا وي لکه دین د ۵ پنځه وخته لمانځه نوم نه دی بلکې د انسان لپاره ضروري ده چې د ژوند په ټولو اړخونو کې به د شریعت پابندي کوي.

د شریعت ډېر احکامات د معاملو سره تـعـلـق لري د دې یو دلیل دا دی چې هدایه زموږ د مذهب معتبر کتاب دی چې په ۴ څلور جلدونو کې دی په دې مبارک کتاب کې د انسان د عمل سره تـعـلـق لرونکي تـقـریباً دیني احکامات ذکر دي په دې کې یوازې لومړنی جلد د عباداتو ( اودس، لمونځ، زکات، او حج) په هکله دی نور ۳ درې جلدونه یې ټول د معاملو په هکله دي له دې څخه دا خبره جوتیـږي چې یوازې د عباداتونو په کولو سره په دین پوره عمل نه کیـږي تر څو چې خپلې معاملې د شریعت په مطابـق نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له حرام مال څخه صدقه او خيرات نه قبليږي

په حديث شريف کې دی.( لا تقبل صلاة بغير طهور ولا صدقة من غلول) ژباړه: له پاکوالي پرته لمونځ نه قبليږي له حرام مال څخه صدقه او خيرات نه قبليږي.

الله تعالی لکه څنګه چې يوازې پاک مال قبلوي همدارنګه په عمل کې هم يوازې پاک قبلوي چې د هر ډول شرک رياء او تکبر څخه پاک وي. د پاک مطلب دا دی چې حلال وي په دې حديث کې دليل دی په دې خبره چې انسان ته په خوراک باندې هم ثواب ورکول کيږي چې کله يې نيت صحيح وي چې داسې نيت وکړي دا خوراک ځکه کوم چې په عبادت باندې پياوړی شم او ژوندی پاتی شم.

## دين څه ته وايي

څوک چې موږ مسلمان بولو هغه په دين سره بولو ځکه هغه به ټول دين مني بيا به په اسلام کې داخل بلل کيږي او مسلمان ورته ويل کيږي دين په معنی کې دوه مفهومه له ځان سره انتقالوي ايمان او اسلام حضرت امام ابوحنيفه (رح) په فقه اکبر کې ايمان داسې تعريفوي هوالاقرار والتصديق.

ايمان عبارت دی له اقرار په ژبه او تصديق په زړه سره او اسلام عبارت دی له الاسلام هو التسلم والانقيادلاو امرالله تعالی. اسلام عبارت دی له تسلمی او غاړه کيښودولو څخه او امر د الله تعالی ته. امام ابو حنيفه (رح) وروسته له دې تعريف څخه ليکي ايمان او اسلام له طريقي د لغت سره توپير لري ځکه هر يو جلا جلا تعريفونه لري وايي ايمان بې له اسلام څخه نشي راتلای ددوې دوو تر منځ تلازم دومره پياوړی ده لکه د انسان ګيډه چې بې له شا څخه نشي قايم کيدلای او شا بې له ګيډې نشي راتلای. دا هغه مثال ده چې په عربي ژبه کې ددوو شيانو تر منځ د قوي تلازم ښودولو لپاره استعماليږي. امام ابو حنيفه (رح) فرمايي. چې دين د اسلام او ايمان د دواړو نوم ده. فقه اکبر صفحه ۱۱. دين له څلورو کلمو څخه جوړ ده داسي کليمي چې يو هم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلي څخه نشي جلا کيداى او نه هم له دې کليمو څخه يو هم کم دين بلل کيږي په دې معنى چې د څلورو واړو کليمو نوم دى هغه څلور کليمي دا دي.

١ـ اقرار: د کلمي طيبي شريفي په ژبه لوستلو ته وايي.

٢ـ تصديق: د همدغه کلمه په مفهوم او معنى باندې د زړه پوخ باور او يقين ته وايي.

٣ـ تسليم: عبارت ده له د الله تعالى د احکامو منلو څخه.

۴ـ انقياد : د الله تعالى د احکامو او حکم پر وړاندې تواضع او عاجزي ته ويل کيږي.

## ريښتني دين

١ـ اسلام نه د بودايي مذهب په ډول دى چې صرف محدود اخلاقي د ستورونه ولري نه رهبانيت دى چې په کې په عبادت د دنيا څخه تيښته اسلام انسان په څو محدودو شعايرو لکه ورځ کې لمونځ په کال کې روژه او په ټول عمر کې حج مکلف کړى دى د دې لپاره چې انسان تل د خپل خداى سره په اړيکه کې وي وروسته هغه رخصتوي چې په ځمکه کې کار کوي او د الله تعالى نعمتونه په لاس راوړي.

٢ـ د اسلام له نظره انسان نه يوازې اسماني روح ده او يوازې خاورين جسد دى بلکې د روح او جسد يو ځاى کيدو څخه منځ ته راغلى چې هم جسم او هم روح پر هغه خاص حق لري اسلام د دنيا او اخرت دواړو ژوند ته په ارزښت قايل دي ژوند په دين نيکمرغه کيږي او اخرت په دنيوي ژوند جوړيږي.

٣ـ د قاروني او فرعوني فکر څخه بله لويه بلا نشته هغه وخت چې انسان خپله برتري خپل کمال وبولي د خداى او د خداى له خلکو څخه د بې نيازۍ احساس کوي خپل صفتونه نهويني د خپل ځان څخه بيگانه کيږي د نورو مثبت نقش نه ويني په پايله کې د خداى خداي او د خداى خلکو څخه بيگانه کيږي.

۴ـ د ابتداء څخه فلسفي او مکتبونه په دې اړه سرگردانه دي چې ايا فرد اصل دى که ټولنه؟ ځينې فرد اصل بولي ټولنه د افرادو څخه جوړيږي فرع بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نور بیا ټولنه اصل او فرد فرع بولي او وايي چې فرد بې له ټولنې څخه خام مواد دی ټولنه او خلک فرهنګ ته ور انتقالوي.

۵ـ په اسلام کې د ژوند تګلاره فطري ده نه فرد د ټولنې او نه ټولنه د فرد قرباني کوي د دواړو حقوق او مسؤليتونه په داسې حالت کې ساتي چې د بل لپاره ګټور تماميږي اسلام د فرد پر حقوقو او آزادي تاکید کوي تر څو هغه مسؤليتونه د ټولنې په وړاندې په سمه توګه سر ته ورسوي.

## څوک ريښتني دی

د يو چا دينداري او تدين د رښتياوالي نښې د هغه په اخلاقو او ټولنيزو معاملاتو او راکړه ورکړه کې ښکاره کيږي. يعنی د يوه ديندار که اخلاق ښايسته و او له خلکو سره ناسته ولاړه هم صحيح و نو دې رښتني ديندار بللی شو او که يو څوک په ځينو عباداتو او خبرو کې ځان ديندار ښکاره کوې خو اخلاق او ټولنيز چلند يې سم نه وي نو مونږ دې رښتنی نشو بللی ځينې داسې خلک شته چې هغې ځانونه ډيره ديندار ښکاره کوي نفلونه خيراتونه او ښې ښې خبرې کوي خو اخلاق او له خلکو سره يې ټولنيز چلند سم نه وي داکس ديندار او نيک نشو بللی بلکې دروغجن دی د ديندار انسان د پيژندلو لويه نښه د هغه ټولنيز اخلاق دی موږ نن سبا مختلف انسانان او ډيرې ډلې وينو څوک وايي موږ په حقه يو او ځينې نور وايي زموږ لاره حقه ده که چيرته تاسو په دې حالاتو کې نه پوهيږي. او حيران دريان پاتې ياست چې ټول ځانونه په حقه بولي موږ له چا سره ملګري شو رښتني خلک څوک دي؟ ستاسو لپاره د ريښتنو خلکو د پيژندلو اسانه لاره دا ده اخلاقو ته يې ځير شي! هر ځای مو چې ښه اخلاق غوره وموند او هلته رښتنی علم او رښتنی دين دی او که هرڅوک ښه اخلاق او غوره انساني چلند ونه لري په دين او علم يې باور مکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپل دین وساتئ

د الله تعالی د رسول څخه چا پوښتنه وکړه چې څوک ښه مسلمان دی؟ رسول الله (ص) ورته و فرمایل: هغه چې د ژبې او لاس څخه یې بل مسلمان په امان وي.بخاري

په ننۍ نړۍ کې د خلکو برداشت د یو بل پر وړاندې لږ شوی او ډیر لږ خلک یو د بل سره په ورین تندي خبرې کوي حصوصاً ټولنیز پاڼو باندې لکه فیسبوک ټویټر او داسې نور.... کیدای شي تاسو هم لیدلای وي چې ځینې ملګري قومي ژبني مذهبي او سیاسي پاڼې لري چې نه یوازې کومه خاصه ګټه لري بلکې د نفاق لامل ګرځي. په داسې حالاتو کې تر ټولو اړینه دا ده چې د خپل دین او ژبې ساتنه وکړو. ډیره اسانه ده چې په فیسبوک باندې د چا پر پوسټ باندې په قهر شو چې نه یوازې مو خوږ ملګري له لاسه ورکړی بلکې نا مناسبو الفاظو مو نور ملګري هم خوږ کړي نه یوازې چې ملګري به مو خپه کړي وي د شر بنسټ به مو هم ایښی وي هرڅوک چې ستاسو بده لیکنه ګوري او شریکه وي یې تاسو به ګناهګاره کیږي. فکر وکړئ د یوې لحظې غوسه په خاطر ولې خپل اخرت خراب کړو؟

په همدې باب د الله تعالی رسول (ص) فرمایلي. غښتلی هغه نه دی چې بل راوغورځوي بلکې غښتلی هغه دی چې د غصې په حال کې خپل ځان کنټرول کړ.

## عملي دین پریښودل

او هغه کسان چې د الله تعالی له دین څخه مخ اړوي ( نه دین زده کوي او نه پرې عمل کوي) او نه یې کومه اړتیا انګیري او په راتلونکي کې د دین د زده کړې او ښوونې څه فکر هم نه لري، نو هغه مسلمان نه دی ځکه چې الله تعالی فرمایي.( ومن اظلم ممن ذکر بایت ربه ثم اعرض عنها انا من المجرمین منتقمون) السجده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له هغه چا لوی ظالم څوک دی، ورته د الله تعالی ایت ولوستل شي او هغه ترې مخ واړوي او بیشکه موږ له مجرمانو څخه غچ اخیستونکي یو.
( وقال الرسول یارب ان قومی التخذوا هذا القران مهجوراً)
ژباړه: « د قیامت په ورځ به» رسول الله (ص) وایي ای زما پالونکیه! دا زما د قوم هغه خلک دي چې دوی قران مجید پریښی وو.
رسول الله (ص) فرمایي.( فمن ترکها فقد کفر النسای الصلوة)
ژباړه: چا چې قصداً لمونځ پریښود نو کافر شو.
او همداشان وعید د زکات د پریښوونکو په اړه هم دی او همداراز وعید د حج او د جهاد پریښودونکو ته هم دی چې د دې کار کوونکي ( پریښوونکي) هم له ایمان څخه راوځي او د دې وړ دی چې مسلمانان ورسره جنگ وکړي.
د کار پیل
۱ـ پیغمبر (ص) د خپل بنسټیزې اصلاح کار له دې ځایه پیل کړ تر څو انسانان د الله تعالی مطیع بنده ګان جوړ شي هغه دا ونه کړه چې په ټولنه کې لومړی داسې څه کارونه وکړي چې په خلکو کې اثر ورسوخ پیدا کړي او بیا حاکمیت ترلاسه کړي او په قراره قراره خلک دغه مقام ته ورسوي.
۲ـ هغه یو کس پورته شو او د لاله الا الله اعلان یې وکړ. د توحید عقیده یوازې یو مذهبي عقیده نه ده بلکې د همدغې عقیدې پر بنسټ د یوه مکمل نظام مانۍ جوړیږي چې په هغه کې حاکمیت او الوهیت یوازې د الله تعالی لپاره وي.
۳ـ کله چې یو موذن د اشهدان لا اله الا الله لوړ غږ پورته کوي مقصد او معنی یې دا ده چې زه د هیڅ چا حکومت قانون او عدالت نه منم او د هیچا تابع نه یم هیڅ رسم او رواج او تقدس نه منم بې له یو الله تعالی څخه ډیر خلک دا وخت د دې په معنی او مقصد نه پوهیږي.
۴ـ خو کله چې رسول الله (ص) دا غږ پورته کړ او اوریدونکي یې په مقصد پوه شول نو منجاورانو، ریسانو، پاپانو، قومي، مشرانو، نیکه پالانو او د هربت پالونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل بت د ماتیدو د خطر احساس وکړ او د دې نوي تحریک د لمنځه وړلو لپاره یې لاسونه سره یو کړل دا د کفر ملت واحد مصداق وو.

۵ـ د پیغمبر (ص) لور ته هغه کسان راغلل چې ذهنونه یې پاک حقیقت یې درک کړی و د همدغه حق څخه د دفاع په خاطر اور ته د غورځیدلو لپاره هم تیار شول همداسې خلکو ته د تحریک اړتیا وه هغوی زیات تکلیفونه وګالل کومو چې هغوی ته پوځوالی وروبخښه په پایله کې د ادم (ع) د نسل غوره جوهر د ګرم تنور څخه راووت.

## د کار ویش

الله تعالی چې کوم فطري نظام جوړ کړی دی په هغه باندې د زرو کلونو راهیسې عمل روان دی د مذهب او ملت له بندیز پرته د نړۍ هر قوم په هر مذهب او ملت کې دغه طریقه رواج ده چې سړي له کور نه د باندې مسّولیت پوره کوي او میرمن د کور دننه چاري برابروي رسول الله (ص) چې کله د خپلې لور د حضرت فاطمې (رض) نکاح له حضرت علي (رض) سره وکړه نو د هغو په منځ کې یې داسې تقسیم وکړ حضرت علي (رض) ته وویل چې ستا کار ګټه کول دي او له کور د باندې ولاړشه او ګټه وکړه او حضرت فاطمې (رض) ته یې وویل چې ته به کور کې دننه اوسه د کور چاري پر مخ بیایه. دغه فطري ویش یې د هغو په منځ کې کړی و چې تر سلګونو کلونو راهیسې په اسلامي ټولنه کې همداسې را روان دي.

## د کار ځانګړتیا

۱ـ د کار کولو لومړی واجب: پر هر مسلمان دا واجب دي چې مباح کار اختیار او د حرام کار څخه ډډه وکړي په اسلام کې د حلالو دایره خورا پراخه ده او د حرامو دایره ډیره کوچنۍ ده عقلي او نقلي دلایل د ۵ پنځو ضروریاتو پر ساتنه ډیر ټینګار کوي هغه لکه: دین، نفس، نسل، مال، او عقل او ځینې ناموس هم ورسره ملګری کوي د حلالو او حرامو پوهه هم د دې لپاره راغلې چې د دغو ۵ پنځه ضروریاتو ساتنه یقیني کړل شي. هر هغه کار چې د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵پنځه ضروریاتو د نړیدو لامل ګرځي او یا یې د حرام والي لپاره لاره پرانیزي هغه حرام دی.

۲ـ د کار کولو دوهم واجب: اهلیت د کار دی هغه کار باید څوک ونه کړي چې ښه یې زده نه وي. د شعیب (ع) لور موسی (ع) په ۲ دوه صفتونو موصوف کړ اهلیت او توانایي د کار او ښه اخلاق چې د هغه امانتداري وي یوسف (ع) وویل د هیواد خزانې ما ته وسپارۍ زه ساتونکی او هم عالم یم. د یوه انسان لپاره روا ده کله چې نور خلک یې نه پیژني نو د ضرورت له مخې خپل صفات ور وښیي.

۳ـ د کار لپاره لاندې شرایط ضروري دي.

۱ـ د کار کولو وخت باید په ډول و پیژندل شي تر څو کار کوونکی یې په سالمه توګه سر ته ورسوي.

۲ـ اخلاق او د کار وړتیا کاریګر باید یو کار داسې سر ته ورسوي لکه خپل شخصي کار چې سرته رسوي. څوک چې سپارل شوي کار په ښه توګه سرته ورسوي دا دهغه لپاره صدقه ده الله تعالی به یې پوره بدله ورکړي.

۳ـ په ژمنو وفا د کاریګر د کار ښتن دا حق لري چې پخپلو ژمنو وفا وکړي کومې چې د عهد په وخت کې کړي دي. رسول الله (ص) فرمايي. ګټه باید په ضمانت وي نه به ځان ته ضرر رسوي نه بل ته.

۴ـ حساب ورکول بشري نفس که پخپل سر پریښودل شي حتماً په فتنو اخته کیږي له دې سببه د هر چا څخه باید حساب واخیستل شي. اسلام د انسان لپاره ۲ دوه مراقبین ټاکلي دي لمړی ایماني ارشاد دوهم د قانون واکمني، رسول الله (ص) به له خپلو والیانو او مامورینو سره پوره محاسبه کوله او حضرت علي (رض) فرمايي. پرته له دین نه د خلکو چارې نه سمیږي.

۴ـ رسول الله (ص) فرمايي. ستاسې څخه مخکې ملتونه په دې هلاک شول کله چې به د زور خاوند غلا وکړه هغه به یې پریښودل او که به کمزوري غلا وکړه هغه ته به یې سزا ورکوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسلمانان او کار کول

۱ـ اسلام کار کول د روزي لمړۍ وسیله ګڼلې ده او هم یې د تولیداتو اساسي سبب بللی ده د مسلمان د کار د پراختیا په اندازه د هغه ګټه زیاتیـږي څومره چې د کار او کسب دایره پراخیـږي دغه رنګه یې ثواب هم زیاتیـږي او ورسره فـرصتونه او اسباب ډیریـږي قرانکریم مومن ته دا احساس ورکوي چې ځمکه خورا پراخه ده او د کسب زمینه زیاته ده د ده عـزم او رغـبت مخې ته هیڅ نه شي راتلای دې کولای شي د ټولو فـرصتونو او رخصـتیـو څخه ګټه واخلي صرف د حلالو او حرامود حدود څخه تیری ونه کړي.

۲ـ انسان په فطري توګه کار کول غـواړي تر څو خپل احتیاجات پوره کړي. اسلام دغه اراده نوره هم پیاوړې کوي ځکه حلال کسب له ایمان څخه نه بـیلیـږي. رسول الله (ص) فـرمایلی دي. تر ټولو غـوره خوراک هغه دی چې انسان خپله ګټلی وي. او د حلالي روزي ګټل د فـرضو څخه وروسته فـرض دی. رسول الله (ص) سوال غـوښتـل منع کړي دي حصوصاً د هغه چا لپاره چې د کار توان ولري همدارنګه قـرار کـیـناستل او یوازې د دین په چارو کې فکر کول منع کړي دي. او دا یې هم ویلي دي هغه څوک چې د کار کولو توان ولري زکات مه ورکوئ ورته.

۳ـ په اسلام کې د اقـتصاد د ودې او د ژوند د ترقي سبب دا دی چې اسلام د کسب او د هغه په ښه زده کول ټیـنګار کوي او خلک یې مضـاربت، مشارکت، زراعـت او مساقات ته هڅولي او په مقابل کې یې د مال د ذخیره کولو سود، او احـتـکار څخه منع کړي دي.

۴ـ بریالۍ ټولنه هغه ده چې د خپل افـرادو لپاره موازن فـرصتـونه برابر کړي تر څو د هر انسان څخه ګټه واخلي. په دغـو چارو کې اسلام د فطري قانون او لوړو اخلاقـو پر کړنلاره روان دی لومړۍ اسلامي ټولنه همداسې وه هر چا به د خپلې خوښې استعداد مطابق کار سرته رساوه. کار به اهل کار ته سپارل کیده یو له بل سره همکاري او نصحت کول ډیر عام و. د شعیب (ع) لور خپل پلار ته وویل چې موسی (ع) مزدور ونیسه کیدای شي چې هغه قـوي او امانت کاره وي. رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله (ص) فـرمايلي دي. کله چې د چارو واگی نا اهـلـو خلکو ته وسپارل شي نو د قيامت انـتـظار باسئ.

کار اهـل خلکو ته سپارل د کار لپاره زمينه برابرول او خپل منځني همکاري ټولنه د پرمختگ لور ته بيايي او هم انسانان خپل واجبات سر ته رسولای شي. نن په ماده پرسته ټولنو کې د ازاد رقابت په بهانه کمزوري خلک تر پـښـو لاندې وي او د اقـتـصاد فعاليت له ډگر څخه ويستل کيـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځلیکونه

۱ـ تفسیر شریف، لیکوال دوکتور عنایت الله خلیل هدف، د چاپ کال ۱۳۹۰ هجري

۲ـ کفری الفاظ، لیکوال مفتی عبدالشکور قاسمي، ژباړن ډاکتر کفایت الله وردګ، د چاپ کال ۲۰۰۸ م

۳ـ ننۍ نړۍ او اسلام، لیکوال قاضی احمد شاه سلیم، د چاپ کال ۱۳۸۷ ل، میهن خپرندویه ټولنه

۴ـ اسلامي نړۍ لیدلید، مولف پوهندوی محمد شریف رحماني، د چاپ کال ۱۳۹۶ ه ل، سلام خپرندویه ټولنه

۵ـ د اسلام څلور بنسټونه، لیکوال ډاکټر ملک غلام مرتضی، ژباړن فرید احمد هلال، د چاپ کال ۱۳۸۸ه ل، مومند خپرندویه ټولنه

٦ـ اسلامي عـقيدې ارکان، لیکوال مولوی عـتیـق الله ثاقـب،د چاپ کال ۱۳۹۵ه ل،سلام خپرندویه ټولنه

۷ـ مه خپه کیـږه، لیکوال دوکتور عایض بن عبدالله القرنی، ژباړونکی مولوی غیاث الدین حسان، ابواسدالله ندیم، او مولوی محمد غنی فاروقی، د چاپ کال ۱۳۹۳ل ګودر خپرندویه ټولنه

۷ـ اصلاحی پیغامونه، مولف شیخ القران والحدیث مولوي محمد ګل وهاج روداتي، د چاپ کال ۱۳۹۲ دعـوت خپرندویه ټولنه

۸ـ اصلاحی ویناوې، لیکوال مفتی محمد تـقی عثماني، ژباړن مفتی محمد اکبر عظیمی، دچاپ کال۱۴۳۳ رمضان نفـیـس خپرندویه ټولنه

۹ـ د کامیابی راز، لیکوال مولانا احمد شاه (رساله)

۱۰ـ عیسی (ع) په اسلام او عیسایت کی، لیکوال مولوی عصمت الله عـزام

۱۱ـ کینه مه کوي، لیکوال تقرر مفتی محمد تـقـی عثمانی

۱۲ـ اسلام د ژوند نظام، ناشر (خپرونکی) جمعت اصلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳ـ د معاشری اصلاح، تالیف حضرت مولانا عاشق الله، نظر ثانی شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالصبور حقانی، ناشر رحمن گل پیلشرز مله جنگی قصه خوانی پشاور

۱۴ـ انټرنیټ، د روښنګري ډاکټر عبدالهادی متین پاڼه، او داسی نور اسلامي پاڼې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**